د مصر عربي جمهوریت

د اوقافو وزارت

# د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د احادیثو په مقاصدو باندي پوهه

**چمتو کوونکی**

**پروفیسر دکتور محمد مختار جمعه**

**د اوقافو وزیر**

**د اسلامي چارو د عالي شورا مشر**

**او د اسلامي څېړنو د مرکز غړی**

**ژباړه**

**امان الله حیدرشاه**

**۱۴۴۰هـ/ ۲۰۱۸م**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

{وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ
وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا}

«څه چي پېغمبر صلی الله علیه وسلم تاسي ته
درکوي، هغه واخلئ؛ او له څه شي څخه چي تاسي منع
کوي، له هغه څخه منع شئ»

(الحشر: ٧)

## بسم الله الرحمن الرحیم

## سریزه

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على خاتم أنبيائه ورسله سيدنا محمد بن عبد الله، وعلى آله وصحبه ومن تبع هداه إلى يوم الدين.

وبعد:

ځینې داسې خلک شته چې د نصوصو ظاهري بڼې ته ګوري او د حرفي معنی څخه نه ووځي چې پدې ډول د نصوصو په مقاصدو او موخو باندې ځانونه نه پوهوي، دوی پدي سره خپل ځانونه او هغه څوک چې دغه مفهوم ورباندي مني سختي او مشقت سره مخامخ کوي او پدي سره دوی د فقي او نبوي احادیثو په مقاصدو باندي نه پوهیږي ځکه چې نبوي احادیث حکمت او آساني له ځانه سره لري څومره به خه وه چې دوی پدي پوه شوي وای او خلکو ته یې همدغه مقاصد وړاندي کړي وای که داسي شوي وای نو دغه منفي شکل چې دوی ددغو غلطو مفهومونو او د تفسیرونو له کبله رامنځته کړی دی او دا د ترهګریزو او د تندرو ډلو له کبله او همدارنګه د هغو خلکو د رایه له کبله رامنځته شوی ده چې د جامد فکر خاوندان دي الله جل جلاله دي حسن بصري ته خیر ورکړي او الله دی پري ورحمیږي ځکه هغه ویلی دي یقینا که یو قوم د عبادت غوښتنه کوي او علم پریږدي نو دوی به دي حد ته ورسیږي چې خپلي توري به د محمد صلی الله علیه وسلم په امت باندي وباسي او که چیرته دوی د علم غوښتنه هم وکړي نو داسی کار به ونکري نو مونږ او تاسی ټول دیته اړتیا لرو چې یو روښانه دیني فکر وړاندي کړو چې د اسلامي شریعت د عامو مقصدونو په فهم باندي را وڅرخي.

یقینا علماؤ او په ځانګړي توګه د اصولي فقی علماؤ پدي باندي ټینګار کړی دی چې د شریعت عامه مقاصد ډیر اهمیت لري او پدي

باندي بایډ ډېره پوهه رامنځته شي ځکه چې همدغه مقاصد د دقیق ترازو حیثیت لري چې پرې فتوا او همدارنګه د دیني خطاب د نوښت لاره پري په ګډه سره پرمخ وړل کیږي یقینا زیاتره علماؤ ټینګار کړی دی چې احکام په بشپړه توګه سره د ګټې او د مصلحت رامنځته کوونکې دي او د فاسدو شیانو لري کوونکي دي.

همدارنګه دوی پدي باندي ټینګار کړی دی چې د مصلحت او د ګټې څخه بل هم دا دی چې د شریعت د مقاصدو ساتنه وشي او د شریعت د مقاصدو ساتنه په پنځو شیانو باندي کیږي چې هغه د دین نفس عقل د نسل او د مال ساتنه ده نو هر هغه کار چې د دغه پنځو بنسټونو ساتنه پري رامنځته کیږي هغه مصلحت او ګټه ده او هر هغه کار چې دغه پنځه بنسټونه پري له منځه ځي هغه فساد دی او د مصلحت له منځه وړل دي.

بی له شکه عام مقصدونه چې په نبوي احادیثو کې موجود دی ټول د قرآنکریم عامو مقصدونو سره برابر دي او کله چې مونږ د قرآنکریم او د نبوي احادیثو په مقاصدو باندي ځان پوه کړو نو پدي سره مونږ د خپل دین ټول مقاصد پري لاسته راوړلای شو ځکه چې زمونږ دین بی له شکه بشپړ عدالت رحمت زغم آسانتیا بشریت او انسانیت پکي شتون لري پخوانیو او اوسنیو علماؤ پدي باندي ټینګار کړی هر هغه کار چې دغه لوی مقاصد لاسته راوړي هغه د اسلام د لویو بنسټونو د جملي څخه ګڼل کیږي او هر هغه کار چې ددي سره په ټکر کې وي هغه په واقعیت کې د اسلام سره په ټکر کې دي او د اسلام د مقاصدو او د موخو سره چې په فطرت باندي ولاړ دی په ټکر کې راځي.

زمونږږ علماؤ فقهاؤ له پخوا زماني راپدیخوا بیلابیل بنسټونه او عام مقصدونه د قواعدو په شکل باندي وړاندي کړي چې ځیني یی عام دي او ځیني یی فرعي دي د بیلګي په توګه مونږ ویلای شو چې ټولي چاري

د مقاصدو پوري تړاو لري د وخت په بدلېدو سره احکام بدلېدلای شي په ګټورو شیانو کې اصل جواز دی او په ضرر رسونکې شیانو کې اصل حراموالی دي نه به چاته ضرر رسوي او نه به څوک پرېږدي چې تاته ضرر ورسوي ضرر لری کېدلي شي او ضرر د هغه په څېر ضرر نشي له منځه وړل کېدلي او نه هم د هغه څخه په لوي ضرر باندي کولی شو چې خاص ضرر د عام ضرر د لری کولو لپاره ومنو او لوی ضرر کولای شو چې په لږ ضرر باندي له منځه یوسو او عامه ګټي په خاصو ګټو باندي مخکې دي د فساد له منځه وړل د ګټي د رامنځته کېدو څخه مخکې دي آسانه او ړوکې فساد باندي بایډ لویه ګټه ضایع نشي کله چې دوه مفسد شیان سره په ټکر کې راشي نو په سخت او لوی فساد بایډ په وړوکي فساد له منځه یوړل شي او سختي آساني له ځانه سره لري ضروري شیان ممنوع شیان روا کوي هغه چې د ضرورت لپاره جایز شوي دي په هماغه اندازه بایډ وکارولی شي.

عادت هم یو بنسټ دی هغه چې په عرف سره پیژندل کیږي داسي دی لکه په شرط سره چې یوشي مشروط کړی او منکر کار د هغه څخه په لوی منکر کار نشي له منځه وړل کېدلای او یقین په شک سره له منځه نه ځي نو دا ټول هغه بنسټونه دي چې د فقهاؤ او د علماؤ له لوري ایښودل شوي او هر هغه مسئله چې د عدالت څخه د ظلم په لوري ووځي او د رحمت څخه د هغه په ضد باندي رامنځته شي او د مصلحت څخه فساد لوري ته ولاړ شي او د حکمت څخه عبثیاتو لوري ته نو دا د شریعت څخه بیا نه ګڼل کیږي.

نو د همدي لپاره مونږ او تاسی ټول دیته اړتیا لرو چې د نبوي احادیثو اوسني مقاصد را وباسو چې د اوسني زماني د نوښتونو سره یو شان پرمخ ولاړ شي او خلک د پیغمبر صلی الله علیه وسلم احادیثو ته را نژدي

شي او هغه مفاهیم او تاویلونه له منځه یوسو چې خلک د هغه څخه نفرت کوي او همدارنګه خلک د هغه له کبله د احادیثو او د دین څخه لري کیږي او نږدیوالي پرې نشي رامنځته کیدلای.

نو پدغه چوکاټ کې مونږ دغه کتاب رامنځته کړ ترڅو یو واري بیا د بیلابیلو اوسني اجتهاداتو او د لوستنو لپاره یوه دروازه پرانستلی شي چې پرې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د احادیثو مقاصد پري را وباسو او د علم او د پوهې خاوندان دغه کار ترسره کړي او پدي لړ کې د زماني او د ځای د بدلون او د حالاتو مراعات وکړي او همدارنګه د اشخاصو حالات په نظر کې ونیسي او په نفس وخت کې د اصول فقي او همدارنګه د فقهاؤ نظریات هم په نظر کې ونیسي چې فتوا د زماني ځای او د اشخاصو او د فتوا غوښتونکو په حالاتو سره بدلیدلای شي او همدارنګه پدي باندي مو ټینګار کړی دی چې ښایي په یوه زمانه کې یوه مسأله د یوي ګټي لپاره راجحه وي خو ښایي دا په بله زمانه کې بیا مرجوح وګرځي ځکه چې د دغه زماني حالات بدل شوي وي او د ګټي او د مصلحت لاره هم بدله شوی وي نو ښایي هغه کار چې ټولو پري په یوه زمانه کې فتوا ورکړي وي او په یو چاپیریال کې موجود وي او د یو ځانګړي حالت له کبله رامنځته شوی وي نو ښایی بله فتوا د زماني په بدلیدلو سره ددي څخه راجحه شي ځکه چې چاپیریال یا حالات بدل شوي وي خو دا ټول بايد د معتبرو شرعي دلیلونو په رڼا کې ترسره شي او همدارنګه د شریعت عام مقاصد په نظر کي ونیولی شي او همدارنګه دا په نظر کي ونیولی شي چې آیا دغه کار چې صادر شوی د علماؤ او د فقهاؤ او د مجتهدینو څخه صادر شوی دی؟.

پدغه لړ کې ما هڅه کړي ده ترڅو بیلابیل د پلي والي نموني او بیلګې د نبوي احادیثو وړاندي کړم چې د اوسني زماني سره تړاو لري او

پدي سره مي هڅه کړې ده ترڅو پدغه ډګر کې د بېلابېلو څېړنو لپاره لاره هواره کړم او لږ تر لږه د خلکو پام دېته راو اړوم چې د نصوصو او د احادیثو او د ثابتو دلایلو په لوستلو کې باید د فکر او د عقل څخه کار واخلي او همدارنګه د نص او د هغه شاوخوا د دغه نص د شرحي حاشیه او د عامو او د ځانګړو رایو ترمنځ توپیر وکړي ځکه چې مونږ نشو کولای چې شرحي او د یو چا عام او خاصي رایي ته د نص سپېڅلتیا ورکړو او نه هم دا کولای شو چې بدلېدونکو دلایلو ته د ثابتو دلایلو جامه ور واغوندو.

زه د الله جل جلاله څخه هیله او امید لرم چې په هغه څه کې چې ما پیل کړي د پوره کولو توفیق راکړي او پدي سره زه وکولای شم چې د دیني نوښت د مسایلو څخه یوي مهمي مسئلي باندي په رڼا اچولو کې په ښه ډول سره برخه واخلم.

الله جل جلاله د هر چا په نیت باندي پوهیږي او هغه دي مونږ او تاسو ته توفیق راکړي او زمونږ دي مرستندوی شي.

**پروفیسر استاذ دکتور محمد مختار جمعه مبروک**

**د اوقافو وزیر**

**د اسلامي چارو د عالي شورا مشر**

**او په ازهر شریف کې د اسلامي څېړنو د مرکز غړی**

# لومړنۍ مبحث

## د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په هکله

## د قرآن کریم وینا وي

## د نبي كريم صلی الله علیه وسلم په هکله
## د قرآن كريم وېناوې

قرآن شريف د نبي كريم صلی الله علیه وسلم د مرتبي اخلاقو او د نيكو خويونو په هكله ښكاره خبرې كړې دي، هغه د رحمت نبي دی لكه چې الله تعالی فرمائي: «وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَٰلَمِينَ»[١] ژباړه:« اې محمده صلی الله علیه وسلم موږ د ټولو مخلوقاتو لپاره ته رحمت لیږلی یې»، په بل ځای کې فرمايي:« فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ»[٢] ژباړه:«اې پېغمبره صلی الله علیه وسلم دا د الله لوی رحمت دی چې ته ددې خلكو لپاره ډېر نرم خويه جوړ شوی يې، كه داسي نه وای او ته توند خويه او سخت زړی وای، نو دا ټول به ستا له شا وخوا څخه خواره شوي وای، د دوی خطاوي وبښه، د دوی لپاره بښنه غواړه؛ او د دين په چارو كښي هغو ته هم په مشوره كي برخه وركړه، بيا چې ستا اراده پر كومه رايه ټينګه شي؛ نو پر الله توكُل وكړه، د الله هغه خلك خوښيږي چې د هماغه په ډاډينه كار كوي»، او بيا فرمايي:« لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ»[٣] ژباړه: «وګورئ! تاسي ته يو پېغمبر راغلی دی چې په خپله له همدا تاسي څخه دی، ستاسي په زيان كښي لوېدل پر هغه ګران تماميږي هغه ستاسي د رغېدني حرصناك دی، د مؤمنانو لپاره هغه خواخوږی او زړه سواند دی»، او بيا فرمايي: «وَاعْلَمُوٓا أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ اللَّهِ ۚ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِّنَ الْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَٰنَ وَزَيَّنَهُۥ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الرَّٰشِدُونَ»[٤] ژباړه: «ښه وپوهيږئ چې ستاسي په منځ كښي د الله پېغمبر موجود دی، كه هغه په زياترو چارو كي ستاسي خبره ومني، نو تاسي به پخپله په ستونزو كښي اخته شئ، خو الله تاسي ته د ايمان مينه دركړه او هغه يې ستاسي لپاره په زړه پوري وګرځاوه، او له كفر، فسق او نافرمانۍ څخه يې تاسي كركجن كړئ، پر حق ثابت كسان همدغه دي».

د پيغمبر صلی الله علیه وسلم د ژبې سپيڅلتيا الله تعالی په قرآن كريم كې كړې لكه چې فرمايي: «وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰٓ»[٥] ژباړه:«دغه محمد صلی الله علیه وسلم له خپل نفسي خواهش څخه خبري نه كوي»، د هغه د ليد سپيڅلتيا يي كړی لكه چې فرمايي: «مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ»[٦] ژباړه: «نه د محمد صلی الله علیه وسلم ستركي بلي خوا ته وګرځېدې، نه له حده تېر شو» د هغه د زړه سپيڅلتيا يي كړی

(١)الأنبياء: ١٠٧.
(٢) آل عمران: ١٥٩.
(٣) التوبه: ١٢٨
(٤) الحجرات: ٧.
(٥) النجم: 3.
(٦) النجم: 17.

فرمايي: «مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَىٰ»[1] ژباړه: «سترګو چي څه وليدل، زړه په هغه کښي درواغ ګډ نه کړل» د هغه عقل يي ستايلی فرمايي: «مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ»[2] ژباړه: «ستاسي ملګری نه بېلاري شوېدی او نه يې په سرغړاوي سره سمه لاره پرې ايښي ده» د هغه د ښوونکي سپېڅلتيا يي کړې ده فرمايي: «عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَىٰ»[3] ژباړه:«هغه ته برلاسی ځواکمن (جبرائيل ع) ښوونه کوي» د هغه د اخلاقو ستاينه يی کړي ده فرمايي: «وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ»[4] ژباړه: «او بېشکه ته د لوړو اخلاقو مرتبه لرې» د هغه بشپړه سپېڅلتيا يي بيان کړي ده فرمايي: «لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْءَاخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا»[5] ژباړه:«په يقيني توګه، ستاسي لپاره د الله په پېغمبر کي د نېکۍ يوه خورا غوره نمونه ده، د هر هغه چا لپاره ده چي د الله او د اخرت د ورځي هېله من وي او الله ډېر ډېر ياد کړي» د هغه سينه يي پراخه کړي ده فرمايي: «أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ»[6] ژباړه:«اې پېغمبر صلى الله عليه وسلم ايا موږ ستا سينه ستا لپاره پراخه نه کړه؟» د هغه پخواني او وروستنۍ ګناهونه يی معاف کړي دي لکه چې فرمايي: «إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا* لِّيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا»[7] ژباړه:« اې پېغمبره صلى الله عليه وسلم بېشکه موږ تا ته ښکاره فتحه او بری درکړی دی؛*تر څو چي الله ستا له مخکېنۍ او وروستنۍ هري ګناه څخه در تېر شي او پر تا باندي خپل نعمت بشپړ کړي؛ او تا ته سمه لاره در وښيي» همدارنګه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم بيعت يي داسي ګرځولی وو لکه د الله تعالى سره چي بيعت کوي پدي هکله الله تعالى فرمايي: «إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ ۚ فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِمَا عَٰهَدَ عَلَيْهُ اللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا»[8] ژباړه:«اې پېغمبره صلى الله عليه وسلم کومو کسان چي ستا سره بيعت کوي، هغوی په اصل کښي له الله سره بيعت کوي، د هغو د لاسونو د پاسه د الله لاس دی، اوس چي څوك دغه ژمنه ماته کړي، د هغه د تعهد ماتولو وبـال به پخپله پر همغه باندي وي او څوك چي پر هغي ژمني باندي ودرېږي چي هغه له الله سره کړېده، الله به ډېر ژر هغه ته لوی ثواب ورکړي».

په قرآن کريم کې د هغه چا بدي بيان شوي ده چي د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په وړاندي خپل آوازونه پورته کوي الله تعالى فرمايي: « يَٰأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَرْفَعُوٓا أَصْوَٰتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُۥ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَن

(١) النجم: ١١.
(٢) النجم: ٢.
(٣) النجم: ٥.
(٤) القلم: ٤.
(٥) الأحزاب: ٢١.
(٦) الشرح: ١.
(٧) الفتح: ١-٢.
(٨) الفتح ١٠.

تَحْبَطَ أَعْمَٰلُكُمْ وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ»(١) ژباړه:«اې مؤمنانو خپل اواز د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اواز څخه مه پورته کوئ او مه له پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره په لوړ غږ خبري کوئ لکه څنګه چې یخپلو منځو کښي یو له بل سره په لوړ غږ خبري کوئ، هسي نه چې ستاسي ټول عملونه بابېزه شي او تاسي خبر هم ونه اوسئ»، په نفس وخت کې د هغه خلکو صفت یي بیان کړی چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په وړاندې خپل آوازونه ټیټوي الله تعالی فرمايي: «إِنَّ الَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَٰتَهُمْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَىٰ ۚ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ»(٢) ژباړه: «کوم کسان چې د خدای د پیغمبر په وړاندې د غږېدلو په وخت کښي خپل غږونه ټیټوي، هغوی په حقیقت کښي همغه کسان دي چې الله یې زړونه د پرهېزګارۍ لپاره ازمویلي دي، د هغو لپاره ښننه او لوی اجر دی»، همدارنګه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ژوند د خپل امت لپاره یو امن ګرځول شوی وو پداسي ډول سره چې عاجل عذاب به پري نه راځي لکه چې الله تعالی فرمایي: «وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ»(٣) ژباړه: «په هغه وخت کښي خو الله پر هغوی د عذاب نازلوونکی نه ؤ، تر څو پوري چې ته د هغو په منځ کښي موجود وې، او نه د الله دا عادت دی چې خلك ښښنه غوښتونکي وي، او هغه ورته سزا ورکړي».

او کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د الله تعالی هغه وینا وویله چې د ابراهیم علیه السلام په ژبه یې ویلي لکه چې فرمایي: «رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ ۖ فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي ۖ وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ»(٤) ژباړه: «زما ربه! دغو بتانو زیاتره خلك په ګمراهۍ کښي اچولي دي (کېدای شي چې دوی زما اولاده هم بې لاري کړي، ځکه نو له دوی څخه) چې څوك زما په کړنلاره لاړ هغه زما دی او څوك چې زما پر خلاف کړنلاره غوره کړي، نو په یقیني ډول ته ښنونکی مهربان یې» او د الله تعالی بله وینا چې د عیسی علیه السلام په ژبه یې فرمایلي: «إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۖ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ»(٥) ژباړه: «اوس که ته هغو ته سزا ورکړې، نو هغوی ستا بندګان دي او که ښننه ورته وکړي، نو ته برلاس او د حکمت خاوند یې»، نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپل لاسونه پورته کړل او وي ویل ای الله! زما امت زما امت او همداسي یې ژړل نو الله تعالی وفرمایل: ای جبرائیله! ولاړشه محمد صلی الله علیه وسلم ته حال دا چې ستا رب ډیر ښه پوهیږي د هغه څخه د ژړا په هکله پوښتنه وکړه نو جبرائیل علیه السلام ورته راغی او پوښتنه یې تري وکړه نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته خبر ورکړ او وي ویل چې الله تعالی پري ډیر ښه پوهیږي نو الله

(١) الحجرات: ٢.

(٢) الحجرات: 3.

(٣) الأنفال: ٣٣.

(٤) إبراهيم: ٣٦.

(٥) المائدة: ١١٨.

تعالى جبرائيل عليه السلام ته وويل اى جبرائيله! ولاړشه محمد صلى الله عليه وسلم ته او ورته ووايه: مونږ ستا د امت په هکله تا خوشحاله او راضي کوو او خفه کوو دې نه[1] لکه چې الله تعالى فرمايي: «وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰٓ»[2] ژباړه: «او ډېر ژر به ستا رب تا ته دومره درکړي چې ته خوشحاله شې».

يقينا الله تعالى نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خطاب کې هم ډير عزت يې ورکړی پداسي ډول سره چې الله تعالى د ټولو نبيانو يادونه د هغوی په نومونو سره کړې ده لکه چې الله تعالى فرمايي: «وَقُلْنَا يَـٰٓـَٔادَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ»[3] ژباړه :«بيا موږ ادم ته وويل: "ته او ستا مېرمن (حوا)، دواړه په جنت کښي اوسېږئ» او بيا فرمايي: «قِيلَ يَـٰنُوحُ اهْبِطْ بِسَلَـٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكَـٰتٍ عَلَيْكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٍ مِّمَّن مَّعَكَ»[4] ژباړه: «حکم وشو: "اې نوحه! (د بېړۍ څخه) کوز شه، زما له لوري پر تا او پر هغو کسانو چي ستا ملګري دي، سلامتيا او برکتونه دي» او بيا فرمايي: «يَـٰٓإِبْرَٰهِيمُ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَآ»[5] ژباړه: «اې ابراهيمه تا خوب رښتيا کړ»، او بيا الله تعالى فرمايي: « يَـٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلْنَـٰكَ خَلِيفَةً فِى الْأَرْضِ»[6] ژباړه: « موږ هغه ته وويل"اې داؤده! موږ ته په ځمکه کښي خليفه ګرځولی يې»، او بيا فرمايي: «يَـٰمُوسَىٰٓ إِنِّىٓ أَنَا۠ رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ ۖ إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى»[7] ژباړه: «اې موسعليه السلام!زه ستا رب يم، پڼې (څپلۍ) دي وباسه، ته د طوا په سپېڅلي ناؤ کښي يې؛»، « يَـٰزَكَرِيَّآ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَـٰمٍ اسْمُهُۥ يَحْيَىٰ»[8] ژباړه: «ځواب ورکړه شو اې زکريا، موږ تا ته د يو هلك زيرى درکوو چي د هغه نوم به يحيى وي»، « يَـٰيَحْيَىٰ خُذِ الْكِتَـٰبَ بِقُوَّةٍ ۖ وَءَاتَيْنَـٰهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا»[9] ژباړه:«اې يحيا! د خدای کتاب ټينګ ونيسه!" - موږ هغه ته په ماشومتوب کښي حکمت او نبوت ورکړ»، « إِذْ قَالَ اللَّهُ يَـٰعِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِى عَلَيْكَ وَعَلَىٰ وَٰلِدَتِكَ»[10] ژباړه: « هغه وخت در په زړه کړه چي کله الله وفرمائي: اې د مريم زويه عيسى! زما هغه نعمت در ياد کړه چي پر تا او ستا پر مور مي پيرزو کړی ؤ» خو زمونږ پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم ته په خطاب کې يي د رسالت او نبوت لفظ هم راوړی او يا هم د عزت او د درناوئ او د مهربانۍ صفت ورسره ياد کړی دی لکه چې الله تعالى فرمايي:«يَـٰٓأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ»[11] ژباړه: «اې پېغمبره

(۱) صحيح مسلم: کتاب الإيمان، باب د امت لپاره د نبي کريم صلى الله عليه وسلم دعاء او په‌۸ هغوی باندي د مهربانی لپاره يي ژړا، د حديث نمبر (۲۰۲)، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقی، چاپ: دار إحياء التراث العربی، بيروت.

(۲) الضحى: ٥.

(۳) البقرة: ۳٥.

(٤) هود: ٤٨.

(٥) الصافات: ١٠٤.

(٦) ص: ٢٦.

(۷) طه: ۱۲.

(۸) مريم: ۷.

(۹) مريم: 12.

(۱۰) المائدة: ۱۱۰.

(۱۱) المائدة: ٦٧.

صلی الله علیه وسلم څه چي ستا د رب له لوري پر تا نازل کړی شویدي، هغه خلکو ته ورسوه» اوبیا الله تعالی فرمایی: «يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا»[1] ژباړه: «ای پیغمبره صلی الله علیه وسلم! موږ ته شاهد او زیری ورکوونکی او وېروونکی لیږلی یی»، او الله تعالی بیا فرمایي: «يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُزَّمِّلُ قُمِ ٱلَّيۡلَ إِلَّا قَلِيلٗا نِّصۡفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصۡ مِنۡهُ قَلِيلًا»[2] ژباړه: «ای په جامو کي ځان نغښتونکیه، ویده کېدونکیه! شپه په لمانځه کښي په ولاړي تېره کړه خو کمه، یا نمایي شپه، یا له هغې څخه یو څه کمه کړه» او بیا الله تعالی فرمایي: «يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ قُمۡ فَأَنذِرۡ وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ»[3] ژباړه: «ای په جامه کي ځان نغښتونکي، څملاستونکیه پاڅه! او نړیوالو ته خبرداری ورکړه! او د خپل رب لویي اعلان کړه؛او خپلي جامې پاکي وساته».

او هر کله چي الله تعالی د محمد صلی الله علیه وسلم نوم په قرآن کریم کې یي یاد کړی ترڅنګ یي د رسالت ویاړ یي هم یاد کړی لکه چې الله تعالی فرمایي: «مُّحَمَّدٞ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلۡكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡ»[4] ژباړه: «محمد صلی الله علیه وسلم د الله پېغمبر دی؛ او کوم کسان چي له هغه سره ملګري دي، هغوی پر کافرانو سخت او په خپلو منځو کښي خواخوږي دي»، او بیا فرمایي: «وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٞ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِ ٱلرُّسُلُ»[5] ژباړه: « محمدصلی الله علیه وسلم پرته د پېغمبر څخه نور څه نه دی، له هغه څخه مخکي نور پیغمبران هم تېر شویدي»، الله تعالی همداسي د خپلو نبیانو او رسولانو څخه عهد اخیستی وو چې باوړ پري ولري او مرسته یي وکړې لکه چې الله تعالی فرمایي: «وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ لَمَآ ءَاتَيۡتُكُم مِّن كِتَٰبٖ وَحِكۡمَةٖ ثُمَّ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مُّصَدِّقٞ لِّمَا مَعَكُمۡ لَتُؤۡمِنُنَّ بِهِۦ وَلَتَنصُرُنَّهُۥۚ قَالَ ءَأَقۡرَرۡتُمۡ وَأَخَذۡتُمۡ عَلَىٰ ذَٰلِكُمۡ إِصۡرِيۖ قَالُوٓاْ أَقۡرَرۡنَاۚ قَالَ فَٱشۡهَدُواْ وَأَنَا۠ مَعَكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ»[6] ژباړه: «هغه وخت (یاد کړئ) چي الله له پېغمبرانو څخه وعده اخیستي وه چي: "نن موږ په کتاب، حکمت او پوهي سره سرلوړي کړی یې، سبا که تاسي ته کوم بل پېغمبر د هماغو هدایاتو رښتینی کوونکی درغی چي له مخکي څخه تاسي سره شته، نو تاسي به پر هغه ایمان راوړونکي او د هغه ملا تړونکي اوسئ" - په دې وینا سره الله پوښتنه وکړه: "ایا تاسي دا اقرار کړی او پر دې خبره مو زما له خوا د وعدې د روند مسئولیت پر غاړه اخیستی دی؟" - هغو وویل: "هو، مونږ اقرار کړي دی».

د الله تعالی هغه بله مهرباني چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته یي درلود هغه دا دی چې رسالت یي د ټلو خلکو لپاره عام دی مخکی هر رسول په ځانګړي

---

(١) الأحزاب: ٤٥.

(٢) المزمل: ١-٣.

(٣) المدثر: ١-٤.

(٤) الفتح: ٢٩.

(٥) آل عمران: ١٤٤.

(٦) آل عمران: ٨١.

دول خپل قوم ته رالیږل کیدلو خو زمونږ خوږ پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم الله تعالی ټولو خلکوته رالیږلی دی لکه چې الله تعالی فرمایي: «وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا»[١] ژباړه:« او [اې پیغمبره صلی الله علیه وسلم!] موږ ته د ټولو انسانانو لپاره یوازې زیری ورکوونکی او ویرووونکی لیږلی یې»، همدارنګه د هغه رسالت ټولو مخکنیو رسالتونو ته د پای ټکی ایښودونکی دی چې د انبیاؤ او د رسولانو لړۍ پرې پای ته رسیدلی لکه چې الله تعالی فرمايي: «مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمۡ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمًا»[٢] ژباړه: «اې خلکو! محمد صلی الله علیه وسلم ستاسي له نارینه و څخه د هیچا پلار نه دی، هغه خو د الله رسول او اخرنی او وروستنی نبي دی، او الله د هر شی علم لرونکی دی».

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ابراهیم علیه السلام غوښتنه د عیسی علیه السلام زیری لکه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: زه د ابراهیم علیه السلام دعا او غوښتنه وم او د عیسی علیه السلام زیری وم چې خپل قوم ته یې ورکړی وو او د خپلې مور خوب چې داسي یو خوب یې لیدلی وو چې داسي یوه رڼا ترې راووځې چې د شام ماڼۍ به روښانه کوي[٣]، لکه چې الله تعالی د ابراهیم علیه السلام په ژبه فرمايي: «رَبَّنَا وَٱبۡعَثۡ فِيهِمۡ رَسُولًا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُزَكِّيهِمۡ ۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ»[٤] ژباړه: «او اې ربه! په دې خلکو کښې د همدوی له قوم څخه یو داسي پیغمبر راپاڅوه چې دوی ته ستا آیتونه ولولي، هغو ته کتاب او حکمت ور زده کړي او د هغو ژوند سوتره کړي. ته د لوي قدرت او حکمت څښتن یې» او بیا الله تعالی د عیسی علیه السلام په ژبه فرمايي: «يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَمُبَشِّرَۢا بِرَسُولٍ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِي ٱسۡمُهُۥٓ أَحۡمَدُ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ قَالُواْ هَٰذَا سِحۡرٌ مُّبِينٌ»[٥] ژباړه: «اې بني اسرائیلو! زه تاسي ته د الله رالیږل شوی پیغمبر یم، د هغه تورات تصدیق کوونکی یم چې زما څخه مخکي راغلی موجود دی؛ او د یو پیغمبر زیری ورکوونکی یم چې زما څخه وروسته به راشي چې نوم به یې احمد وي خو کله چې هغه دوی ته له ښکاره څرګندو نښانو سره راغی، نو دوی وویل: دا خو څرګندي کوډي دي» هغه صلی الله علیه وسلم لومړنی شفاعت کوونکی دی او د قیامت په ورځ د ښه ځای او مرتبی خاوند به وي الله تعالی فرمايي: «وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةً لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحۡمُودًا»[٦] ژباړه: «او

(١) سبأ: ٢٨.

(٢) الأحزاب: ٤٠.

(٣) مسند امام احمد ٢٨/ ٣٩٥، حدیث نمبر (١٧١٦٣) چاپ: مؤسسه الرساله.

(٤) البقرة: ١٢٩.

(٥) الصف: ٦.

(٦) الإسراء: ٧٩.

د شپې تهجُد وکړه، دا ستا لپاره نفل دي. ليري نه ده چي ستا رب تا د ستاينې د وړ مقام خاوند کړي».

الله تعالی پخپل ذات سره په هغه درود ويلي اوملائکو ته په درود ويلو امر کړی دی، الله تعالی فرمايي: « إِنَّ اللَّهَ وَمَلَٰئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ ۚ يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا»[1] ژباړه: «الله او د هغه پرښتې پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم درود وايي، اې مومنانو! تاسي هم پر هغه درود او سلام ووایاست»، د نبي کريم صلی الله علیه وسلم درود يي د مومنانو لپاره رحمت او آرامتيا ګرځولی لکه چې فرمایی: «وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ»[2] ژباړه: «او د هغو په حق کښې د رحمت دُعا وکړه، ځکه چي ستا دُعا به د هغو لپاره د ډاډيني وسيله وي الله هر څه اوري او په هر څه پوهيږي»، نو الله تعالی د هغوی دعا او درود په نبی کريم صلی الله علیه وسلم باندی د قيامت په ورځ د دوی لپاره د هغه د شفاعت د دروازو څخه ګرځولی لکه چې نبی کريم صلی الله علیه وسلم فرمايي: کله چې مو د آذان کوونکي څخه آذان آوريدلو نو هغه څه ووايئ چې هغه يی وايي بيا په ما باندي درود ووايئ ځکه څوک چې په ما درود ووايي نو الله تعالی به هغوی باندی لس ځله رحمت نازل کړې بيا الله تعالی ته ما وسيله کړئ ځکه چې هغه په جنت کې لوړ ځای درکړې داسي ځای چې د خپلو بندګانو لپاره جوړ کړی او زه هيله لرم چې زه د الله تعالی هماغه خاص بنده ووسم نو څوک چې ما الله تعالی ته وسيله کړې زما شفاعت پري واجبږي[3].

(١) الأحزاب: ٥٦.

(٢) التوبة: ١٠٣.

(٣) صحيح مسلم: كتاب الصلاة، باب څه چې مؤذن وايي د هغي ويل مستحب دی، حديث نمبر (٣٨٤).

## دوهم مبحث

## د احادیثو مرتبه او دلیل

## د احادیثو مرتبه او دلیل

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د احادیثو په هکله چې کله خبرې کوو زمونږ مقصد د شریعت دوهم مصدر او سرچینه وې، ځکه چې د امت علماؤ فقهاؤ او د اصول فقي عالمانو اجماع او اتفاق کړی چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم احادیثو باندې دلیل نیولی شو، او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم اطاعت د الله جل جلاله اطاعت ګڼل کیږي، لکه چې الله جل جلاله فرمايي: «يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوٓا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ ۖ فَإِن تَنَٰزَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْءَاخِرِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا»(١) ژباړه: «اې مؤمنانو! د الله، رسول او هغو کسانو اطاعت وکړئ چې ستاسي څخه د امر خاوندان وي، بیا که ستاسي تر منځ په کومه چاره کښي شخړه پېښه شي؛ نو هغه د الله او رسول لوري ته محوله وړاندي کړئ، که تاسي په رښتیا سره پر الله او د اخرت په ورځ ایمان لرئ، همدا د کار یوه سمه طریقه ده او د عاقبت په اعتبار هم غوره ده».

په بل ځای کې فرمايي: «وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ»(٢) ژباړه: «او د الله او رسول حکم ومنئ. کېدای شي چې رحم در باندې وشي»، او بیا فرمايي: «قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكَٰفِرِينَ»(٣) ژباړه:«هغو ته ووایه: "د الله او پیغمبر اطاعت ومنئ! " - بیا که هغوی ستا دا بلنه و نه مني، نو دا بیا بیخي نشي کېدای چې الله له داسي خلکو سره مینه وکړي، چې د هغه او د هغه د پیغمبر له اطاعت څخه انکار کوي».

او بیا فرمايي: «وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ ۖ وَاصْبِرُوٓا ۚ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّٰبِرِينَ»(٤) ژباړه: «او د الله او د هغه د پیغمبر امر منونکي اوسئ؛ او په خپلو منځو کښي شخړه مه کوئ، که نه نو په تاسي کښي به کمزوري پیدا شي، برم د مقاومت توان به مو لاړ شي، له زغم څخه کار واخلئ، په یقیني توګه الله د صابرانو ملګری دی».

او بیا فرمايي: «وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَاحْذَرُوا ۚ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوٓا أَنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا الْبَلَٰغُ الْمُبِينُ»(٥) ژباړه:«د الله او د هغه د پیغمبر خبره ومنئ او د نافرمانی څخه یې را منع شئ. خو که تاسي حکم ته شا کړه، نو و پوهیږئ چې زموږ پر پیغمبر د څرګند حکم رسولو مسئولیت ؤ».

---

(١) النساء: ٥٩.

(٢) آل عمران: ١٣٢.

(٣) آل عمران: 32.

(٤) الأنفال: ٤٦.

(٥) المائدة: ٩٢.

او بیا فرمایي: « قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُم مَّا حُمِّلْتُمْ ۖ وَإِن تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا ۚ وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَٰغُ الْمُبِينُ»[1] ژباړه: «ورته ووایه: "د الله د امر منونکي او د پیغمبر د فرمان تابع اوسئ. خو که تاسي مخ واړوئ، نو ښه وپوهېږئ چي پیغمبر ته چي کومه فریضه ورپه غاړي شوې ده، د هغې مسئول هغه دی او پر تاسي چي د کومي فریضي پېټی ایښودل شوی دی، د هغه مسئول تاسي یاست. که د هغه اطاعت وکړئ، نو په خپله به سمه لاره ومومئ. کنه نو د پیغمبرصلی الله علیه وسلم مسئولیت خو له دې پورته نور څه نه دی چي په څرګنده روښانه توګه حکم ورسوي».

اوبیا فرمایي: «مَّن يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ ۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا»[2] ژباړه: «چا چي د پیغمبر اطاعت وکړ هغه په اصل کښي د خدای اطاعت وکړ. او چا چي مخ واړوه، نو په هر صورت موږ په دې خلکو باندي ته د څارونکي او ساتونکي په توګه نه یې لېږلی».

او بیا فرمایي: «وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّـۧنَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصَّٰلِحِينَ ۚ وَحَسُنَ أُولَٰئِكَ رَفِيقًا»[3] ژباړه: «څوك چي د الله او پیغمبر اطاعت وکړي، نو د هغو خلکو ملګري به وي چي الله پېرزوېنه پر کړېده؛ یعني: پیغمبران، رښتیا ویونکي، شهیدان او صالحان. د هغو ملګرتیا څومره ښه ده چي چا ته په برخه شي».

او بیا فرمایي: «وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا»[4] ژباړه: «هر څوك چي د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي، هغه لوی بریالیتوب ترلاسه کړ».

او بیا فرمایي: «وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ»[5] ژباړه: «څوك چي د الله او د هغه د پیغمبر اطاعت وکړي، نو الله به هغه داسي باغونو (جنتونو) ته ننباسي چي تر هغوی لاندي به ویالې بهیږي او هغوی به په کښي د تل لپاره استوګن وي او همدا ستر بریالیتوب دی؛».

او بیا فرمایي: «وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ ۖ وَمَن يَتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا أَلِيمًا»[6] ژباړه: «څوك چي د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي، الله به یې په هغو جنتونو کښي داخل کړي چي لاندي به یې ویالې بهیږي، او څوك چي مخ واړوي، هغه ته به دردناکه سزا ورکړي».

(۱) النور: ٥٤.
(۲) النساء: ۸۰.
(۳) النساء: ٦۹-۷۰.
(٤) الأحزاب: ۷۱.
(٥) النساء: ۱۳.
(٦) الفتح: ۱۷.

او بيا فرمايي: «إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوٓا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخْشَ اللَّهَ وَيَتَّقْهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَآئِزُونَ»[١] ژباړه: «د مؤمنانو كار خو دا دى، كله چي د خداى او پېغمبر لوري ته د خپلو شخړو د فېصلې د حكم لپاره وبلل شي، نو وايي: موږ واورېدله او ومومنله. همدغه راز خلك د بري او نجات موندونكي دي.او هماغه كسان بريالي دي چي د الله او د هغه د پېغمبر امر ومني، له الله څخه ووېرېږي او د هغه له نافرمانی څخه ډډه وكړي».

او بيا فرمايی: «وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوٓا أَنفُسَهُمْ جَآءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا»[٢] ژباړه: «(هغوی ته څرګنده كړه چي) موږ هر پېغمبر يوازي ددې لپاره لېږلی دی چي د خداى په حُكم د هغه اطاعت وكړاى شي. كه هغوى دا لاره غوره كړې واى چي كله پر خپلو ځانونو ظلم كوى، نو تا ته راتلاى او له الله څخه يې ښښنه غوښتلاى، او پېغمبر هم ورته د ښښني غوښتنه كولاى، نو شك نشته چي الله به يې ښښونكی او رحم كوونكی موندلی واى».

او بيا فرمايي: «وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ»[٣] ژباړه: «څه چي پېغمبر صلی الله عليه وسلم تاسي ته دركوي، هغه واخلئ؛ او له څه شي څخه چي تاسي منع كوي، له هغه څخه منع شئ. د الله څخه ووېرېږئ، الله سخت سزا وركوونكی دی».

*****

قرآن كريم ټينګار كړی چي د نبي كريم صلی الله عليه وسلم حكم ته لازمه ده چې غاړه كيښودل شي او د هغه په ژوندوني او وفات څخه وروسته د هغه د احاديثو سره سم ژوند ترسره شي، لكه چي الله تعالی فرمايي: «فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِىٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا»[٤] ژباړه: «نه، اې محمده صلی الله عليه وسلم! ستا په رب قسم چي دوی هيڅكله مؤمنان كېداى نه شي، تر څو چي په خپل منځي شخړو كښي تا فېصله كوونكی ونه مني بيا چي ته څه فېصله وكړې، پر هغې باندي په خپلو زړونو كښي هم څه تنګي احساس نه كړي؛ بلكي سر تر پايه يې ومني»، او بيا الله تعالی فرمايي: «وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا»[٥] ژباړه: «هيڅ

(١) النور: ٥١-٥٢.

(٢) النساء: ٦٤.

(٣) الحشر: ٧.

(٤) النساء: ٦٥.

(٥) الأحزاب: ٣٦.

يو مؤمن او هيڅ يوه مومنه دا حق نه لري چي کله الله او د هغه رسولصلى الله عليه وسلم د کومي معاملې فېصله وکړي او بيا (د الله او د هغه د رسول په خلاف) هغه پخپله د خپلي هغي معاملې د فېصله کولو اختيار ولري. او څوك چي له الله او د هغه له رسول څخه سرغړاوی وکړي، نو هغه په څرګنده ګمراهۍ کښي وغـورځيدی».

*****

الله جل جلاله د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د امر د مخالفت څخه منعه کړې ده او خبرداری يې ورکړی لکه چې فرمايي: «فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ»(١) ژباړه: « د پېغمبرصلى الله عليه وسلم له حُکم څخه سر غړوونکي بايد ووېرېږي چي په کومه فتنه کښي اخته نه شي يا دردناك عذاب پرې رانشي»، او بيا الله تعالى فرمايي: « يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوٓا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوٓا أَعْمَٰلَكُمْ»(٢) ژباړه:« اې مؤمنانو! د الله اطاعت او د پېغمبر اطاعت وکړئ او خپل عملونه مه بربادوئ »، او بيا الله تعالى فرمايي: «يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوٓا أَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ قَالُوا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ إِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِندَ اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ وَلَوْ عَلِمَ اللَّهُ فِيهِمْ خَيْرًا لَّأَسْمَعَهُمْ ۖ وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوا وَّهُم مُّعْرِضُونَ»(٣) ژباړه:« اې مؤمنانو! د الله او د هغه د پېغمبر اطاعت وکړئ او د حکم له اورېدلو څخه وروسته غاړه مه غړوئ د هغو خلکو په شان مه کېږئ چي ويې ويل: موږ واورېدل! - په داسي حال کښي چي هغوی يې نه اوري.په يقيني توګه، د خدای په نزد د ساه کښنانو ډېره بده نوعه، هغه کاڼه، ګونګيان خلك دي چي له پوهي څخه کار نه اخلي.که الله دا ګڼلې وای چي په دوی کښي يو څه ښه توب هم شته نو هرو مرو به يې د اورېدو وس ورکړی وای. (خو له ښه توب څخه پرته) که يې دوی اورولي وای، نو په بې اعتنائۍ سره يې مخ ځني اړاوه».

او بيا الله تعالى فرمايي: « وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا»(٤) ژباړه: «او څوك چي له الله او د هغه له رسول څخه سرغړاوی وکړي، نو هغه په څرګنده ګمراهۍ کښي وغـورځيدی»، او بيا الله تعالى فرمايي: « وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُۥ يُدْخِلْهُ نَارًا خَٰلِدًا فِيهَا وَلَهُۥ عَذَابٌ مُّهِينٌ»(٥) ژباړه:«او څوك چي د الله او د هغه له پېغمبر څخه سرکښي وکړي او د هغه له ټاکل شوېو پولو څخه تيری وکړي، الله به هغه په اور کښي وغورځوي،چي د تل لپاره به په کښي استوګن وي او د هغه لپاره رسوا کوونکې سزا ده»، او بيا الله تعالى فرمايي:

(١) النور: ٦٣.
(٢) محمد: ٣٣.
(٣) الأنفال: ٢٠-٢٣.
(٤) الأحزاب: ٣٦.
(٥) النساء: ١٤.

«وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا»[١] ژباړه:«او هر څوك چي د الله او د هغه د پيغمبر خبره ونه مني، د هغه لپاره د دوزخ اور دی؛ او دغه راز خلك به په هغه كښي د تل لپاره اوسيږي».

الله جل جلاله مونږ ته څرگنده كړې ده هر هغه لاربښووني چې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم له لورې وړاندې كيږي وحى گڼل كيږي لكه چې الله تعالى فرمائي: «وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ»[٢] ژباړه: «قسم دی په ستوري باندي، كله چي هغه پرېوځي يا را وخيژي؛ستاسي ملگرى نه بېلاري شوېدى او نه يې په سرغړاوي سره سمه لاره پرې اېښي ده؛ دغه (محمد ص) له خپل نفسي خواهش څخه خبري نه كوي؛ دا (قُرآن) خو يوه وحيي ده چي پر هغه نازليږي»، او الله تعالى فرمايى: «يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ۖ وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِۦ وَأَنَّهُۥٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ»[٣] ژباړه: «اې ايمان راوړونكو! د الله او د هغه د پيغمبر بلني ته لبيك وواياست چي كله پيغمبر تاسي ته د هغه شي په لوري بلنه دركړي چي تاسي ته ژوند بښونكى دى. او وپوهېږئ چي الله د انسان او د هغه د زړه تر منځ حايل دى او د هماغه لوري ته به تاسي ورغونډ كړاى شئ».

الله تعالى د پيغمبر صلى الله عليه وسلم اطاعت او د هغه د سنتو او احاديثو تابعداري د خپل رضا او محبت لامل او د گناهونو د بخښني لپاره يوه دروازه گرځولې ده لكه چې فرمائي: «قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِى يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ»[٤] ژباړه: «اې پيغمبره صلى الله عليه وسلم! خلكو ته ووايه: " كه تاسي په ربښتيا له الله سره مينه لرئ، نو زما د پيروۍ لاره غوره كړئ؛ الله به ستاسي سره مينه وكړي او ستاسي خطاوي به در وبښي. هغه ډېر بښه بښونكى او د رحمت څښتن دى».

او نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلى: خبردار! داسې وخت نږدى دى چې يو سړى به چې په پالنگ به يي ډډه وهلي وي او زما حديثونه به ورته چې ورسيږي، نو وايي چې: ستاسو لپاره همدا قرآن بس دى څه چې پكې حلال گرځيدلي حلال دي او څه چې پكې حرام گرځيدلي حرام دي، خبردار! هغه څه چې د الله پيغمبر صلى الله عليه وسلم حرام گرځولي داسې دي لكه الله جل جلاله چې حرام كړي وي[٥].

(١) الجن: ٢٣.

(٢) النجم: ١-٤.

(٣) الأنفال: ٢٤.

(٤) آل عمران: ٣١.

(٥) سنن الترمذى كتاب العلم، باب هغه چي د نبى كريم صلى الله عليه وسلم د حديثو د ويلو پرمهال منعه كړاى شوې دي، حديث نمبر 2664، تحقيق احمد محمد شاكر دوهم چاپ 1975م مكتبه مصطفى البابى الحلبى.

همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: تاسو ته ما چې څه ما پريښی دي په هماغه باندي عمل وکړي ځکه تاسو څخه چې مخکې څوک وو هغوي پدي باندي هلاک شوي دي چې پوښتني ډيری کولي او پخپلو انبياؤ باندي به اختلاف کولو کله چې له يو کار څخه مو تاسی منع کړي ياست نو له هغه څخه ځان وژغوري او په کومو کارونو چې تاسو ته امر کړی دی تاسو په هغه باندي د خپل توان په اندازه تګ وکړي او همدارنه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: زما ټول امت به جنت ته داخليږي مګر هغه څوک چې انکار وکړي، ورته وويل شو چې انکار کوونکي څوک دی ای د الله رسوله؟ هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې زما اطاعت وکړي جنت ته به داخليږي او څوک چې زما نافرمانبرداري وکړي يقينا چې هغه انکاروکړ.

د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ما په تاسو کې اي خلکو دوه شيان پريښي دي که چيرته تاسو د هغه نيونه وکړه نو هرګز به ګمراهان نشی يو د الله جل جلاله کتاب او بل هم د نبي کريم صلی الله عليه وسلم احاديث دي د عرباض بن ساريه رضي الله عنه څخه روايت دي چې نبي کريم صلی اله عليه وسلم فرمايلي دي: زه تاسو ته پدي باندي وصيت کوم چې د الله جل جلاله تقوی غوره کړی او همدارنګه د هغه خبري واوری او اطاعت يی وکړی اګر که تاسو ته د الله جل جلاله خبری يو حبشي بنده هم وکړي ځکه هغه څوک چې په تاسو کې زما څخه وروسته ژوند کوي نو تاسو به ډير زيات اختلافات وګوری نو پدغه وخت بايد تاسو زما د احاديثو او همدارنګه د خلفاء راشدينو د لاری تابعداري وکړي او د هغه نيونه وکړي او همدارنګه د نواجز په غاښونو باندي تاسو هغه کلک ونيسی او همدارنګه تاسو په دين کې د نوي شيانو د پيدا کيدو څخه ځآن وژغوری ځکه هر نوي کار بدعت دی او بدعت بيا ګمراهي ده(۱).

همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې زما د سنتو څخه مخ واړوي هغه زمونږ څخه ندی همدارنګه فرمايلي دي چې څوک چې زما اطاعت وکړي نو يقينا هغه د الله جل جلاله اطاعت کوي او څوک چې زما نافرمانبرداري وکړي يقينا هغه د الله جل جلاله نافرمانبرداری کوي(۲).

ابن عباس رضي الله عنه فرمايلي دي: دری ايتونه د دري نورو سره تړل شوي نازل شوي دي چې په يو آيت کې د راغليو احکامو باندي د عمل کول نه قبليږي بغير ددی چې هغه بل آيت ورسره يو ځاي نکړي لومړي د الله جل جلاله دغه وينا د ه چې فرمايي: «أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ» ژباړه: « د الله او د هغه د

(۱) سنن ابی داود – کتاب السنة، باب لزوم السنة، حديث نمبر (4607)، تحقيق: محمد محيى الدين عبد الحميد، نشر: المکتبه العصريه، صيدا – بيروت.

(۲) صحيح البخاری – کتاب نکاح، باب د نکاح لپاره تشويق، حديث نمبر (5063)، صحيح مسلم – کتاب نکاح، باب د نکاح مستحب والی، حديث نمبر (1401).

رسول اطاعت وکړئ»[١]، نو څوک چې د الله جل جلاله اطاعت وکړي او د هغه د رسول اطاعت ونکړي د هغه څخه به دا عمل نه قبلیږي، دوهم د الله جل جلاله دغه وینا ده چې فرمايي: «وَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَءَاتُوا الزَّكٰوةَ» ژباړه: «او لمونځ قائم کړئ، زکات ورکړئ»[٢]، نو څوک چې لمونځ وکړي او زکات ورنکړي د هغه څخه به نه قبلیږي دریم د الله جل جلاله دغه ایت دی چې فرمايي: «أَنِ اشْكُرْ لِى وَلِوٰلِدَيْكَ» ژباړه:« زما شکر وکړه او د خپل مور او پلار شکر پر ځای کړه»[٣]، څوک چې د الله جل جلاله شکر وباسي او د خپلو والدینو شکر ونه باسي د هغه څخه به شکر نه قبلیږي نو د همدي لپآره نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:د الله جل جلاله رضامندي د والدینو په رضامندي کې ده او د هغه قهر او غصه د والدینو په قهراوغصه کې ده[٤].

د ابن رجب حنبلي[٥] څخه نقل شوي دي چې د امام احمد بن حنبل[٦] څخه دغه خبره نقلوي چې ویلي دي د اسلام بنستونه په دريو احاديثوبباندي ولاړ دي يو د عمر رضي الله عنه حديث چې فرمايلي دي چې دارمدار د اعمالو نيت دی، او دوهم د عايشي رضي الله عنها حديث چې فرمايلي دي: څوک چې زمونږ په دين کې نوي کارونه پيدا کړي چې په هغه کې نه وي نو هغه مردود دي او بل د نعمان بن بشير دغه حديث چې فرمايلي دي: حلال معلوم دي او حرام هم معلوم دي[٧].

ابو داود سجستاني[٨] وايی چې فقه په پينځو احاديثو باندي راڅرخي: لومړی حديث:حلال او حرام دواړه څرګند او معلوم دي، او بل حديث چې فرمايي: مه چاته ضرر رسوه او مه څوک پريږده چې تاته ضرر ورسوي او بل حديث چې فرمايي:دارمدار د اعمالو د نيت پوري تړاو لري او دغه بل حديث چې فرمايی: دين نصيحت دي او د غه بل حديث چې فرمايي: هغه ما چې تاسو د کوم کار څخه منع کړی ياستي وځان تل وژغوري او په کومو چارو چې مونږ تاسو ته امر کړي دی تاسو د خپل توان په اندازه په هغه عمل وکړي[٩].

---

(١) نساء: 59.

(٢) بقره: ٤٣.

(٣) لقمان: ١٤.

(٤) کتاب شعب الإيمان د بيهقی: ٦/ ١٧٧، باب د والدینو سره نیکي، حديث نمبر (٧٨٣٠)، چاپ: دار الکتب العلميه، بيروت.

(٥) د هغه نوم: ابو الفرج زين الدين عبد الرحمن بن احمد بن رجب السلامی البغدادی، مشهور په ابن رجب حنبلی دی، په ٧٣٦هـ کال کې په بغداد کې سترګې پرانستلی، د حديثو حافظ وو او پدي فن کې د امامت درجي ته رسيدلی وو، د امام احمد بن حنبل د مذهب لوی عالم وو، د هغه کتابونه او آثار: جامع العلوم والحکم، لطائف المعارف. په ٧٩٥هـ کال په دمشق کې وفات شو الأعلام د زرکلی ٣/ ٢٩٥، ناشر: دار العلم للملايين، ٢٠٠٢م.

(٦) د هغه مکمل نوم: ابو عبد الله احمد بن محمد بن حنبل الشيبانی الذهلی دی، په ١٢٤هـ کال کې په بغداد کې پيدا شو، د اهلت سنت والجماعه څأورم امام وو، په اسلامي فقه کې د حنبلی مذهب خاوند وو په ٢٤١هـ کال کې له فاني نړۍ څخه سترګې پټي کړې، (سير أعلام النبلاء د شمس الدين الذهبی: متوفی: ٧٤٨هـ) ١١/ ١٧٧، مؤسسه الرساله، ١٤٠٥هـ/ ١٩٨٥م.

(٧) جامع العلوم والحکم د ابن رجب حنبلی ١/ ٦١، چاپ: دار المعرفه – بيروت.

(٨) د هغه مکمل نوم: امام ابو داود، سليمان بن الأشعث بن اسحاق بن بشير ازدی سجستانی، په ٢٧٥هـ کال کې په بصره کې وفات شو، (سير أعلام النبلاء (١٣/ ٢٠٣) چاپ" الرساله، والأعلام للزرکلی ٣/ ١٢٢).

(٩) جامع العلوم والحکم د ابن رجب حنبلی، ص ٦٢.

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د احادیثو په مرتبه او د هغه دلیل نیونه او همدارنګه د هغه لوړه مرتبه باندي هیڅوک هم اختلاف نکوي مګر هغه څوک چې هغه انکار کوونکې او حسد کوونکي وي چې د هغه وینا هم نه شمیرل کیږي، د علم خاوندان پدي باندي اجماع کړی ده چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم احادیث د شریعت دوهم مصدر او مآخذ دی نو له همدي لپآره نو د همدي لپآره د هغه د ساتني او پاملرني لپآره بیلابیل ګامونه پورته کړي ترڅو د هغه ساتنه وشي چې د هغه روایت لیکل د هغه تخریج اوشرح او همدارنګه د احکامو تری راویستل دا ټول په ښه ډول سره پرمخ وړي دي خو ځیني ناپوهه شته چې د نص ظاهر ته ګوري بغیر ددی چې د هغه مقاصدو ته وګوري چې دا پخپله جامدوالي او په ډیری مسائلو کې ناپوهي ته لاره هواروي نو د همدي لپآره د نبوي احادیثو د مقاصدو باندي ځان پوهول یو ضروري چاره ګڼل کیږي ترڅو د جامدوالي او همدارنګه د فکري منع والي چوکاټونه لمنځه یوړل شي.

بی له شکه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم احادیث د قرآنکریم ایتونو لپاره شرح کوونکي او همدارنګه د هغه بیانونکي دي پدي هکله الله جل جلاله په لاندنیو بیلابیلو آیاتونو کې فرمایي: «وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ، وَأَنزَلَ اللَّهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُن تَعْلَمُ ۚ وَكَانَ فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا، هُوَ الَّذِى بَعَثَ فِى الْأُمِّيِّـۧنَ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ ءَايٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِى ضَلٰلٍ مُّبِينٍ، وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنَ الْكِتٰبِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُم بِهِۦ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ، وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى فِى بُيُوتِكُنَّ مِنْ ءَايٰتِ اللَّهِ وَالْحِكْمَةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا» ژباړه: «اوس مو دغه ذکر (قرآن) پر تا نازل کړیدی چې ته خلکو ته هغه ښوونه تشریح او توضیح کړې چې د هغو لپاره نازل کړه شوېده، او چې خلك (په خپله هم) غور او فکر وکړي، الله پر تا کتاب او حکمت نازل کړی دی او تا ته یې هغه څه ښودلي دي چې درته معلوم نه ول، او پر تا د الله مهرباني ډېره زیاته ده، همغه ذات دی چې په اُمیانو ناپوهانو کښې یې پیغمبر پخپله له همغوی څخه راپاڅوه، چې هغو ته د دغه (قُرآن) ایتونه لولي، د هغوی ژوند سپېڅلی کوي؛ او هغو ته د کتاب او حکمت ښوونه کوي. پداسي حال کښې چې له دې څخه مخکې هغوی په څرګنده ګمراهۍ کښې غورځېدلي ول، دا مه هېروئ چې الله په د الله ایتونه او د حکمت هغه خبري چې ستاسي په کورونو کښې اورول کیږي، په یاد ولرئ، بېشکه الله باریك لیدونکی او باخبره دی».

امام حسن بصري(۱) او امام شافعي(۱) رحمه الله او نورو علماؤ او زیاتره مفسرینو پدي باندي ټینګار کړي دي چې د حکمت څخه مقصد دلته د پیغمبرصلی الله علیه

(۱) د هغه نوم: الحسن بن یسار البصری چې تابعي دی، په ۱۱۰هـ کال کې وفات شو، (الأعلام از زرکلی ۲/ ۲۲٦).

وسلم احاديث دي[۲]، همدارنګه علماؤ فقهاؤ او د اصول فقه علمانو د پيغمبر صلی الله عليه وسلم احاديثو د دليل نيوني په هکله هم بيلابيلي خبري کړي دي امام شافعي رحمه الله وايي:چې الله جل جلاله خپل رسول محمد صلی الله عليه وسلم د خپل دين لپآره راليږلي دي ترڅو دغه دين او ددغه دين فرايض او همدارنګه د هغه ټول لاری چاري بيان کړي نو له همدي لپآره په ديني چارو باندي پوهيدنه اړينه ده چې بايد په احاديثو باندي ځان پوه کړي او په ترڅ کي د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د احاديثو اطاعت وکړي ترڅو د الله جل جلاله اطاعت وکړي او همدارنګه د هغه نافرمانبرداي هم حرامه ګرځولي ده او همدارنګه په رسول باندي ايمان او باور لرل يی د الله جل جلاله باندي د ايمان او باور لرلو سره تړلی ده لکه چې الله جل جلاله پدي هکله فرمايلي دي: «إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ ءَامَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَٰهَدُوا بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِى سَبِيلِ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الصَّٰدِقُونَ»[۳] ژباړه: « په حقيقت کي خو مؤمنان هغه دي چي پر الله او د هغه پر پيغمبر يې ايمان راوړ. بيا هغوی څه شك ونکړ او په خپلو مالونو او سرونو سره يې د الله په لاره کي جهاد وکړ. همغوی رښتيني خلك دي»، نو له همدي لپآره بشپړ ايمان هغه دي چې په الله جل جلاله او د هغه په رسول باندي ايمان او باور ولری نو که يو بنده د الله جل جلاله عبادت وکړي او په هغه باندي ايمان او باور ولري خو د هغه په رسول باندي ايمان ونلري نو کامل ايمان ديته نشو ويلی تردي پوري چې د هغه په رسو ل باندي هم ايمان او باور ولري[٤].

همدارنګه امام شافعي رحمه الله فرمايلي دي:ماله هيڅا څخه دا ندي اوريدلي چې خلک هغه ته نسبت کوي يا دا چې د علم خاوند وي چې دی سره مخالفت کړی وي چې الله جل جلاله د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د اوامرو تابعداري لازمي ګرځولی ده او د هغه حکم ته بايد درناوي وشي ځکه الله جل جلاله له هغه وروسته بل څوک داسی ندي ګرځولي چې تابعداري کيږي بلکې پيغمبر صلی الله عليه وسلم يی ګرځولی دی او ټولي چاري په کتاب الله د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په احاديثو باندي لازمي ګرځي او  ددي ماسوا نور هر څه ددی دواړو تابع دي هغه څه چې الله جل جلاله په مونږ باندي فرض کړي او له هغه وروسته د پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه راغلي نو ددي دواړو قبلول يو شان دي بايد چې دواړه قبول شي[٥].

---

(۱) هغه: ابو عبد الله محمد بن ادريس شافعی قريشی، د اهل سنت او جماعة دريم امام وو او د شافعي مذهب خاوند او د اصول فقه اسلامي بنسټګر دی په ۱٥۰هـ کال کي په غزه کي پيدا شو د هغه مهم کتابونه: کتاب الأم، او کتاب الرساله دی، په ۲۰٤هـ کال کي په مصر کي وفات شو، (رحمه الله) (الأعلام از زرکلی ٦/ ۲٦).

(۲) پدې هکله تفسير طبری او ابن کثير او نور تفاسير د (۱۲۹) آيت د بقری د سورت.

(۳) [الحجرات: ۱٥].

(٤) کتاب الرساله د امام شافعی: تحقيق: شيخ احمد شاکر ۱/ ۷٥، چاپ: دار الکتب العلميه، بيروت.

(٥) امام شافعی: کتاب جماع العلم ۷/ ۲۸۷، چاپ: دار المعرفه، بيروت.

ابن حزم[۱] رحمه الله وايي: په قرآن کې چيرته دا راغلي دي چې د ماسپخين لمونځ څلور رکعته او ماښام دري او رکوع پدي ډول وي او سجده پدي ډول ده او قرآت پکې ولوستلي شي او سلام وګرځولي شي او په روژه کې هغه شيان چيرته ذکر شوي چې انسان تري ځان وژغوري د سرو او سپينو زرو د زکات کيفيت چيرته په قرآن کې بيان شوي دي او د اوښانو او د پسونو او د غواګانو زکات چيرته بيان شوی دی او همدارنګه ددی شمير چيرته په قرآن کې بيان شوی ده همدارنګه د حج اعمال چې په عرفی باندي د ودريدلو سره پيليږي او د لمانځه صفات او په مزدلفه کې بيا لمونځ کول او د جمرات ويشتل او احرام تړل او همدارنګه د بعضي کارونو څخه ځان وژغول او همدارنګه د غلا کوونکي لاس پري کول او همدارنګه د محرم رضا صفت او په خوړو کې ځيني حرام کړي شيان او د ذبح صفتونه د حدودو احکام د طلاق د واقع کيدو صفت د بيع احکام او همدارنګه د سود اجکام او ځيني نور مسايل او همدارنګه نذرونه د حبس او د محبس مسايل او د صدقي او د فقی داسی نور بيلابيل ډولونه چيرته په قرآن کې بيان شوي دي په قرآن کې يواځي په اجمالي ډول سره د احکامو ذکر شويدي که چيرته مونږ داسی پريښودل شوی وي نو به مونږ څنګه پدي باندي عمل کولی بلکي پدي ټولو کې مونږ او تاسی رجوع هغه څه ته کوو چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم مونږ او تاسو ته بيان کړي دي چې ددی ټولو بيان يی په خه ډول سره کړی دی[۲].

امام شوکاني[۳] رحمه الله فرمايي:چې د علم خاوندانو پدي باندي ټينګار کړي دي چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم احاديث د احکامو په رامنځته کولو کې مستقل دي او دا د قرآن په څير د حلال والي او د حرام والي احکام پکې ذکر کړی شويدي او د پيغمبرصلی الله عليه وسلمڅخه دا ثابته شوی ده چې فرمايلي دي: خبردار ماته قرانکريم راکړ شويدي او د دی په څير د قرآن سره نور هم څه راکړل شويدي يعني مقصد يی دادی چې د قرآن ماته راکړل شوی او د قرآن په څير احاديث ماته راکړل شويدي چې په قرآنکريم د هغه ذکر ندی شوی لکه د احلي خرونو د غوښي حراموالي اوهمدارنګه د هغو د حيواناتو د غوښي حراموالي چې هغه شکونکې وي اود مخوکې لرونکي مرغانو غوښه حرامه کړی شوی ده او همدارنګه ددی په څير نور هم بيلابيل مسايل شته چې په هغه کې ندي ذکر کړي شوی، هدارنګه هغه وايی چې ددی مقصد دادی چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د احاديثو د دليل نيوني ثابتوالي او د هغه استقلاليت د احکامو په

---

(۱) ابو محمد على بن احمد بن سعيد بن حزم اندلسى قرطبى، د هغه مهم کتابونه: کتاب المحلى، کتاب الفصل فى الملل والأهواء والنحل، کتاب الإحکام فى أصول الأحکام، کتاب طوق الحمامه. په ٤٥٦هـ/ ١٠٦٤م وفات شو. (الأعلام از زرکلى ٤/ ٢٥٤).

(۲) الإحکام فى أصول الأحکام د ابن حزم ظاهرى ٢/ ٧٩، دار الآفاق الجديده، بيروت.

(۳) محمد بن على بن محمد بن عبد الله شوکانى، فقيه مجتهد او د يمن د مهمو علماؤ څخه وو، د هغه مهم کتابونه: نيل الأوطار، فتح القدير، په ١٧٥٩هـ/ ١٨٣٤م کال کې په صنعا کې وفات شو. (الأعلام د زرکلى ٦/ ٢٩٨).

رامنځته کولو کې یو دیني ضرورت دی او پدې کې هیڅوک هم مخالفت نکوي یواځې هغه څوک مخالفت کوي چې د اسلام په دین کې پوره پوهه ونلري[١].

امام الوسي[٢] رحمه الله فرمایلي دي چې د الله جل جلاله دغه وینا چې فرمایي: «أَطِيعُوا اللَّهَ» ژباړه: «د الله جل جلاله اطاعت وکړئ» مقصد یی دادای چې د هغه اطاعت وکړي په هغه څه کې چې تاسو یی امر کړی دی او د هغه څه څخه ځان وژغوری چې تاسی یی منع کړي یاستی همدارنګه وروپسي فرمایي: «وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ»ژباړه: «د نبی کریم صلی الله علیه وسلم اطاعت وکړئ» په هغه څه کې اطاعت وکړي چې تاسو ته یی رسولي دي چې پدې کې احکام راځي او هر هغه څه چې تاسو ته یی امر کړي او تاسو یی منع کړي یاست د هغه څخه ځان وژغوری دلته هماغه یو فعل ذکر کړی شویدی چې د الله اطاعت یی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اطاعت سرع تړلی دی او پدې کې دیته اشاره ده چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه څه چې مونږ ته بیان کړي دي هغه که په قرآن کې هم نه او په احادیثو کې راغلي دي په هغه باندي باید مونږ عمل وکړو ځکه چې په احادیثو کې هم په مستقل ډول داسی بیلابیل احکام شته چې د احادیثو له لاری ثابت شویدي[٣].

استاذ عبدالوهاب خلاف[٤] رحمه الله وایی: سنت یا به د قرآنکریم تفصیل بیانونکې وي یا به تفسیر کوونکي وي د هغه څه لپآره چې په قرآنکریم په مجمل ډول سره ذکر کړی شویدي یا هم هغه څه مقید کوونکي به وي چې په مطلق ډول راغلي دي یا هم د هغه څه خاص کوونکي وي چې په عام ډول راغلي دي نو دغه ډول تفصیل یا مقیدوالی یا خاصوالی چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې راغلي دی د هغه مقصد بیانوکني دی چې په قرانکریم کې راغلی دی ځکه الله جل جلاله پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته دا حق ورکړي دي چې د قرانکریم د نصوصو بیان وکړي لکه چې الله جل جلاله فرمایي: « وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ» ژباړه: « اوس مو دغه ذکر (قرآن) پر تا نازل کړیدی چې ته خلکو ته هغه ښوونه تشریح او توضیح کړې چې د هغو لپاره نازل کړه شوېده، او چې خلك (په خپله هم) غور او فکر وکړي» [النحل: 44]، او لدي جملي څخه هغه احادیث دي چې د لمانځه په هلکله بیان یی کړی دی او د زکات او د بیت الله شریف د حج په هکله یی معلومات ورکړي دي ځکه چې قرانکریم یواځې د لمانځه کولو امر کړی دی او زکات ورکولو او د بیت الله

---

(١) ارشاد الفحول إلى تحقيق الحق من علم الأصول د امام شوکانی ١/ ٩٦، دار الكتاب العربی.

(٢) محمود شهاب الدين الألوسی، د آلوس ښار ته يي نسبت کيږي دا د انبار په ولايت د فرات د سيند په غاړه پروت ښار دی مفسر، محدث، فقيه، اديب او شاعر وو، د هغه د مهمو کتابونو څخه: تفسير روح المعانی دی، په ١٢٧٠هـ/ ١٨٥٤م وفات شو، (الأعلام از زرکلی ٧/ ١٧٢).

(٣) روح المعانی فی تفسير القرآن العظيم والسبع المثانی: د امام آلوسی ٥/ ٦٥، چاپ: دار إحياء التراث العربی، بيروت.

(٤) محدث، اصولی، فقيه او په قاهره کې د عربي ژبي د اکاډمی غړی وو، په ١٨٨٨م کال کې ستر ګې وغړولي، زيات کتابونه لري په ځانګړې توګه په اصول فقه کې، په ١٩٢٠م کې په شرعي محاکمو کې د قاضی په توګه غوره کړای شو، بيا په ل١٩٢٤م کال کې د اوقافو د وزارت د مساجدو د عمومي مشر په توګه غوره کړای شو، په ١٩٣٤م کال کې د قاهری پوهنتون د حقوقو د فاکولتي د استاد په توګه غوره کړای شو، په ١٩٧٥هـ کال کې وفات شو. د هغه د ژوند په هکله دا کتاب وګورئ: "علم اصول الفقه وخلاصة تاريخ التشريع" ص٣.

شریف د حج کولو په تفصیلي ډول سره د لمانځه د رکعتونو شمیر او همدارنګه د زکات اندازه د حج لاره او ځیني نور مسایل یی ندي بیان کړي بلکي دا ټول د پیغمبر صلی الله علیه وسلم احادیثو چې پدي کې عملي او قولي احادیث دي چې دغه مجمل شیان یی په تفصیل ډول سره بیان کړي دي همدارنګه الله جل جلاله بل ځاي کې فرمایي: «وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا» ژباړه:«په داسي حال کښي چي الله تجارت روا او سود ناروا کړیدی» [البقرة: 275]، نو احادیث دي چې صحیح بیع او فاسده بیع مونږ. او تاسو ته بیانوي او همدارنګه د سود ډولونه بیانوي او الله جل جلاله مرداره حرامه کړی ده نو همدا ده چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم احادیث ددي مقصد مونږ. او تاسو ته بیانوي چې د بحر د مرداره چې په هغه کې ماهیان او نور راځي هغه جائز دی همدارنګه ددی ترڅنګ نور بیلابیل احادیث راغلي دي چېډ قرانکریم اجمالي ډول باندي راغلي ایتونو بیان کوي او هغه په تفصیل سره وړاندي کوي اوهمدارنګه مطلق شیان مقید کوي او عام شیان خاص کوي نو پدي سره د پیغمبر صلی الله علیه وسلم احادیث د قرانکریم بشپړونکي او هغه سره تړلي دي[1].

نو ددي ټولو مخکینیو د قرانکریم نصونه او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم احادیث او د علم د خاوندانو د ویناوي څخه دا څرګندیږي چې د علماؤ پدي باندي اجماع ده چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم احادیثو مرتبه ډیره لوړه ده او د هغه نیونه باید وشي ځکه چې احادیث د قرانکریم شرح کوونکي او تفسیرونکي او د قرانکریم د ایتونو بشپړونکي او بیانونکي دي او پدي کې هیڅوک اختلاف او جګړه نکوي مګر هغه څوک چې هغه انکار وکړي او یا هم حسد کوي او یا هم داسی یو شخص به پدي کې اختلاف کوي چې هغه د علم خاوند نه وي او د علم د خاوندانو په وړاندي د هغه رایه بیا مهمه نده او په هغه باندي نیونه هم نه کیږي.

(۱) علم اصول الفقه: د استاد عبد الوهاب خلاف، ص٤٠، چاپ: مطبعه المدنی، مصر.

## درېيم مبحث

## د نوښت لازم والی

## د نوښت لازم والی

بي له شکه د فقهي مسايلو وړاندي کول او د اوسني عصري مسايلو او د اجتهاد وړ مسايلو کې فکر کول ژوری پوهی ليدلوری شجاعت جرأت او همدارنګه د چارو د ښه پر مخ وړلو لپاره تنظيم ته اړتيا لرې.

همدارنګه د نوښت ترسره کونکی ديته اړتيا لري چې د الله جل جلاله لپاره خالص نيت ولري ترڅو هغه ورسره د هغه چا په مقابل کې چې نوموړي ته د تور ګوتی نيسي او د اجتهاد دروازه تړلی ده په ځواب ويلو کې مرسته وکړې همدارنګه د هغه چا په مقابل کي د ځواب ويلو توان ولري چې قسم يي خوړلي دی چې امت کې به هيڅ کوم بل مجتهد پيدا نشي او امت يي همداسي شنډ پريښي دی دوی هير کړي او پدي نه پوهيږي چې الله جل جلاله په علم فقه او پوهه باندي يو قوم ندی ځانګړی کړی بلکي په ټولو کې دا راتلای شي او همدارنګه يواځي يوه زمانه نده غوره کړی بلکي په هره زمانه کې هر چاته ځانګړتيا ورکولی شي او د محمد صلی الله عليه وسلم په امت کې دا خير او ښيګڼه به د قيامت تر ورځې پوري جاري وي.

ترڅو مونږ وکولای شو د هر ډول شک لاره مو بنده کړي وي نو زه په لاندی ثابتو چارو باندي ټينګار کوم:

1- هغه چې په قطعي دليل باندي ثابت شوی وي چې دغه دليل هم په ثبوتوالي او هم په دلالت کې قطعي وي او امت ور باندی اجماع کړی وي او د ضرورت له کبله د ديني چارو څخه ميرل شوی وې لکه د عقايدو بنسټونه د اسلام فرايض چې پدي کې لمونځ روژي زکات او د هغه چا لپاره چې د بيت الله د حج کولو توان لري فرضوالي دا ټول هغه څه دي چې پدي کې اختلاف نشته او دا هغه چاری دي چې د زماني او ځاي او د حالاتو او د اشخاصو په بدلون سره نه بدليږي نو د اجتهاد مجال په هر هغه شرعي حکم کې دی چې په هغه کې شرعي دليل موجود نه وي امام ابوحامد الغزالي[1] پخپل کتاب المستصفي کي وايي: د پنځو لمونځونو او د زکات واجبوالی او هغه څه چې امت په هغه باندی اتفاق کړی وي او دشريعت د لويو بنسټونو څخه وي او په هغه کې قطعي دليلونه موجود ي که څوک د هغه څخه مخالفت وکړي نو ګنهګاريږي او پدي کې اجتهاد لپاره هم ځای نشته[2].

2- مونږ په پوره احترام او درناوی د مجتهدو امامانو رايو ته نظر کوو لکه امام ابوحنيفه، امام مالک، امام شافعي امام احمد بن حنبل رحمهم الله او

(۱) امام ابو حامد محمد بن محمد غزالی (وفات: ۵۰۵هـ) فيلسوف، متصوف او مسلمان ليکوال وو، د دوو سوو څخه زيات کتابونه يي ليکلي دې د حجة الاسلام لقب يي ګټلی د هغه د مهمو کتابونو د جملي څخه: احياء علوم دين، الإقتصاد فی الإعتقاد او المستصفی دې. (طبقات الشافعية الكبرى، د سبکی ٦/ ١٩١، تحقيق: دكتور محمود محمد الطناحی، ناشر: هجر للطباعة والنشر والتوزيع، چاپ: دوهم، ١٤١٣هـ. والأعلام د زرکلی ٧/ ٢٢).

(۲) المستصفی د ابی حامد غزالی ص٣٤٥، تحقيق: محمد عبد السلام عبد الشافی، چاپ: دار الكتب العلمية.

هغه نور علماء او فقها چې د هغو په لاره اجتهاد ته تللي دي، مونږ پدی نظر یو چې دا ټول علماء د علم او فضیلت خاوندان دي دوی هریو په اجتهاد او د خپلی زماني د غوښتنو سره سم د فقهي مسایلو په را ویستلو کې زیار ویستلی دی او امت هم د دوی مسایل په ډیر رضامندی سره قبول کړي دي.

3- همدارنګه پدي هم باور لرو چې ځیني فتواګاني د هغوی د عصر زماني د ځاي او یا هم د هغه چا د احوالو سره برابر او مناسب وو چې د دوی څخه به پوښتني کیدلی او ښايي يو څه د هغوی په عصر کې راجح وي چې په هغه وخت کې مصلحت د هغه تقاضا کوله او په بله زمانه کې هغه راجح نه وي ځکه چې د زماني حالت او همدارنګه مصلحت ورسره بدلیږي او په یوه زمانه یا په یو چاپیریال او یاهم په معلومو حالاتو کې فتوا ورکول ښايي لدي څخه بله فتوا په بله زمانه کې غوره وي یا دا چې چاپیریال بدل شوی وي یا حالات او یا داسی نور خو پدي شرط چې دا ټول د شرعي معتبرو دلیلونو په رڼا کې ترسره شي او همدارنګه د شریعت د عامو مقاصدو ته هم نظر وکړی شي او همدارنګه د هغه چا څخه دا صادر شي چې هغه د اجتهاد او د نظر خاوند وي.

امام قرافي[1] رحمه الله پخپل کتاب احکام کې وايي: مفتي لپاره مناسبه ده چې کله ورته يو څوک راشي او پوښتنه تری وکړي او هغه نه پوهیږي چې پوښتنه کوونکی د کوم ځای دی او همدارنګه د فتوا د ځاي په هکله هم نه پوهیږي نو باید تر هغه پوري فتوا ورنکړي ترڅو چې د هغوی د عاداتو او همدارنګه د هغوی د ښار عاداتو په هکله پوښتنه تری نه وي کړی چې ایا پدغه ښار یا کلي کې کوم ډول عرف شته او که څنګه؟[2].

4- مونږ پخپله اود بل په رایه باندی باور لرو او ددی امکانیت هم شته چې په ځیني اختلافی مسایلو کې بیلابیلي رایي سمی وي ځکه چې د فتوا حالات او د هغي مقدمي توپیر لري لکه چې زمونږ پخوانیو علماؤ ویلي چې زما سمه رایه امکان لري چې غلطه وي او د بل چا غلطه رایه ددي امکانیت لري چې سم وي خو مونږ ددي څخه نور هم پراخه ځو او وایو چې ښایي دواړه رایي سمي وي خو یوه رایه راجحه او بل هم غیر راجح وي نو مونږ هغه غوره کوو چې هغه راجح وي او ددی ترڅنګ د هغه رایي بی احترامي هم نه کوو چې راجح نه وي تر هغه پوري چې مونږ پدی پوه شو چې د هغه خاوند هم د اجتهاد وړتیا لري او د هغه رایه هم په شرعي دلیل نیونه کې برخه لري راجح قولونه تل داسی نه وي چې د خطا والي

(۱) ابو العباس: شهاب الدین احمد بن ادریس مالکی معروف په قرافی، په مصر کې يي سترګې وغړولي همدلته يي ژوند وکړ او بیا همدلته وفات شو په فقه او اصول فقه کې لوی کتابونه لرې په: ٦٨٤هـ کې وفات شو، (الأعلام از زرکلی ۱/ ۹۵).

(۲) الإحکام فی تمییز التفاوی عن الأحکام د امام قرافی، ص ۲۳۲، دار البشائر الإسلامیة للطباعة والنشر والتوزیع، بیروت لبنان.

امکانیت پکې شتون ونلري او هغه قولونه چې راجح نه دي تل ددی وړتیا نلري چې هغه لمنځه یوړل شي.

5- د اوسني ژوند هغه پرمختګونه چې په بیلابیلو برخو کې رامنځته شوي چې پدي کې علمي اقتصادی تکنالوجي او نوري برخي راځي او د نړۍ په کچه ټلوالي او ټولني او همدارنګه سیاسي اقتصادي او ټولنیز بدلونونه رامنځته شوي دي دا ټول په علماؤ او فقهاؤ باندي دا لازموي چې د دغه بدلونونو په بدل کې یو واري بیا مسایلو ته نظر وکړي ترڅو د جامد والي د چوکاټ څخه ووځي چې ځینی تندرو ډلو پخپل جامد فکر سره په ټولنه باندي فرض کړي دي.

6- د اسلام مبارک دین د اجتهاد دروازه پراخه پرانستلی ده زمونږ نبي کریم صلی الله علیه وسلم د اجتهاد په بنسټ باندي اقرار کړی دی او هغه پخپل ژوند کې هم د اجتهاد څخه ګټه پورته کړی وه کله چې معاذ بن جبل یي یمن ته لیږلو نو ورته یي وفرمایل: کله چې تاته کومه مسأله وړاندي شي نو فیصله به څنګه کوي؟ هغه ورته وویل د الله جل جلاله په کتاب باندی به فیصله کوم، بیا ورته نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل که چیرته د الله په کتاب کې پیدا نکړي؟ وی ویل د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په احادیثو به فیصله کوم، بیا یي ورته وفرمایل: که چیرته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې پیدا نکړي؟ نو هغه وویل چې اجتهاد به کوم او کوتاهي به نکوم نو معاذ رضي الله عنه وایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم پخپل مبارک لاس باندي زما سینه وډبوله او وي ویل: د الله جل جلاله حمد او ثنا ده چې د الله جل جلاله د استازي استازی په هغه څه باندی بریالی شوی دی چې الله او د هغه رسول پري راضي کیږي[1] په حدیث کې د «الو» د کلمي څخه مقصد دا دی چې په مسئله کې به د اجتهاد او د فکر کولو له کبله کوتاهي نکوم.

بي له شکه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دغه حدیث د اجتهاد او د عقل څخه د کار اخیستني په برخه کې چې د قیامت د ورځي پوری به دا همداسی روان وي یوه ستنه او بنسټ ګڼل کیږي ځکه چې معاذ بن جبل رضي الله عنه په ځواب کې ورته وویل چې د الله جل جلاله په کتاب کې به نظر کوي که چیرته مسئله یي په هغه کې پیدا کړه نو د هغه مطابق به حکم کوي او هغه څه چې د الله په کتاب کې راغلي وي هغه به پلي کوي برابره خبره ده چې دغه حکم د ثابتوالي او د دلالت والي له اړخه قطعي وي او که دغه حکم د ثابتوالي له کبله قطعي وي او د دلالت والي له کبله ظني وي یعنی پدي معنی چې عقل ته هم پکښې اړتیا لیدل کیږي چې حکم

(١) سنن ابی داود، کتاب اقضیه، باب اجتهاد رأی په قضاء کې، حدیث نمبر (٣٥٩٢).

را خلاصه کړی شي خو بیا هم نص باید په واقعیت باندی تطبیق شي که چیرته دغه مسئله یي په قرانکریم کې پیدا نکړه چې نه قطعي دلیل پکې موجود وي او نه هم ظني نو بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیثو ته رجوع کوي برابره خبره ده چې دغه حدیث د قرانکریم د نص تفسیر کوي او یا هم مجمل شیان په تفصیل سره بیانوي او یا هم مطلق شیان مقید کوي او یا هم عام شیان خاص کوي او همدارنګه برابره خبره ده چې دغه حدیث د الله جل جلاله د کتاب په رڼا کې د شریعت د عامو مقصدونو تفصیلي حکم بیانوي او که چیرته په مسئله کې یي قطعي دلیل پیدا نکړ او نه یي هم حدیث پیدا کړ نو بیا به د عقل او د قیاس څخه کار آخلي او مشابه او ورته شیانو سره یو په بل باندي قیاس کوي او بغیر د کوتاه والي څخه به اجتهاد کوي.

پدغه مسئله کې مونږ غواړو لږ تم شو:

لومړی: معاذ بن جبل رضی الله تعالی عنه نبي کریم صلی الله علیه وسلم پخپل ژوند کې یمن ته لیږلي وو نو معاذ رضي الله عنه نبي کریم ته داسی ونه ویل چې که چیرته زه یوه مسئله د الله جل جلاله په کتاب او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې پیدا نکړم زه به تم کیږم او انتظار به وباسم تردی چې تاسو ته رجوع وکړم او یا به تاسو ته استازی ولیږم او نبي کریم صلی الله علیه وسلم هم د هغه نه دا غوښتنه ونکړه چې په مسئله کې تم شي او ماته رجوع وکړي بلکي پخپل ژوند کې یي هغه ته د اجتهاد ازادي ورپه برخه کړه او له هغه څخه یي تردي پوري پوښتنه هم ونکړه چې که چیرته یو مسئله په قرانکریم او احادیثو کې پیدا نکړی تم شي او هغه ته رجوع وکړي بلکي هغه ته یي د اجتهاد لپاره پراخه ډګر پریښوده او ورته یي وفرمایل:چې حمد او ثنا د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د خپل رسول استازی یي پدي باندي بریالی کړ چې د الله او د هغه رسول پري راضي کیږي.

دوهم: نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: یقینا الله جل جلاله د هرو سلو کلونو په سر کې پدغه امت کې داسی څوک رالیږي چې د هغوی دین کې به نوښت راولي(۱)، دا طبعي خبره ده چې دغه نوښت د اجتهاد او د نظر پرته نشي رامنځته کیدلي ترڅو د زماني او د نوښتونو او د حالاتو مراعات پکې وکړي شي او همدارنګه د شریعت د عامو مقصدونو په رڼا کې د واقعیتونو څیړنه وشي.

دریم: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د فاني نړۍ څخه له رحلت وروسته د هغه صحابه کرامو هم د هغه صلی الله علیه وسلم په نقش قدم باندي

---

(۱) سنن ابی داود، کتاب ملاحم، باب هغه چې د یوې پیړۍ د تیریدو په هکله ویل شوي، حدیث نمبر (٤٢٩٣).

روان وو عمر رضی الله عنه د قضاء په برخه کې یو تاریخي لیک ابوموسی الاشعري رضي الله عنه ته لیږلي وو چې په هغه کې لیکلي وو د الله جل جلاله د بنده عمر بن خطاب چې امیر المومنین دی له طرفه ابوموسی اشعري ته اما بعد! قضاء یو فریضه ده او محکمه فریضه ده او یو پاتی شوی سنت دی څه چې تاته وړاندی کیږي په هغه باندی ځان پوه کړه ځکه چې په حق باندی خبري کول ګټه تر هغه نه رسوي چې هغه پلی نشي او پخپل مجلس کې د خلکو ترمنځ د نرمښت څخه کار واخله او خپل مخ د خلکو په وړاندی پداسی ډول سره وګرځوه چې ظالم سړی د تا څخه کوم ډول طمع ونکړي او کمزوري سړی ستا د عدالت څخه مایوسه نشي او کله چې د الله په کتاب او د نبي کریم په احادیثو کې څه پیدا نکړي نو خپله سینه کې او خپل ځان سره فکر وکړه اوځان پوه کړه او همدارنګه مثالي او مشابه شیان وپیژنه او پدغه چارو کې قیاس وکړه بیا په الله باندی توکل وکړه او په حق باندي ودریږه[1].

دلته هم مونږ ګورو چې عمر رضی الله عنه د ابي موسی اشعري نه دا غوښتنه نده کړی چې هغه تم شي او رجوع ورته وکړي او همدارنګه له هغه څخه یې دا غوښتنه هم نده کړی چې خلک راټول کړي ترڅو د هغو څخه په مسأله کې پوښتنه وکړي اګر که د خلکو راټولول او مشوره کول مستحب کار دی خو دا په هغه وخت کې چې اړتیا ورته موجوده وي خو لدي پرته د حاکم او یا هغه څوک چې اجتهاد کوي په هغه وخت کې دا کار سرته رسوي چې اړتیا ورته موجوده وي مونږ همدارنګه پدي باندي تاکید کوو چې د حاکم رایه په هغه مسایلو کې چې اختلاف پکښي رامنځته شوی وي هغه فیصله پکې کولاي شي او د هغه رایه د شریعت عامو مقصدونو په رڼا کې مهمه ده او اعتبار ورته ورکول کیږي.

7- لازمه ده چې مونږ پخپل فکر او اعتبار کې دا هم ونیسو چې هر بدلون او نوښت په دیني قضایاو کې چې د بشریت په تاریخ کې رامنځته شوی دی تر هغه پوري د ټول امت ترمنځ د اجماع او اتفاق ځاي ورکي ندی رامنځته شوی ترڅو چې د یوي زماني لپاره په امتحاني ډول باندی پلي شوي نه وي برابره خبره ده چې دا زمانه اوږده وي او که لنډه وي خو تر هغه پوری چې د نوښت کوونکو قناعت رامنځته شي او هغوی ددی په وړاندی ودریږي او خپل اجتهاد وکړي او ددی توانمندي ولري چې پخپلو نوي افکارو سره خلکو ته قناعت ورکړی هغه څوک چې تقلید کوي او د هغه ساتنه کوي او د اوسني وضعیت څخه ګټه پورته کوي هغوی هیڅکله هم دیته نه تسلیمیږي او په اسانۍ او چټکۍ سره د نوښت ګرو دغه نوښت په

(۱) لاندي کتابونه لیدلای شئ: سنن دار قطنی، کتاب قضاوت او احکام ، کتاب عمر رضی الله عنه ابی موسی اشعری (۲۰۷/٤) ته، دار المعرفه، بیروت، لبنان، او کتاب اعلام الموقعین عن رب العالمین د علامه ابن قیم جوزی، (۸۵/۱) تحقیق او څیرنه: طه عبد الرءوف، چاپ: دار الجیل، بیروت.

ځان نه مني ترهغه پورې چې دغه نوښت ګر وکولاي شي چې په ټولنه کې بدلون رامنځته کړي او خپل افکار د ټولني په خلکو باندی ومني ترڅو ددغه جامد فکر خاوندان دیته اړ کړي چې دغه ډول نوښت دوی قبول کړي.

8- مونږ پدي باندي ټینګار کوو هغه نوښت چې مونږ هڅه کوو هغه رامنځته کړو لازمه ده چې دشریعت او عقل د تلي سره برابر ترسره شي او پدغه ډګر کي باید هغه چاته موقع ورنکړی شي چې هغه ددي وړتیا نلري او یا هم متخصص خلک نه وي او یا هم هغه کسان چې د نوښت ترنامه لاندي د دین ثابت شیان لمنځه وړي پدغه ډګر کې باید د ډیر دقت څخه کار واخیستل شي ځکه چې دغه کار ډیر خطر لرونکی هم دی نو د همدي لپاره باید په ډیر دقت سره نوښت ترسره شي ځکه چې داخلي او بهرني ننګوني ورته مخامخ کیږي او که چیرته هغه څوک چې ددی وړتیا ولري او ددی متخصص وي که اجتهاد وکړي او هغه خطا هم وي نو هغه ته یو اجر ورکول کیږي او که اجتهاد وکړي او اجتهاد یي سم وي نو دوه اجره بیا ورکول کیږي لومړي اجر یي د اجتهاد له خاطره یي چې کړی دی او بل اجر یي هم ددي لپاره چې اجتهاد یي سم کړی دی خو هغه څوک چې بغیر د علم څخه فتوا ورکوي که چیرته هغه فتوا سم هم وي نو هغه ته یو ګناه ورکول کیږي او که چیرته فتوا یي غلطه وي نو دوه ګناه وي هغه ته مخامخ کیږي لومړي دا چې هغه داسی یو ځاي ته لاس اچولی دی چې وړتیا یي نلري او بل دا چې د هغه د خطا والي له کبله په ټولنه او په دین دواړو باندی ناوړه اغیزه غورځیږي ځکه چې دین او ټولنه هغه چا ته اړتیا لري چې هغه جوړښت کوی نه هغه چاته چې هغه ویجاړونکي وي.

همدارنګه مونږ پدي باندي ټینګار کوو چې د عقیدي ثابتو شیانو ته لاس اچول او د هغه څه څخه انکار کول چې د امت په وجدان کې د پیړیو څخه همداسی پاتي وي دا یواځي تندروی او ترهګری ته لاره هواروي په ځانګړي توګه په اوسني حالاتو کې چې مونږ پري تیریږو ځکه تندروی ډلي ددغه ډول کارونو څخه ګټه پورته کوي ترڅو په ثابتو شیانو کې افراطیت رامنځته کړي چې پدغه ډګر کي مونږ ته مناسبه ده چې خبرداره وسو او د هغوی مخنیوی وکړو کله چې مونږ غواړو ددغه تندروی او تشددت ریښي وباسو نو لازمه ده چې د هغه څه په هکله فکر وکړو چې څنګه کولای شو دغه ریښي لمنځه یوسو ځکه هره کړنه چې ترسره کیږي په مقابل کې بله کړنه ترسره کیږي چې ورسره په ټکر کې وي او مونږ وایو چې هر څه دوه اړخونه او یوه منځنی برخه لري که چیرته ته یو اړخ ونیسي نو بل اړخ کګیږی که چیرته ته منځنی برخه ونیسي نو دواړه

اړخونه ودریږي نو د همدي لپاره امام اوزاعي[١] رحمه الله ویلي: هیڅ یو داسی امر الله جل جلاله ندی کړي مګر دا چې شیطان به د هغه اختلاف کولو او هغه یي په دوو خصلتونو باندي کولو یا به یي د حد څخه تیری کولو او یا به ډیره کوتاهی کوله، نو پدي ځاي کې مونږ وایو چې باید د اسانی لاره غوره کړی شي او د سختۍ لاره پریښودل شي د زغم څخه کار واخیستل شي تندروي ترسره نشي د دیني او اخلاقي ارزښتونو ساتنه وشي هیڅ ډول تندروی او د حد څخه تیری ترسره نشي او همدارنګه جامدوالي باید یکې رامنځته نشي ځکه چې د تندروۍ او التزام ترمنځ ډیر نری تار موجود دی او همدارنګه د اساني او د سختی ترمنځ هم ډیر نری تار موجود دی او پدغو دقیقو توپیرونو باندي یواځي هغه څوک پوهیږي چې هغه عقل ولري او د هغي پولي پیژني او له هغه څخه نه غافله کیږي امام سیوطي رحمه الله پخپل کتاب الاتقان في علوم القران[٢] کې د ماوردي رحمه الله څخه روایت کړی دی چې فرمایي: ما د ابي اسحق ابراهیم  بن مضارب بن ابراهیم څخه اوریدلي دي چې ویل یي: چې ما له خپل پلار څخه اوریدلي دي چې هغه به ویل چې ما د حسین بن فضل څخه پوښتنه وکړه او ورته مي وویل: چې ته د قرانکریم څخه د عربو او د عجمو لپاره بیلابیل مثالونه را وباسه ایا ته د الله جل جلاله په کتاب کې دا پیدا کوی؟ نو هغه وویل چې په چارو کې غوره دا دي چې منځلاریتوب غوره کړی نو هغه وفرمایل چې هو په څلورو ځایونو کې ما دا پیدا کړی دي لکه چې الله جل جلاله په لاندنیو بیلابیلو آیاتونو کې فرمایي: «قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَلَا بِكْرٌ عَوَانٌ بَيْنَ ذَٰلِكَ ۖ فَافْعَلُوا مَا تُؤْمَرُونَ، وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا، وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا، وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا» ژباړه: « موسی علیه السلام وویل: "الله لارښودنه کوي چې هغه دي داسي غوا وي، چې نه زړه وي نه وړه؛ بلکي د منځني عمر لرونکې وي؛ نو څه چې درته امر کیږي هغسي وکړئ، هغه کسان چي کله لګښت کوي، نو نه بېځایه لګښت او نه بخیلي کوي. بلکه د هغو لګښت د دغو دواړو سرحدونو په منځ کښي په میانه روۍ ولاړ وي، مه خپل لاس تر غاړي تړه او مه یې بیخي داسي غځولی پرېږده چي پړ او بیوسي پاته شي، او خپل لمونځ مه په ډېر لوړ اواز سره کوه او مه په ډېر ټیټ اواز سره، ددې دواړو په منځ کښي منځنۍ درجه لهجه غوره کړه».

9- مونږ پدی باندي ټینګار کوو چې باید د ژوننند په ټولو برخو کې چې پدي کې فکري سیاسي اقتصادي او تجارتي اړخونه راځي د فکر کلتور عام

(١) کتاب المقاصد الحسنه د امام سخاوی، ص (٣٣٢). چاپ: دار الکتاب العربی.

(٢) کتاب الإتقان فی علوم القرآن د امام سیوطی ٤/ ٤٨، تحقیق محمد ابوالفضل ابراهیم، ناشر: د کتابونو لپاره د مصر عمومی اداره، چاپ: ١٣٩٤هـ/ ١٩٧٤م.

کړی شي او د هغو دایرو څخه بهر شو چې هغه جامدی دایري دي او هغه چوکاټ ته ځان داخل کړو چې په فکر او په عقل باندی ولاړ وي مونږ ټول باید دغه جامدوالی لمنځه یوسو او د فکر د کلتور د خپراوي لپاره کار وکړو او دا باید د کلتوري ناستو او همدارنګه د ورکشاپونو او د غونډو له لاری ترسره کړو ځکه چې ځیني داسی خلک شته چې په نوښت کي یواځي فکر کولو باندي هم تینګار کوي چې دا په دین کې د ثابتو شیانو څخه وتل دي او د هغه لمنځه وړل دي اګر که دغه چاره چې اجتهاد پکې کیږي هیڅ ډول اړیکه د ثابتو کارونو سره ونلري او یا هم د هغه څه سره اړیکه ولري چې هغه هم په ثابتوالي او هم په دلالت کې قطعي وي خو دغه خلک چې نه علم لري او نه هم پوهه یواځي د جامدوالي لاره یي غوره کړی ده او هغه څوک چې نوښت ترسره کوي په هغه باندي د کفر خیانت او د دین څخه دوتلو ټاپي لګوي، دوی نه مجتهدین دي او نه هم د اختصاص خاوندان دي او نه هم د شرعي علومو څیړونکي دي خو یواځي دیته ناست وي چې په ټولنه باندي د بدعت جهالت او د کفر ټاپي ولګوي تردی پوری چې چاودني رامنځته کوي او د وینو د تویونی اجازه ورکوي، نو دا ټول له مونږ ټولو څخه ددی غوښتنه کوي چې باید په چټکي او په پیاوړي ډول خوځښت وکړو او ددغه جامد فکر او همدارنګه د تندرو ډلو د فکر د مخنیوي لپاره لاس په کار شو ترڅو ټولنه او بشریت د فکري تندروی او هغه څه چې ددی پوري تړاو لري چې پدي کې ترهګري راځي او همدارنګه هر هغه تندروي چې په سلوک کې وي او که په منهج کې وي له منځه یوسو.

# څلورم مبحث

## د اسلامي رسالت بنسټ او د هغي په

## مقاصدو باندي د ځان پوهولو ضرورت

## د اسلامي رسالت بنسټ او د هغې په مقاصدو باندې د ځان پوهولو ضرورت

د اسلام مبارک دین د بشپړ عدالت رحمت زغم اسانۍ او د انسانیت دین دی او د علم خاوندان چې پدی کې پخواني او اوسني علماء راځي ټولو پدی باندې ټینګار کړی دی چې دغه لویې موخې چې ثابتوي دا ټول د اسلام د مبارک دین بنسټونه ګڼل کیږي او هغه څه چې ددې سره په ټکر کې وي په واقعیت کې د اسلام د مبارک دین او د هغې د مقاصدو او د موخو سره په ټکر کې راځي ځکه چې د اسلام مبارک دین د خو اخلاقو دین دی او د اسلام رسالت د همدی لپاره راغلی دی ترڅو دغه خه اخلاق بشپړ کړي لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: زه ددي لپاره رالیږل شوی یم ترڅو ښه اخلاق بشپړ کړم[1]، نو چیرته چې ریښتینولي وفا عدالت امانتداری نیکي صله رحمي مهرباني سخاوت نجات میرانه د خلکو څخه د زیان لرې کول او همدارنګه د لارې څخه د زیان رسوونکي شیانو لرې کول د غرق شوي سره مرسته او همدارنګه مرسته غوښتونکي سره مرسته دا ټول د اسلام مبارک دین موخې او بنسټونه دي، چیرته چې دروغ خیانت غدر د وعدو خلاف ورزي د صله رحمۍ پرې کول په جګړه کې ښکنځلي کول بدله اخیستل انانیت د زړه تنګوالی دا هر هغه صفتونه دی چې په اسلام کې نشته او هر هغه څوک چې ځان په ښکاره دینداره بولي او حال دا چې هغوی په دین باندی یو ډول بوج وي ځکه چې هغوی خپل ځانونه دین پورې تړي او دغه ډول اخلاق او صفات چې ولري په حقیقت کې هغوی نفرت رامنځته کوونکي دي نه دا چې زیری ورکوونکي وي د حقیقي دین څخه د خلکو منع کوونکي وي نه دا چې هغوي ته بلنه ورکړي اګر که دوی ددي پر عکس باندی پر ځانونو ګومان کوی او قسمونه خوري او پدی کې کوښښ کوي خو پدوی کې هیڅ خیر او ښیګڼه نشته او د هغوی قسمونه هم هیڅ اعتبار نلري او که چیرته د هغوی وینا تا حیرانه کړي او د هغوی د ژبې فصاحت ته ځیر شی نو د الله جل جلاله دغه وینا ورته ور واوروه چې فرمايي: «وَمِنَ النَّاسِ مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُۥ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلٰى مَا فِى قَلْبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ، وَإِذَا تَوَلّٰى سَعٰى فِى الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ، وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ ۚ فَحَسْبُهُۥ جَهَنَّمُ ۚ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ» ژباړه: «په انسانانو کې څوك داسي دي چې د هغه خبرې د دنیا په ژوند کښې تا ته ډیرې ښې ښکاري او هغه پر خپلې نېك نیتۍ په وار وار الله شاهد نیسي، خو په حقیقت کې هغه د حق ډېر سخت دښمن وي، او کله چې هغه ته قدرت په لاس ورځي (یا کله چې بېرته وګرځي)، نو په ځمکه کښې د هغه ټولې هلې ځلې ددې لپاره وي چې فساد خپور کړي، کښتونه لوټ کړي او انساني ځوځات له منځه یوسي. په داسي حال کښې

(۱) السنن الکبری د امام بیهقی ۱۰/ ۳۲۳، حدیث نمبر (۲۰۷۸۲)، دار الکتب العلمیه، بیروت لبنان.

چي الله (هغه ذات چي هغه به شاهد نيوه) هيڅکله فساد نه خوښوي، او کله چي ورته ويل کيږي چي له الله څخه ووېرېږه؛ نو د خپل پت او ابرو مفکوره يې پر گناه ټينگوي. د داسي انسان لپاره دوږخ کافي دی؛ او هغه ډېر ناکاره استوگنځی دی»، په بل ځای کې فرمايي: «إِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُونَ قَالُوا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ الْمُنٰفِقِينَ لَكٰذِبُونَ، اتَّخَذُوٓا أَيْمٰنَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۚ إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ، ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ ءَامَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا فَطُبِعَ عَلٰى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ، وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ ۖ وَإِن يَقُولُوا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ۖ كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ۖ يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ۚ هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ ۚ قٰتَلَهُمُ اللَّهُ ۖ أَنّٰى يُؤْفَكُونَ» ژباړه: «[اې پېغمبره صلى الله عليه وسلم!] کله چي دغه منافقان تا ته راځي، نو وايي: "موږ شاهدي وايو چي ته په يقيني توگه د الله پېغمبر يې." - هو، الله پوهيږي چي ته هرو مرو د هغه پېغمبر يې، خو الله شاهدي وايي چي دغه منافقان بيخي درواغجن دي، دوی خپل قسمونه سپر گرځولي دي او پدې ډول دوی د الله د لاري څخه منع دي او نور منع کوي. څومره ناوړه عملونه دي چي دوی يې کوي، دا هر څه له دې امله دي چي دوی ايمان راوړ، بيا کافران شول، له دې امله د دوی پر زړونو مُهر ولگول شو؛ اوس دوی په هيڅ نه پوهيږي، ته که دوی ووينې، نو د دوی بڼي او څېرې به ډېري شانداري درته ښکاره شي؛ که وغږيږي، نو ته به يې خبرو ته غوږ ونيسې. خو په اصل کښي دوی گواکي د لرگي کُندې دي، چي له ديوال سره په مرتب ډول درول شوي وي. دوی هر زورور اواز د ځان پر ضد گڼي؛ دوی پاخه دښمنان دي. له دوی څخه ځان ساتونکی اوسه؛ خدای دي دوی ووهي، دوی کوم لوري ته اړول کيږي».

د اسلام مبارک دين د کار توليد او د مهارت او همدارنگه د بشريت ته گټي رسوني دين دی چيرته چې کار توليد په کار کي مهارت او بشريت ته گټه موجوده وي نو دا پخپله د اسلام د مبارک دين د منهج عملي پلي والی دی او چيرته چې بيکاري تنبلي او د تمدن څخه شاته پاتي کيدل وي نو دا پخپله ددي ښودنه کوي چې دا د اسلام د مبارک دين د منهج څخه بهر کارونه دي اگر که دغه خلکو باندی بيلابيل د مسلمانانو نومونه کيښودل شي او خپل ځانونه اسلام ته منسوب هم کړي خو دغه خلک د الله جل جلاله په دين باندی يو ډول بوج دي او همدارنگه په نورو مخلوقاتو باندی هم تکيه کوونکي دي.

د علم او د پوهي خاوندان چې پکي پخواني او اوسني علماء راځي ټينگار يي کړی دی چې د اسلامي شريعت لويي موخي او مقصدونه ټول پدی باندی راڅرخي چې د الله جل جلاله بندگانو ته گټه ورسوي چيرته چې خلکو ته مصلحت او گټه موجوده وي نو هلته به د الله شريعت او قانون موجود وي امام ابو حامد الغزالي رحمه الله فرمايي: د مصلحت يا د گټي څخه مقصد دا دی چې د شريعت د مقاصدو او د موخو ساتنه وشي او د شريعت مقاصد او موخي په پينځه

ډوله دي اول دا چې د دين ساتنه او همدارنګه د نفس عقل نسل او د هغوی د مال ساتنه وشي نو هر چيرته چې دغه پينځه بنستونه وساتلي شي هلته به مصلحت موجود وي او که چيرته دغه پينځه بنستونه لمنځه ولاړ شي نو هلته فساد رامنځته کيږي او مصلحت او ګټې له منځه ځي[١].

امام شاطبي[٢] رحمه الله فرمايي: د اسلامي شريعت څخه دا ښکاره ده چې د خلکو د ګټي لپاره رامنځته شوی دی مکلفيت په بشپړ ډول ددی لپاره رامنځته کيږي ترڅو فساد لمنځه يوسي او ګټه رامنځته کړي او يا دا چې داوړو لپاره وي چې ګټه رامنځته کوي او هم فساد لمنځه وړي نو پدغه چارو کې چې څه داخل وي نو دهمدي لپاره اسلامي شريعت رامنځته شوی دی او پدي کې د اسلامي شريعت هيڅ ډول مخالفت نشته او هغه شيان چې په اسلامي شريعت کې منعه شوي دي هغه مقصد دا دی چې هلته مصلحت موجود نه وي[٣].

هغه همدارنګه وايي چې شريعت د خلکو د ګټي لپاره راغلی دی په شريعت کې امر نهي او په بعضي کارونو کې بندګانو ته اختيار ورکول دا ټول د مکلفيت او همدارنګه د ګټو پوري تړاو لري ځکه الله جل جلاله ددی څخه پاک دی چې پدغه چارو کي بل ډول مقصد ولري[٤].

هغه همدارنګه وايي چې شريعت په بشپړ ډول د خلکو د ګټي د ساتني لپاره او همدارنګه د فساد د لمنځه وړنی لپاره راغلی دی نو د همدي لپاره د اسلامي شريعت ټول عام او خاص دلايل پدي باندي دلالت کوي او په پرله پسی ډول علماؤ هم پدی باندي ټينګار کړی دی نو هر هغه څوک چې ددی په مخالفت باندي پورته شي او ددي په خلاف خبره وکړي هغه د اسلامي شريعت څخه نه ګڼل کيږي[٥].

ابن قيم[٦] رحمه الله فرمايي: د شريعت بنسټ او اصل دا دی چې په حکمت او د خلکو په ګټو باندی ولاړ دی چې د هغوی په ژوند او بيرته الله جل جلاله ته د ورتګ په برخه کې هغوی ته رامنځته کوي اسلامي شريعت په بشپړ ډول سره يکې عدالت او رحمت او همدارنګه مصلحت ګټه او حکمت موجود دی هره مسئله چې د عدالت څخه ظلم لوري ته يوړل شي او د رحمت څخه مقابل لوري ته او د مصلحت څخه فساد ته او د حکمت څخه عبثياتو ته نو دا به د اسلامي شريعت څخه نه وي اګر که دغه ډلي په هغي کې بيلابيل تاويلات هم وکړي شريعت د الله

(١) کتاب المستصفى من علم الأصول د امام ابى حامد غزالى، ص١٧٤، دار الكتب العلمية، چاپ ، ١٤١٣هـ/ ١٩٩٣م.

(٢) هغه: ابو محمد عبد الله بن على بن احمد بن على لخمى اندلسى شاطبى، په ٤٤٣هـ کال کې د اندلس په شاطبه سيمه کې سترګي پرانستلي پخپل ښار کې يې د قرآن کريم زده کړه د ابى عبد الله محمد بن ابى العاص النفزى څخه وکړ او په ٥٣٢هـ کال کې وفات شو.(سير أعلام النبلاء ٢٠/ ٩٢).

(٣) موافقات امام شاطبى ١/ ٣١٨، دار ابن عفان، لومړنى چاپ ١٩٩٧م.

(٤) مخکنى مرجع ١/ ٢٣٤.

(٥) مخکنى مرجع 5/ 230.

(٦) د هغه نوم: ابو عبد الله شمس الدين محمد بن ابى بكر بن ايوب بن سعد بن حريز الزرعى دمشقى، مشهور په "ابن قيم جوزى" دى په ٦٩١هـ کال کې پيدا شوى، فقيه، محدث، مفسر، عالم مسلمان، مجتهد او د حنبلي د مذهب يو لوى امام وو، د هغه د مهمو کتابونو د جملي څخه: اعلام الموقعين والطرق الحكمية فى السياسة الشرعية، دى په ٧٥١هـ کال کې وفات شوى. (الأعلام، زركلى ٦/ ٥٦).

جل جلاله له لوري د عدالت لپاره راليږل شوی ترڅو د خلکو ترمنځ عدالت رامنځته شي او همدارنګه د هغوی ترمنځ رحمت خپور شي او اسلامي شريعت د خلکو ترمنځ په ځمکه کې يو ډول د عدالت رامنځته کوونکی دی او همدارنګه حکمت رامنځته کوي چې دا ټول پدی باندی دلالت کوي او همدارنګه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د ټولو احاديثو صدق هم په همدي کې کيږي[١].

عز بن عبدالسلام[٢] رحمه الله فرمايي: ټول مکلفيتونه د خلکو د ګټي لپاره راغلي دي چې د هغوی لپاره په دنيا او آخرت کې پکې ګټي موجودي دي الله جل جلاله ددي څخه غني ذات دی چې د خپلو بندګانو عبادت ته محتاج وي او نه هم د فرمانبردارانو فرمانبرداري هغه ته کومه ګټه رسوي او نه هم د ګنهګارانو ګناه هغه ته کوم زيان رسولی شي که چيرته دا ټول خلک په يو داسي سړي باندي راټول شي چې هغه فاسق او فاجر وي بيا هم د الله جل جلاله په پادشاهي کې کمښت نشي رامنځته کولي او که دا ټول خلک په يو داسی پرهيزګار باندي راټول شي چې هغه الله جل جلاله ته تقوا لري نو بيا هم د الله جل جلاله په پادشاهي کې څه نشي زياتولي هيڅ ډول ضرر او همدارنګه ګټه نشي رسولی بندګان په بشپړ ډول سره به ګمراهان وي مګر هغه څوک چې هغه ته الله جل جلاله لاره وښايي او همدارنګه وږي به وو مګر دا چې الله جل جلاله هغه ته خوراک او څښناک ورکړي او دا ټول به لوڅ او لپړ وو مګر هغه څوک چې الله جل جلاله هغوی ته د اغوستني لپاره لباس ورکړي[٣].

هغه همدارنګه زياتوي په هيڅ عاقل باندي دي دا خبره پټه نه وي چې د خاصو ګټو او د مصلحتونو رامنځته کول د فساد او د مفسدو کارونو لمنځه وړل چې د انسان د نفس څخه دا لري کړی شي دا پخپله ډير ښه کار دی همدارنګه د مصالحو يا د ګټو ته ترجيح ورکول او د هغه مخکي کول دا پخپله هم يو ښه کار ګڼل کيږي د فساد لمنځه وړل هم په اسلامي شريعت کې د ښو کارونو د جملي څخه راځي او د راجحو ګټو مخکی والي په هغو ګټو باندي چې هغه مرجوح وي هغه هم خه کار ګڼل کيږي او د فساد لمنځه وړل د ګټو رامنځته کيدو څخه مخکی دي علماؤ او فقهاؤ پدي باندي اتفاق کړی دی او همدارنګه اسلامي شريعت پدي باندي ټينګار کړی چې د وينو تويونه حرام کړي او همدارنګه د ناموس او د مال ساتني باندي يي ټنيګار کړی دی او همدارنګه پدي يي ټينګار کړی دی چې په کړنو او ويناوو کې بايد غوره کار ترسره شي[٤].

(١) إعلام الموقعين د ابن قيم جوزی، ٣/٣.

(٢) د هغه نوم: عز الدين شيخ الإسلام ابو محمد عبد العزيز بن عبد السلام، امام او د خپلي زماني يواځينی علامه وو، د سلطان العلما لقب ورمړل شوی وو، په ٥٧٨هـ کې پيدا شوی، د علومو او فنونو منځ کي لکه تفسير، حديث، فقه، اختلاف کې جمع والی راوست. په ٦٦٠هـ کې وفات شو، (شذرات الذهب فی اخبار من ذهب، د ابن العماد حنبلی متوفای ١٠٨٩هـ، نشر: دار ابن کثير، دمشق، بيروت، لومړنی چاپ ١٤٠٦هـ ١٩٨٦م).

(٣) قواعد الأحكام فی مصالح الأنام،د ابی محمد عز الدين بن عبد السلام ٢/ ٦٣، چاپ: دار المعارف، بيروت.

(٤) مخکينی مرجع، ٤/١.

په لنډ ډول ويلی شو چې د اسلام په بنسټ باندي ځان پوهول او همدارنګه د هغه د زغم لرونکي رسالت په رازونو باندي پوهه او همدارنګه د هغي مقصدونو او د لوړو موخو د رامنځته کيدو او د اوسني عصر د غوښتنو په رڼا کې د هغي د پلي والي لپاره لازمه ده او د اوسنيو ننګونو د مخنيوي لپاره دا کارونه ډير ضروري ګڼل کيږي ترڅو د ترهګرو او د تندرو ډلو مخنيوي وشي او د تندروۍ فکر له منځه يوړل شي او همدارنګه د جمود په ډګرونو او د اسلامي شريعت د تنګسيا څخه وويستل شي او پدي سره د تنګسيا څخه يو پراخه نړۍ ته داخل شو ترڅو هغه ډير پراخه او اسانه وي او همدارنګه په هغه کې ډيره پوهه مهارت او ليدلوري موجود وي چې په ترڅ کې د خلکو او هيوادونو لپاره ګټي رامنځته شي او لوړ انساني ارزښتونه خپاره شي چې په ترڅ کې امنيت سوله او برقراري رامنځته شي او د ټول بشريت لپاره د خوښي وړ وګرځي ځکه چې په خلکو کې غوره هغه څوک دی چې هغه نورو ته ګټه رسوي او هغه څوک چې يواځي د خپل ځان لپاره ژوند کوي هغه ددي وړ هم نه وو چې پيدا شي.

## پنځم مبحث

## سنت عبادات او د دونو او عاداتو پورې تړلې کارونه

## سنت عبادات او د دونو او عاداتو پورې تړلې کارونه

یوه لویه تېروتنه چې رامنځته کیږي هغه د سنتي عبادتونو او د عاداتو ترمنځ ګډوالی دی پداسې ډول سره چې عاداتو او دودونو باندي عمل کولو ته د عبادت او سنت جامه ور آغوندي لدي څخه ډېره خطرناکه بیا دا ده چې ځیني خلک بیا بغیر د کوم دلیل څخه پدي باندي تېنګار هم کوي سره لدي چې په سنتو کې اصل دا دی چې څوک یی ترسره کړي هغه ته اجر او ثواب ملاویږي او څوک چې ترسره نکړي نو دغه اجر او ثواب ورنه پاتي کیږي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړی شوه چې اسلام څه شی دی؟ نوهغه ورته وفرمایل: په شپه او ورځ کې پنځه لمونځون7ه بیا یي ورته وویل آیا لدي ماسواء په مونږ باندي نور څه شته؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نه مګر دا چې ته نفلونه وکړې نبي کریم صلی الله علیه وسلم همدارنګه وفرمایل چې د روژي د مبارکي میاشتی روژي نیول بیا ورته وویل شول چې ایا لدي ماسواء نور څه په مونږ شته؟ هغه وویل نه مګر دا چې نفلي روژي ونیسي بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته د زکات یادونه وکړي شوه نو بیا یی ورته وویل چې آیا لدي ماسواء نور څه په مونږ شته؟ وی فرمایل نه مګر دا چې صدقه ترسره کړی نو هغه سړې فکر او سوچ وکړو او وی ویل: زما دی په الله قسم وي چې پدي کې به زیادت او کمښت نه راولم نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: چې که دی ریښتینی وي نو هغه بریالی شو[1].

همدارنګه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: تاسو پخپلو نفسونو کې ماته ددې لاندی شیانو ضمانت راکړئ نو زه تاسو ته د جنت ذمه واري کومه: کله چې خبري کوئ نو ریښتیا وایئ او په وعدو کې وفا کوئ او امانت په ښه ډول سره اداء کوئ او د خپلو شرمګاو ساتنه وکړئ او خپل نظرونه ټیټ کړئ او همدارنګه خپل لاسونه د ناوړه کارونو څخه وساتئ[2]، کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې کوم خلک به جنت ته ډېر داخلیږي؟ وی فرمایل: څوک چې الله جل جلاله ته پرهیزګاره وي او نیک اخلاق ولري[3].

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم زیاتره ځوابونه چې خلکو به له هغه څخه پوښتنه وکړه چې جنت ته به څوک داخلیږي هغه به د فرایضو د اداء کولو او همدارنګه د لویو ګناهونو څخه د ځان ساتني او همدارنګه د ښه اخلاقو رامنځته کیدو لپاره هڅي او همدارنګه هر هغه کار سرته رسولو باندي به ټینګار کولو چې خلکو ته به په هغه کې ګټه وه کله چې یو سړي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه

---

(١) صحیح بخاری – کتاب ایمان، باب زکات اسلام ، حدیث نمبر (٤٦).

(٢) مسند امام احمد، ٣٧/ ٤١٧، حدیث نمبر (٢٢٧٥٧).

(٣) سنن ترمذی - کتاب البر والصلة، باب هغه چې د نیکو اخلاقو په هکله راغلي دې، حدیث نمبر (٢٠٠٤).

پوښتنه وکړه چې داسې يو کار ورته وښايې چې جنت ته پرې داخل شي؟ پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې د هغه لاري څخه چې خلک پری تيريږي زيان رسونکي شيان ترې لرې کړه[۱] همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي چې د لاری څخه د زيان رسونکې شی لری کول پخپله يوه صدقه ده[۲] ځکه چې د اسلام مبارک دين خلکو اوهيوادونو ته د ګټي رسوني لپاره راغلي دی ترڅو امنيت او ټولنيز عدالت او همدارنګه سوله برقراره شي او په عين وخت کې د ټول بشريت لپآره د خوښۍ وړ وګرځي.

مونږدلته پدي باندي ټينګار کوو چې بايد د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په احاديثو باندي ځان پابند کړو ترڅو لوی اجر او ثواب لاسته راوړو خو دلته لازمه ده چې په څرګند ډول سره مونږ د سنتي عباداتو او همدارنګه د دودونو اوعاداتو ترمنځ توپير وکړو د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دا هڅونه چې بايد د عرفي او عاشورا په ورځ باندي روژه ونيول شي دا يو عبادتی کار دی چې په سنتي عباداتو کې داخليږي او همدارنګه محمد صلی الله عليه وسلم د اودس پر مهال چې لومړی به يی لاسونه اينځل بيا به يی خوله کنګالوله او بيا به يی پوځه کنګالوله دا پخپله د سنتي عباداتو د جملي څخه ګڼل کيږي ځکه چې دا ټول هغه چاري دي چې  د عباداتو سره اړه لري اما هغه شيان چې د لباس او د سفر د وسايلو او يا ددی په څير نورو شيانو سره تړاو ولري دا د عاداتو د جملي څخه ګڼل کيږي او په هغه کې هغه څه ته اعتبار ورکول چې د نبي کريم صی الله عليه وسلم په وخت کې هغه موجود وو نو د اوسني زماني سره يي بايد توپير وکړو.

لکه څنه چې يو عاقل سړي ته ممکنه نده چې ووايی زه په الوتکه يا موټر کې نه سپريږم او غواړم چې په اوښ باندي سفر وکړم ځکه پيغمبر صلی الله عليه وسلم په هغه سفر کړی وو همدارنګه دا د عقل څخه لری خبره ده چې څوک ووايی دغه لباس د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د سنتو سره برابر ندی خو په هغه وخت کې چې پدغه لباس د انسان عورت پټ وي.

د عاداتو مرجع پخپله عرف او عادت دی خلک چې پخپله زمانه کې څه مناسب بولي او همدارنګه د هغوي د چاپيرياِل او همدارنګه د هغوي د کار طبيعت سره برابر وي د اسلامي شريعت د ثابتو شيانو سره مخالفت ونلري نو همدا عادتونه دي.

د سړي عورت چې د نامه څخه نر زنګونو پوري دي نو هغه څه چې اغوندي او بدن يی پکې نه ځکاری نو هيڅ مشقت پکې نشته او هيڅ ډول ستونزه پکې نشته برابره خبره ده چې دغه سړی دريشی اغوندي که عادي کالي اغوندي ځکه چې

(۱) کتاب الأدب المفرد د امام بخارى، ص ۸۹ حديث نمبر (۲۲۸)، تحقيق: محمد فواد عبد الباقى، دار البشائر الإسلاميه، بيروت.

(۲) صحيح مسلم – کتاب زکات، باب د صدقى نوم په هر نيک کار واقع کيږي، حديث نمبر (۱۰۰۹).

دغه چارې د عادت او عرف پورې اړه لري ځکه چې عادت پخپله یو محکم دلیل کیدلای شي لکه څنګه چې فقهاؤ پدی باندي ټینګار کړي دی.

پدي کې هم هیڅ ډول مشقت نشته چې د دیني علماؤ لپاره د هغوی ځانګړی لباس وي چې د نورو څخه د هغو توپیر وشي لکه څنګه چې د ډاکترانو مدافع وکیلانو د پوځ د ځواکونو د پولیسو او یا د قاضیانو لپاره شته خو که چیرته مونږ دغه لباس څخه دین وګرځوو او د هغه ماسواء نور لباس د دین څخه ونه ګرځوو پدي باندي علماؤ هیڅ څه ندي ویلي او داسی باید ترسره نشي.

همدارنګه لازمه ده چې مونږ پدي باندي ځان پوه کړو چې د ځینو علماؤ رایې چې پدغه ډګر کې ورکړي دي هغوی د خپل قوم ځای او د خپلې زماني دودونو او عادتونو په رڼا کې ورکړي دي امام شافعي رحمه الله د سرې لپاره چې باید سر به پټوي د هغه د اخلاقو د جملې څخه ګڼلي دي خو پدي کې هغه د خپل دچاپیریال او د زماني مراعت کړی دی[۱] همدارنګه مونږ په تیرو زمانو کې ولیدل چې په ځینو اوسنیو چاپیریالونو کې هم هر هغه څوک چې سر پټ نکړي د اخلاقو څخه سرغړونه ګڼل کیږي ځکه چې د دغه قوم عادت او دود په همدي باندي جاري شوی اما که مونږ چیرته دا دین څخه وګرځوو او د اصلاحوالی د پرهیزګاری د نښو څخه وګرځوو او څوک چې پدي کې ددی سره مخالفت کوي هغه پدي باندي تورن کړو چې د دین څخه سرغړونه کوي او یا دا چې خلک دیته اړ کړو چې هرومرو باید ترسره کړي ځکه چې دا دین او یا هم سنت دي او یا هم د فقهاؤ خبری دي چې باید تابعداري یې وشي دا پخپله یو ډول ناپوهي ده.

او دا چې پدي باندي مونږ ټینګار کوو چې دغه چاري د عاداتو چاپیریال او زماني سره تړاو لري پدي هکله امام شاطبی پخپل کتاب موافقاتو کې فرمایلي دي: د سړي لپاره د سر پټول او یا هم نه پټول دا پخپله په واقعیت کې د ځای او زماني پوري اړه لري دا په ختیځو هیوادنو کې د اخلاقو څخه سرغړونه ګڼل کیږي او په لویدیځو هیوادونو کې هیڅ ډول اغیزه نلري نو شرعي حکم پدي کې توپیر کوي د ختیځو خلکو لپاره دا په عدالت کې یو ډول سرغړونه ده او لویدیځو لپاره بیا هیڅ ډول مشکل او اغیزه نلري[۲].

بی له شکه امام شاطبی رحمه الله د خپلې زماني د حالاتو مراعات کړی دی نه داچې زمونږ زماني ته وګوري اوهغه پدي باندي ټینګار کړي دي او ویلي دي چې په عاداتو او دودونو کې باید معنی ولیدلی شي او پرله پسي چې مونږ ولیکل دا شریعت د خلکو او د هیوادونو د ګټو لپاره راغلی دی او عام احکام په همدي باندي راڅرخي ته به وګوري کله داسی هم کیدلای شي چې یو کار به په یو حالت

(۱) ددي په هکله لاندي مراجع وګورئ: المهذب فی فقه الإمام الشافعي د ابی اسحاق شیرازی (متوفای سال: ٤٧٦) ٣/ ٤٣٨، چاپ: دار الکتب العلمیة، بیروت.

(۲) کتاب الموافقات د امام شاطبی ٢/ ٤٨٩.

کې منع کړی شوی وي ځکه چې په هغه کې ګټه نه وي او که چیرته په هغه کې ګټه رامنځته شي نو هغه ته یی جواز ورکړی دی[۱].

امام قرافي رحمه الله بیا فرمایلي دي هغه احکام چې د عادتونو څخه راخیستل شوي وي ددغه عادتونو او د دودونو بدلون سره دا هم بدلون مومي دا د اجماع څخه خلاف او په دین کې یو ډول ناپوهي ده ځکه چې که چیرته مونږ د یو هیواد څخه بل هیواد ته ورشو نو د هغوي دودونه د هغه هیواد څخه توپیر کوي چې مونږ پکې وو بیا مونږ د هغه هیواد د دود او عادت سره سم فتوا ورکوو او هغه هیواد دود او عادت ته اعتبار بیا نشته چې مونږ پکې اوسیدلو همدارنګه که چیرته یو څوک مونږ ته راشي چې د هغه هیواد دودونه زمونږ د هیواد د دودونو سره په ټکر کې وي نو د هغه لپاره مونږ د هغه د هیواد سره سم فتوا ورکوو نه دا چې د خپل هیواد د دودونو مطابق هغه ته فتوا ورکړو[۲].

ابن قیم رحمه الله فرمایی: څوک چې خلکو ته فتوا ورکوي یواځې پدې باندي چې په کتابونو کې څه راغلي دي د هغو عرف د هغوي دودونو عادتونو زماني ځاي حالاتو او د هغوي د حالاتو قراینو ته وګوري نو هغه هم ګمراه شوی او نور یی هم ګمراه کړي دي[۳].

ابن عابدین[٤] رحمه الله فرمایي: فقهي مسایل به ښکاره نص باندي ثابت وي یا به د اجتهاد او د رایی له لاری ثابت شوی وي او زیاتره اجتهادي مسایلو کې مجتهد خپلې زماني ته کتلي او دغه د وخت په تیریدو او د ځاي په بدلیدو سره توپیر کوي نو د همدي لپآره د اجتهاد په شرطونو کې یو هم دا دی چې د خلکو د دودونو او د عاداتو باندي ځان پوهول ضروري دي ځکه ډیری داسی احکام شته چې د زماني په بدلیدو سره او همدارنګه د خلکو د عاداتو په بدلیدو سره هغه توپیر کوي[٥].

(۱) مخکنی مرجع، ۲/ ۵۲۰.

(۲) الإحکام فی تمییز الفتاوی عن الأحکام د امام قرافی، ص۲۱۸.

(۳) إعلام الموقعین د ابن قیم ۳/ ۱٦.

(٤) محمد امین بن عمر بن عبد العزیز عابدین دمشقی: فقیه او د شام د خاوري عالم وو هغه د حنفی مذهب د خپلي زمانی امام وو د هغه د مهمو کتابونو د جملي څخه: رد المحتار علی الدر المختار چې په حاشیه ابن عابدین باندي مشهور دی، او رفع الأنظار عما أورده الحلبی علی الدر المختار، او مجموعة رسائل. په ۱۲۵۲هـ کال کې وفات شو (الأعلام زرکلی ٦/ ٤۲).

(٥) رسائل ابن عابدین: "رساله عرف" ۲/ ۱۷۲، دار الکتب العلمیة.

## شپږم مبحث

## د دولت په اداره کولو کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم کړنې

## د دولت په اداره کولو کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم کړني

نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوازې نبي نه وو بلکي هغه نبي رسول حاکم او یو پوځي مشر هم وو هغه څه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدي اعتبار باندي کړي دي چې هغه نبي او رسول دی هغه د عقیدي عبادت ارزښتونو او د اخلاقو د چارو سره اړه لري او د هغي نسبت نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته شوی وي او په هغه ډول مونږ ته رارسیدلی وي چې هغه اصحابو مونږ ته بیان کړې دي نو دغه چاري د وخت او د ځای په بدلیدو سره نشي بدلیدلي ځکه چې دا ثابتي چاري دي برابره خبره ده چې د فرایضو سره اړه ولري لکه د روژي د مبارکي میاشتي روژه لمونځ زکات حج او یا هم د سنتو سره اړه ولري چې هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه ثابت شوی وي لکه د عرفات په ورځ باندي روژي نیول او یا هم د عاشورا په ورځ باندي روژه.

اما هغه کړني چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم پدی اعتبار باندي کړی وي چې هغه نبي او حاکم وو او یا همدارنګه پدی اعتبار باندي کړی وي چې هغه نبي او پوځي مشر وو او یا هم دا چې هغه نبي او قاضي وو نو دا کړني دوه اعتباره لري لومړني اعتبار دا چې هغه د نبوت په بنسټ باندي کړي وي او یا دا چې هغه دغه کړني پدي اعتبار باندي کړی وي چې هغه حاکم یا قائد او یا هم قاضي وو[(١)].

دا چې د نبوت او د رسالت چاري پای ته رسیدلي دي او د الله جل جلاله ددغه وینا سره سم نور نبیان نشي راتللی لکه چې فرمایي: «مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّـۧنَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا»[(٢)] ژباړه: «اې خلکو!) محمد صلی الله علیه وسلم ستاسي له نارینه و څخه د هیچا پلار نه دی، هغه خو د الله رسول او اخرنی او وروستنی نبي دی، او الله د هر شی علم لرونکی دی»، او همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: په نورو انبیاؤ باندي ماته په شپږو شیانو باندي فضیلت راکړل شوی دی ماته جوامع کلم راکړل شوی د ویري په مقابل کي ما سره کومک شوی او ماته یي غنیمتونه حلال کړي دي او همدارنګه ماته یي ځمکه پاکه ګرځولی ده او جومات یی ګرځولي دی او همدارنګه ټولو خلکو ته یي زه را استولی یم او په ما باندي د نبیانو راتګ پای ته رسیدلی[(٣)]، نو هغه کړني چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدي اعتبار باندي کړي وي چې هغه حاکم یا هم مشر او قاضي وو نو پدي کې ځیني داسی شرطونه او ضرورتونه رامنځته شوي دي چې نور صفتونه ورسره تړل کیږي ځکه چې هغه دغه کړني پدی اعتبار باندي کړي دي چې هغه حاکم او

(١) پدي هکله د الإحكام فی تمییز الفتاوی عن الأحكام وتصرفات القاضی د امام قرافی کتاب ته مراجعه وکړئ ص٩٩ او له هغې وروسته.

(٢) الأحزاب: ٤٠.

(٣) صحیح مسلم، کتاب مساجد او د لمونځ ځایونه، حدیث نمبر (٥٢٣).

يا هم پوځي مشر يا قاضي وو چې د احوالو په بدليدو سره دا بدليدلي شي مونږ غواړو ددغه صفتونو هريو صفت لپاره يوه نمونه بيان کړو:

هغه چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم پدي اعتبار باندي کړني سرته رسولي دي چې هغه رسول او ځنګ کې ورسره حاکم وو لکه د هغه صلى الله عليه وسلم دغه وينا چې فرمايي: څوک چې مړه ځمکه راژوندی کړي هغه د هغه لپاره ګرځي[1]، امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايلي دي پيغمبر صلى الله عليه وسلم دغه کړنه پدی اعتبار باندي رامنځته کړې ده چې هغه حاکم او امام وو او نو هيچا ته دا اجازه نشته چې هغه يوه ځمکه را ژوندي کړي او ځانته واخلي مګر دا چې حاکم يا امام هغه ته اجازه ورکړي ځکه چې پدی کې تمليک راځي او د اقطاع په څير دا هم د حاکم اجازی ته اړتيا لري نو بايد ترسره شي[2].

نو د همدي لپاره هيچا ته دا اجازه نشته چې يوه ټوټه ځمکه باندي لاس کيږدي او ووايی چې دا ما راژوندي کړي ده نو دا زما لپاره ګرځي او ووايي چې پدي د پيغمبر صلى الله عليه وسلم حديث موجود دي چې مخکي مو بيان کړ نو مونږ وايو چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم دلته چې کوم حديث ورنه رانقل شوی دی د حاکم په اعتبار باندي دغه کړنه يي سرته رسولی ده نو د حاکم څخه ماسوا بل چاته دغه اجازه نشته چې دغه ډول پريکړي واخلي چې د عامه حقوقو او يا هم د عامو مالونو او يا د عام ملکيت سره اړه ولري او که داسی ونشي نو چاري به د ګډوډۍ په لور ولاړي شي او په فتنو او د عام ملکيت باندي د تجاوز دروازي به پرانستلی شي او بنايي دا ددي لامل شي چې د خلکو ترمنځ جنګ او جګړي رامنځته شي نو پدي برخه کې مونږ بايد هغه څه ته پابند ووسو چې په اساسي قوانينو او په نورو قوانينو کې راغلي چې د هيوادونو او د بندګانو چاري تنظيموي.

او هغه چې نبي كريم صلى الله ليه سولم پدی اعتبار باندي کړني سرته رسولي دي چې هغه يو پوځي مشر وو لکه د هغه دغه وينا چې فرمايي: څوک چې په شواهدو سره دښمن ووژني د هغه وژل شوي دښمن مال د هغه کيږي[3]، نو اوس هيڅوک نشي کولای چې داسي وکړې نو که يو څوک په مخامخ جګړه کې ترهګر ووژني نشي ويلای چې د هغه د مال وسلي موبايل مالک ګرځم ځکه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم دغلته دا کړنه پدي اعتبار باندي شوی ده چې هغه حاکم او پوځي مشر وو نو پدی کې بايد هغه څه ته پابندي وشي چې په قوانينو او په اوسني اساسي قوانينو او همدارنګه د دولت په نظام او د وسلوال پوځ په نظامونو کې راغلي دي.

---

(۱) سنن ابى داود، كتاب خراج، باب احياى موات، حديث نمبر (۳۰۷۵).

(۲) هغه زراعتي ځمکه چې د سرتيرو لپاره د معاش پخاطر ځانګړی کيږي.

(۳) صحيح البخارى، كتاب فرض الخمس، باب من لم يخمس الأسلاب، حديث نمبر (۳۱٤۲).

هغه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم پدی اعتبار باندي کړني سرته رسلي چې هغه يو قاضي وو لکه د هغه دغه وينا چې فرمايي: چې د خلع په مسئله کې يي ويلي دي کله چې د ثابت بن قيس ښځه نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته راغله او وی ويل: چې اي د الله رسوله () نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د هغه باغيچه بيرته ورته ورسپارې؟ هغي وويل : هو، نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: باغيچه قبوله کړه او هغې ته طلاق ورکړه[1]، نو د پيغمبر صلی الله عليه وسلم دغه کړنه دلته پدي اعتبار باندي راغلي ده چې هغه دلته نبي او قاضي هم وو او دا هم د هغو چارو د جملي څخه ګڼل کيږي چې قوانينو په اوسني عصر کې منظم کړي دي نو هغه ته بايد پابندي وشي په هغه ډول باندي چې قانون د هغه تنظيم کړی وي دا په اسلامي فقه کې قاضي له لوری د طلاق ورکولو په نامه باندي پيژندل کيږي چې دا پخپله شرعي او قانوني قواعد لري.

(۱) صحيح البخاری، کتاب طلاق، باب خلع چې څنګه طلاق پکي واقع کيږي، حديث نمبر (۴۹۹۰).

## اووم مبحث

## د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د احادیثو په مقاصدو باندي د پوهې تطبیقي نموني

## لومړنی نمونه او بیلګه
## د مسواک په هلکه په راغلیو احادیثو باندې پوهه

د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: که چيرته زما په امت او په خلکو باندي سخته نه واي نو ما به هغوی ته په هر لمانځه کې په مسواک وهلو باندي امر کړی وو[(١)].

د زيد بن خالد الجوهني څخه روايت دي دی وايي چې ما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايلي: که چيرته زما په امت باندي سخته نه واي نو د هر لمانځه پرمهال به ما هغوی ته د مسواک پر وهلو باندي امر کړی وو[(٢)]، همدارنګه ابوهريره رضي الله تعالی عنه فرمايلي دي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: که چيرته زما په امت باندي سخته نه واي نو مابه هغوی ته د هر اوداسه پر مهال مسواک وهلو باندی امر کړی وو[(٣)]، حذيفه رضی الله عنه څخه روايت دي چې دی وايي: نبي کريم صلی الله عليه وسلم چې به کله د شپي خوب څخه پاڅيدلو نو پخپله خوله کې به يي مسواک وهلو[(٤)].

د مقدام بن شريح څخه روايت دی هغه د خپل پلار څخه روايت کوي او وايي چې ما د عائشي رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه او ورته مي وويل: پيغمبر صلی الله عليه وسلم به چې کله کور ته داخل شو نو په څه باندي به يي پيل کول؟ هغه وفرمايل چې په مسواک، يعني مسواک به يي وهلو[(٥)]، د عامر بن ربيعه رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: ما نبي کريم صلی الله عليه وسلم وليدو مسواک يي پداسی وخت کې وهلو چې هغه روژه هم نيولي وه[(٦)].

همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم مونږ د مسواک د استعمالولو او په هغه باندي د هميشه والي حکمت هم بيان کړي دی لکه چې فرمايي: مسواک وهل خوله پاکوي او همدارنګه الله جل جلاله پري راضي کيږي[(٧)].

که چيرته مقصد د مسواک څخه د خولي پاکوالی وې او د صحت ساتنه وي او همدارنګه د هغه د خوشبويي څخه ګټه پورته کول وي او د هغو ټولو اثارو لری کول وي چې د بدبويي لامل ګرځي او همدارنګه د غاښونو د وري ساتنه وي نو دغه مقصد لکه څنګه چې د مسواک څخه لاسته راځي چې دغه مسواک د بوټي څخه راخيستل شوي وي نو پدي کې هر هغه څه شامليږي چې دغه مقصد لاسته راوړي شي نو دلته هيڅ ډول مشقت نشته چې مونږ د بوټی څخه را اخيستل شوي

---

(١) صحيح البخاری، کتاب الجمعه، باب السواک يوم الجمعه، حديث نمبر (٨٨٧).

(٢) سنن ابی داود، کتاب طهارت، باب مسواک، حديث نمبر (٤٦)، و سنن ابن ماجه، کتاب طهارت او، باب مسواک، حديث نمبر (٢٨٧)، چاپ: دار الرساله العالميه.

(٣) سنن ابی داود، مخکينی مرجع.

(٤) صحيح البخاری، کتاب وضوء، باب مسواک، حديث نمبر (٢٤٥)، او صحيح مسلم، کتاب طهارت، باب مسواک، حديث نمبر (٢٥٥).

(٥) صحيح مسلم، کتاب طهارت، باب مسواک، حديث نمبر (٢٥٣).

(٦) صحيح البخاری: کتاب روزه، باب د روژه دار لپاره لوند او وچ مسواک.

(٧) مخکينی مرجع.

مسواک څخه ګټه پورته کړو او یا ددی ماسوا نورو شیانو څخه لکه کریم دندان او یا ددی په څیر نورو څخه، او که چیرته مونږ ظاهر نص ته وګورو او یواځې په همدي باندي مونږ اکتفا وکړو او ووایو چې ددي ماسوا نور څه پدي کې نه شامليږي او ددغه مسواک څخه چې د بوټي څخه راخيستل شوي وي د تقوا او د پرهيزګارۍ نښه وګرځوو پداسي ډول سره چې يو يا دوه مسواکه مو په بره جيب کې اچولي وي سره لدي چې ګرد غبار او خاوري او همدارنګه د هوا د خرابوالي له کبله دوړي هم ور رسيږي او مونږ پدي باندي دا ګومان وکړو چې يواځې ددغه لارۍ څخه مونږ سنت راژوندي کړی دي او څوک چې ددي ماسواء د نورو شيانو څخه ګټه پورته کوي هغه سنت نه را ژوندی کوي دا پخپله جمودوالي او همدارنګه د ډګرونو راتنګول دي هغه څوک دا کار سرته رسوي چې هغه ظاهر د نص ته ګوري او د هغه نورو بعدونو مقاصدو او موخو ته نظر نکوي پيغمبر صلی الله عليه وسلم او د هغه صحابه ؤ هغه څه استعمال کړي دي چې د هغو په زمانو کې هغوی ته اسانه وه او که چيرته هغوی زمونږ په زمانو کې ژوند کولای نو هرومرو به يي لدي څخه غوره شيان استعمالول او همدارنګه هغه شيان به يي استعمالول چې ګټه يي زياته وي او همدارنګه په ټولو ډګرونو کې نوی شيان به يي استعمالول چې علم هغي ته رسيدلی دی.

## د پلي والي دوهمه بيلګه

## د خوب د ځای د پاکوالي په هکله د حديثونو پوهه

د ابو هريره رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلی کله چې په تاسو کې څوک خپلي بستري ته ځي نو د خپل پرتوګ په څنډه باندې دې د خوب ځاي پاک کړي او بسم الله دی ووايي ځکه چې هغه نه پوهيږي چې د هغه په بستره باندی څه پراته دي او کله چې غواړي ډډه ووهي نو ښي اړخ ته دي ډډه ووهي او دا دعا دې ووايي: سُبْحَانَكَ اللهُمَّ رَبِّي بِكَ وَضَعْتُ جَنْبِي، وَبِكَ أَرْفَعُهُ، إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي، فَاغْفِرْ لَهَا، وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ[1].

همدارنګه د ابي هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي کله چې په تاسو کې څوک له خپلي بستري څخه پاڅيږي او بيا بيرته ورته را وګرځي نو د خپل پرتوګ په څنډه باندي دي دري ځلي خپل ځاي پاک کړي ځکه هغه نه پوهيږي چې د هغه وروسته به هلته څه پاتی وي او کله چې ډډه وهي نو دا دعا دې ووايی: بِاسْمِكَ رَبِّي وَضَعْتُ جَنْبِي، وَبِكَ أَرْفَعُهُ، فَإِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا، وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ، او کله چې د خوب څخه پاڅيږي نو دا دعا دی ووايی: الحَمْدُ لله الَّذِي عَافَانِي فِي جَسَدِي، وَرَدَّ عَلَيَّ رُوحِي وَأَذِنَ لِي بِذِكْرِهِ[2].

همدارنګه په يو بل حديث کې د ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: کله چې يو څوک له تاسو څخه د شپې د خپلي بستري څخه راپاڅيږي او بيرته ورته را وګرځي نو هغه پدي باندی نه پوهيږي چې هلته ورنه څه پاتي دي نو د خپل پرتوګ په څنډه باندې د خپل ځای څنډ ووهي او کله چې تکيه کوي نو دغه دعاء دې ووايي: باسمك وضعت جنبي وبك أرفعه فإن أمسكت نفسي فاغفر لها، وَإن أرسلتها فاحفظها بم تحفظ به عبادك الصالحين[3].

د پرتوګ څخه مقصد د پرتوګ يوه څنډه ده چې په هغې باندي بستره څنډ ووهل شي نو مستحب کار دا دی چې انسان مخکي لدي چې خپلي بستري ته ځي خپله بستره بايد څنډ ووهي ترڅو کوم زيان رسوونکي شي ورته زيان ونه رسوي.

دلته که مونږ ظاهري نص ته وګورو نو هغه جامي چې مونږ اوس اغوندو ستونزمنه ده چې د هغه اړخ ونيسو او د خوب ځای پري څنډ ووهو ځکه چې اوسني کالي پداسي ډول جوړ شوي چې امکان ددې نه ليدل کيږي چې په هغه د

(۱) صحيح البخارى: كتاب دعوات، باب د خوب پر مهال د اعوذ بالله او د قرآن كريم لوستل حديث نمبر (٦٣٢٠)، اوصحيح مسلم: كتاب ذكر دعا توبه او استغفار، حديث نمبر (٢٧١٤).

(۲) صحيح البخارى: كتاب توحيد، باب دعا او د الله تعالى د نومونو وسيله حديث نمبر (٧٣٩٣)، او سنن ترمذى باب د نبي كريم صلى الله عليه وسلم دعاګانى، حديث نمبر (٣٤٠١).

(۳) مسند البزار ١٥/ ١٦١، حديث نمبر (٨٥٠٦)، تحقيق: محفوظ الرحمن زين الله، نشر: مكتبه العلوم والحكم، مدينه منوره، لومړنی چاپ: ١٩٨٨م.

خوب ځاي ځنډ ووهل شي نو كه چيرته مونږ دې مقصد ته وګورو نو هغه دا دى چې د خوب د ځاى پاكوالى دى او ددي څخه ځان باوري كول چې د خوب ځاى د هرډول هغه شيانو څخه خالي دى چې انسان ته پرى ضرر رسوي چې پدي كې حشرات او نور څه راځي نو دلته مونږ دا درک كولى شي چې په هر هغه وسيله باندي چې انسان كولى شي دغه مقصد او موخه لاسته راوړي برابره خبره ده چې دا په جارو سره وي او يا په بلي وسيلي سره وي او ځاي پاک كړى شي نو كولى شو په هغه سره ځاي پاک كړو ځكه دلته مقصد د اغوستل شويو جامو اړخ ندى بلكي مقصد ترى د ځاى پاكوالى دى او ددى څخه ځان باوري كول دي چې هيڅ ډول زيان رسوونكي څيز ددى په بستره باندي پاتې ندي چې ورته زيان ورسوي كه دلته مونږ وګورو نو په جارو او نورو وسايلو سره دغه مقصد د كاليو په نسبت ډير ښه ترلاسه كولى شو نبي كريم صلى الله عليه وسلم په هغه زمانه كې خپل قوم ته ددى لپاره پدي باندى خطاب كړى وو چې د هغوى عاداتو او دودونو ته يي وكتل او د هغوى په زمانه كې هغوى ته همدا آسانه وه ترڅو د هغوى په عادي ژوند كې كوم ډول ستونزي ورته راولاړي نشي نو له همدى لپاره ددى حديث مقصد دا دى چې ګويا نبي كريم صلى الله عليه وسلم هغوى ته فرمايلي دي چې تاسو خپل د خوب ځايونه پاک كړي مخكي لدي چې تاسو خپلي بسترې ته ځئ په هغه څه باندي چې تاسو ته اسانه وي اګر كه د جامو په اړخ باندي هم وي.

د حديثو ځيني شارحين ددغه خبري علت چې ګويا پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د جامو په يوه څنډه باندي خپل د خوب ځاى څنډ وهئ پدي باندي كړى دى چې انسان كله دا په لاس باندي وكړي او يا هم په بلې وسيلي باندي او يا يو پداسى څه باندى وكړې چې هغه تيره وي نو لاسته به يي په هغه زيان ورسيږي او يا هم لاسونه يي په خاورې شې او يا په نورو چټلو شيانو باندي خراب نشي او يا هم هغه ته د حشراتو او يا هم نورو زيان رسوونكو شيانو له كبله زيان ونه رسيږي دا په هغه وخت چې انسان غواړي د خپل د خوب ځاى پخپل لاس باندي پاک كړي نو هغه څه چې مونږ مخكي بيان كړ دهمدغه شي بيان كوي چې مقصد ترى د ځاى پاكوالى دى[1].

سره لدي كه چيرته د يو چا ژوند د صحابه كرامو د زمانې د ژوند سره مشابهت ولري نو هغه ته هيڅ ډول كوم مشقت نشته كه چيرته د نص ظاهر ته وګوري نو كولاي شي چې د خپلو كالو په يو څنډه باندي د خپل دخوب ځاي څنډ ووهي خو داسى هڅه كول چې په ټولو خلكو باندي دا لازمي كړى چې بايد ظاهري نص ته وګوري او ددغه نص په پوهيدنه كې په خلكو دروازه راتنګه كړي او ورباندى لازمي كړي چې د خپل په چارو كې بايد په همداسى ډول كړني سرته ورسوي

(١) پدې هكله لاندې مراجع وګورئ: شرح امام نووى په صحيح مسلم ١٧/ ٣٧، نشر دار اخبار تراث عربى، بيروت، او كتاب تحفه الأحوذى بشرح جامع ترمذى ٩/ ٢٤٤، نشر: دار الكتب العلميه، بيروت، اوكتاب الإفصاح عن معانى الصحاح د ابن هبيره ٦/ ٢٨١، چاپ: دار الوطن.

چې په هماغه وخت کې هغوی سرته رسولي وو دا پخپله په خلکو باندی یو ډول تنګسیا راوستل دي او مقصد ته د نه رسیدو یو لاره ده.

همدارنګه دې حدیث ته دا اعتبار ورکول او په خلکو باندی دا لازمي کول چې ظاهري نص ته وګوري چې ګویا په همدې ډول سره مونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د حدیثو سره سم عمل کولي شو او ددې ماسوا که په کومه بله وسیله باندي ترسره کړو سره لدی چې زمونږ په اوسني ژوند کې پرمختګونه راغلي دي دا د سنتو سره برابر ندي دا پخپله د پیغمبر صلی الله علیه وسلم احادیثو په هکله یو ډول ظلم دی او غلطه پوهیدنه ده چې د شریعت د لوړو مقصدونو سره برابره نده ځکه چې شریعت د پاکوالي او ښایست په لوړو درجو باندي ټینګار کړی دی ترڅو د ودي او پرمختګ د ټولو وسایلو څخه ګټه پورته کړی شي تر هغه وخته پوري چې د مباحو شیانو په چوکاټ کې ترسره شي چې په هغه کې حرمت نه وي ځکه چې دلته مونږ یوه بله قاعده لرو او هغه دا چې په چارو کې اصل دا دی چې هغه روا دي تر هغه پوري چې پر حراموالي باندي دلیل نوي راغلي د أبي ثعلبة الخشني رضي الله عنه څخه روایت دی دی وایی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چې یقینا الله جل جلاله په تاسو باندي فرایض لازمي ګرځولي دي هغه مه ضایع کوئ او همدارنګه ځیني شیان یي په تاسو حرام ګرځولي دي د هغه څخه سرغړونه مکوئ او تاسو ته یي پولي ټاکلي دي تجاوز ترې مکوئ او له ځینو شیانو په هکله څه ندي ویلي نو په هغه کې تاسی څیړنه مکوئ[1].

همدارنګه د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې فرمایي: د جاهلیت په زمانه کې خلکو ځیني شان خوړل او ځیني شیان یي همداسی پریښودل نو الله جل جلاله چې کله خپل نبي ولیږلو او کتاب یي رانازل کړو نو په هغه کې حلال او حرام ټول یی رامعلوم کړ هغه چې حلال یي ګرځولي هغه ټول مونږ اوتاسو ته حلال دي او هغه څخه چې حرام یي ګرځولي هغه د ټولو لپاره حرام دي او د هغه څه په هکله چې څه ندي ویل شوي په هغه کې عفوه ده له هغه وروسته یی دغه آیات ولوستلو چې الله جل جلاله فرمایي: « قُل لَّآ أَجِدُ فِى مَآ أُوحِىَ إِلَىَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ»[2] ژباړه: «[اې محمده صلی الله علیه وسلم!] دوی ته ووایه: کومه وحیي چې ما ته راغلي ده، په هغې کښې خو زه کوم داسي شی نه مومم چې پر کوم خوړونکي حرام وي».

(١) سنن دار قطني: حدیث نمبر (٤٣٩٦)، ط: موسسه رسالت، بیروت لبنان.

(٢) الأنعام: ١٤٥.

## دریمه بیلګه او نمونه

## د کالیو او جامو د اوږدالي په هکله په راغلیو احادیثو باندی پوهیدنه

د ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: الله جل جلاله هغه چاته نظر نکوي چې د لویۍ او تکبر له کبله خپل کالي اوږد کړي[(١)] د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی وایی چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې خپله جامه د کبر په وجه باندی اوږده ځوړنده کړي الله جل جلاله د قیامت په ورځ هغه ته هیڅ نظر نکوي نو ما محارب ته وویلي چې آیا هغه صلی الله علیه وسلم پرتوګ هم بیان کړی دی؟ وی فرمایل: چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم پرتوګ یا کمیس خاص کړی ندی بلکي عامه خبره یی کړی[(٢)].

د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه همدارنګه روایت دی وایی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې د لویۍ او تکبر له کبله خپل کالي اوږده پریږدي الله جل جلاله به د قیامت په ورځ هغه ته نظر نکوي، ابوبکر رضي الله عنه فرمایي چې زما د کالیو یوه څنډه اوږده وه نو ورته مي وویل آیا دا پري نکړم پیغمبر صلی الله علیه وفرمایل: تا دا د تکبر له کبله ندی جوړ کړی موسی رضي الله تعالی وایی چې ما سالم رضي الله تعالی عنه ته وویل چې آیا عبدالله بن عمر رضي الله عنه پرتوګ خاص کړی دی چې اوږدې بډې پریښودل کیږي؟ وی فرمایل: ما له هغه څخه د کالیو پرته بل څه ندي اوریدلي[(٣)].

همدارنګه د ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه یو سړی ولیدو چې پرتوګ یي ډیر ځوړند وو نو ورته یی وفرمایل چې ته څوک یي؟ کله چې د هغه نسب معلوم شو نو هغه د بني لیث د قبیلي یو سړی وو نو ابن عمر رضی الله عنه هغه وپیژندو او بیا یي ورته وویل چې ما د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پخپلو دواړو غوږونو باندی اوریدلي دي چې فرمایي څوک چې خپل پرتوګ اوږد پریږدي چې مقصد یې لویې او تکبر وې نو الله جل جلاله به هغه ته د قیامت په ورځ نظر نکوي[(٤)].

د ابو ذر رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم فرمایلي دې چې درى کسانو سره به الله جل جلاله د قیامت په ورځ خبري نکوي او هغوی ته به نظر نکوي او نه به یي پاکوي او د هغوی لپاره دردناک عذاب دی، دی وایي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم درى کرته دا خبره تکرار کړه نو ابو ذر رضي الله

(١) صحیح البخاری: کتاب لباس، باب د الله تعالی دغه وینا چې فرمایي: {قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِيٓ أَخْرَجَ لِعِبَادِهِۦ}، د حدیث شمیره: (٥٧٨٣)، اوصحیح مسلم: کتاب لباس او زینت، باب د تکبر لپاره د لباس اوږد پریښودل، د حدیث شمیره: (٢٠٨٥).

(٢) صحیح البخاری: کتاب لباس، باب څوک چې خپل لباس د کبر له وجي اوږد پریږدي، حدیث شمیره (٥٧٩١).

(٣) صحیح البخاری: کتاب د نبي کریم صلی الله علیه وسلمد صحابه وو فضائل، د حدیث نمبر (٣٦٦٥).

(٤) صحیح مسلم: کتاب لباس او زینت، باب د تکبر له کبله د جامو د اوږدوالي پریښودل حرام، حدیث نمبر (٢٠٨٥).

عنه وايي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې دا څوک دي ای د الله رسوله؟ نو هغه وفرمايل: څوک چې خپل پرتوگ اوږد پريږدي او څوک چې په بل چا باندي منت گزاری کوي او څوک چې خپل مال د درواغو قسمونو د خوړلو له لاري خرڅوي[۱].

همدارنګه د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د ښنګرو لاندې که چيرته پرتوګ ځوړند پريښودلی شي نو هغه به په اور کي وي[۲].

که په مخکنيو حديثونو کې مونږ نظر وکړو نو پدي باندي تينګار کوې چې د جامی د اوږدوالي منع کولو علت لويي او تکبر دی چې د الله جل جلاله په مخلوقاتو باندي ځان لوی وګڼي او د جامي په اوږدوالی سره په هغي باندي فخر وکړی چې ګويا دا د شتمنۍ او مالدارۍ يوه نښه ده همدارنګه د احاديثو په روايتونو کې همدا راغلي دي چې د سړي مقصد لدي څخه تکبر وي نو کله چې تکبر او لويي رامنځته کيږي نو بيا حرمت او منع والی هم راځي خو چې کله لويي او تکبر موجود نه وي نو د حرمت او منع والي علت هم له منځه ځي په مخکينو احاديثو کې دغه علت په ښکاره ډول سره ذکر کړی شوی دی چې په لومړني دريم او څلورم حديث کې دا راڅرګنديږي خو بل حديث چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم پکې فرمايلي دي چې د ښنګرو لاندي که چيرته پرتوګ اوږد پريښودل شي نو هغه ښنګری به په اور کې وي او همدارنګه بل حديث چې په هغه کې دري کسان ذکر کړی شوی دی چې الله جل جلاله به د قيامت په ورځ د هغوی سره خبري نکوي او نه به هغوی ته نظر کوي دا دواړه مطلق حديثونه دي کله چې مطلق حديث د مقيد حديث سره جمع شی نو مطلق بيا په مقيد باندی حمل کيږي او په هغه حديث باندي عمل کيږي چې هغه کې قيد ايښودل شوی وي دا چې په نورو احاديثو کې دلته د لويي او د تکبر قيد ايښودل شوي دی نو همدا د منع والي او ګناه علت کيدلی شي نه دا چې يواځي د کاليو اوږدوالی د ګناه لامل شي.

امام نووي[۳] رحمه الله فرمايلي دي: چې د لويۍ او د تکبر قيد چې په حديث کې ايښودل شوی دی دا نور عمومي حديثونو هغه خاص کړی دی او پدي باندي دلالت کوي چې جزا او ګناه د هغه چا لپاره ده چې د لويۍ او تکبر له امله دا اوږد پريږدي او پيغمبر صلی الله عليه وسلم او ابوبکر صديق رضي الله عنه ته اجازه

(۱) صحيح مسلم: کتاب ايمان، باب د جامو د اوږدوالی حرمت حديث نمبر (۱۰٦).

(۲) صحيح البخاری: کتاب لباس، باب هغه چې د ښنګرو لاندې جامه اوږد پريښودل شي هغه به په اور کې وي، حديث نمبر (۵۷۸۷)، او سنن نسائی: کتاب زينت،حديث نمبر (۵۳۳۱).

(۳) هغه: ابو زکريا محی الدين، يحيی د شرف نووی شافعی ځوی، د سوريي د حوران د قريي څځه وو، په ٦۳۱هـ کال کې پيدا شو، علامه فقيه او محدث وو، د هغه د مهمو کتابونو د جملي څخه: المنهاج فی شرح صحيح مسلم، او رياض الصالحين، په ٦۷٦هـ کال کې وفات شو. (الأعلام از زرکلی ۸/ ۱۴۹).

ورکړي وه او ورته يي ويلي وو چې ته لدوی څخه نه يي ای ابوبکر ځکه چې تا د تکبر او د لويئ له کبله ندي پريښي[١].

ابن حجر[٢] رحمه الله همدارنگه فرمايلي دي: پدغه حديثونو کې د لويئ او تکبر قيد چې رامنځته شوی دی هغه نور حديثونه په هغه باندي مقيد کيږي چې عمومي راغلي دي نو که چيرته يو څوک کالي اوږده پريږدي او تکبر او لويوالي پکي نه وي نو بيا حرمت او منع والی نشته[٣].

حافظ عراقي[٤] رحمه الله فرمايلي دي چې هغه مطلق حديثونه چې پدی هکله راغلي چې گويا د ښنگرو لاندي که چيرته کالي اوږده پريښودلي شي نو هغه به په اور کې سوزي مقصد د هغه څخه همدا لويي او تکبري ده ځکه چې هغه حديث مطلق راغلی دی نو لازمه ده چې په مقيد حديث باندی هغه حمل شي[٥]، شوکاني رحمه الله فرمايلي دي: چې ددغه حديث څخه مقصد همدا دی چې بايد دا د تکبر په علت او قيد باندی حمل کړی شي نو د جابر رضي الله عنه حديث چې مخکي مونږ ذکر کړو هغه په همدي باندی حمل کيږي او هغه جزاء چې په هغه کې ذکر کړی شوی ده مقصد يي هغه څوک دی چې د لويي او تکبر له کبله دا کار سرته رسوي او هغه څوک چې يواځي د کاليو اوږدوالي گناه گڼي او د جابر رضي الله عنه حديث څخه ظاهره معنی اخلي نو هغوی ضرورت او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم دغه حديث ته نگوري چې ابوبکر ته يي فرمايلي وو چې ته د هغه چا څخه نه يي چې تکبر او لويي کوي[٦].

همدارنگه يو بل روايت راغلي دی چې ابوحنيفه[٧] رحمه الله يو داسی کميس اغوستی وو چې قيمت يي څلورسوه دينارو ته رسيدلو او هغه يي اوږد هم پريښی وو نو هغه ته وويل شو چې آيا مونږ لدي څخه منع کړی شوی نه يو؟ هغه وويل: هغه د هغه چا لپاره ده چې د لويئ او کبر له کبله خپل کالي اوږده پريږدي او مونږ لدې جملي څخه نه يو[٨].

مونږ په پای کې پدي باندی ټينگار کوو چې د کاليو چاري د دودونو او عادتونو سره اړه لري او دا د عبادتونو د جملي څخه ندي نو د منع والي علت په لويي تکبری او کبر باندی ولاړ دی کله چې دغه علت موحود وي نو دغه حرمت به هم

(١) شرح امام نووی په صحيح مسلم ٢/ ١١٦.

(٢) هغه: شيخ الإسلام ابو الفضل شهاب الدين احمد بن على بن محمد عسقلانى، هغه په ابن حجر مشهور وو، په ٧٧٣هـ کال کې پيدا شوی ، د هغه د مهمو کتابونو د جملي څخه: فتح البارى، او د لسان الميزان کتاب دی، په ٨٥٢هـ کال کې وفات شوی، (الأعلام از زرکلى ١/ ١٧٨).

(٣) فتح البارى شرح صحيح البخارى د ابن حجر عسقلانى ١٠/ ٢٦٣، نشر: دار المعرفه، بيروت.

(٤) هغه: ابو الفضل زين الدين عبد الرحيم بن حسين بن عبد الرحمن مشهور په حافظ عراقى، هغه د حديثد د حافظانو څخه وو، په ٧٢٥هـ کال کې پيدا شوی، د هغه د مهمو کتابونو د جملي څخه: المغنى عن حمل الأسفار فى الإسفار فى تخريج أحاديث الإحياء، او کتاب الألفة فى مصطلح الحديث، په ٨٠٦هـ کال کې په قاهره کې وفات شو، (الأعلام از زرکلى ٣/٣٤٤).

(٥) کتاب طرح التثريب فى شرح التقريب، د زين الدين عراقى ٨/ ١٧٤، چاپ مصر قديمه.

(٦) کتاب نيل الأوطار د امام شوکانى ٢/ ١٣٣، نشر: دار الحديث، مصر.

(٧) هغه: امام ابو حنيفه نعمان بن ثابت تيمى کوفى، فقيه ملت او د عراق دلويو علماؤ څخه وو، هغه د اهل سنت د څلورو امامانو څخه يو امام وو او د مشهور مذهب خاوند دی په ٨٠هـ کال کې پيدا شوی هغه چې پيدا شو ځيني واړه صحابه موجود وو په ١٥٠هـ کال کې وفات شوی، (سير اعلام النبلاء ٦/ ٣٩٠).

(٨) کتاب الآداب الشرعية د ابن مفلح مقدسى ٣/ ٥٢١، نشر: عالم الکتب.

موجود وي او چې کله دغه علت له منځه ولاړ شي نو دغه منع والی او حرمت به هم له منځه ځي همدارنګه مونږ پدی باندي ټينګار کوو چې د خلکو عام ذوق ته هم بايد نظر وکړي شي او د کاليو نظافت او ساتنه هم وشي ځکه چې که چيرته کالي ډير اوږده پريښودل شي نو ددی لامل کيدلای شي چې هغه ګنده او چټل شي.

## څلورمه نمونه او بیلګه

## د سرسايي په هکله راغليو احاديثو باندې پوهيدنه

د ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی فرمايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د سرسايه زکات د کجوري او يا هم د اوربشو يوه پيمانه لازمي ګرځولی وه چې مريي يا هم آزاد شخص ته ورکول کيږی برابره خبره ده که نارينه او که ښځينه وي، لوی وي که وړوکی خو بايد مسلمان وي همدارنګه پدي باندی امر کړی دی چې د اختر لمانځه څخه مخکې بايد دا اداء شي[1].

د ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی دی وايي چې مونږ د وړوکي اختر زکات يا سرسايه د اوړو او يا هم د اوربشو او يا هم د کجورو او يا هم د کشمشو يوه پيمانه به مو ايستله[2]، د عمرو بن شعيب څخه روايت دی هغه د خپل پلار او نيکه څخه بيا روايت کوي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم چې کله په پيغمبرۍ باندي مبعوث شو د مکي په اړخونو کې يي غږ وکړ چې خبردار د وړوکي اختر صدقه او يا سرسايه په هر مسلمان نارينه او ښځينه باندي واجبه ده برابره خبره ده که آزاد وي که مريي وي که وړوکې وي او که لوي وي او دا د غنمو او يا هم د خوړو څخه بي وزلو ته ورکول کيږي دلته د (بر) او د (قمح) لفظونه ذکر شوي چې دواړه د غنمو معنا ورکوي[3].

همدارنګه د ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی چې وايي نبي کريم صلی الله عليه وسلم سرسايه ددي لپاره لازمه کړې وه چې ترڅو د روژه دار د روژي پاکوالي پري رامنځته شي چې په هغه کې لهو لعب کارونه کړي يي او د بی وزلو او د مسکينانو لپاره يوه مړی برابرول دي څوک چې د اختر لمانځه څخه مخکې اداء کړي نو دا قبول شوی زکات ګرځي او څوک چې د اختر لمانځه څخه وورسته اداء کړي نو هغه د صدقو څخه يوه صدقه ګرځي[4].

نافع ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم سرسايه لازمي ګرځولی وه او همدارنګه دا يي په نارينه ښځه آزاد همدارنګه مريي په ټولو باندی ګرځولی ده چې د خرماوو اوربشو څخه به يوه پيمانه ورکول کيږي خو خلکو بيا وروسته د غنمو نيمه پيمانه د هغي سره برابره کړه او هغه يي په سرسايه کې ورکوله ابن عمر رضي الله عنه د خرماو څخه به يي سرسايه ورکوله خو چې کله به په مدينه کې خرماوي کمي شوی نو بيا به يی اوربشي ورکول همدارنګه ابن عمر رضي الله عنه به د وړو لويانو او د ټولو

---

(۱) صحيح بخاری: کتاب زکات، باب د صدقه فطر فرضيت، حديث نمبر (۱۵۰۳)، او صحيح مسلم: کتاب زکات، باب صدقه فطر بر مسلمانان، حديث نمبر (۹۸٤).

(۲) صحيح بخاری: کتاب زکات، باب د خوړو يوي پيماني فرضيت په صدقه فطر کي، حديث نمبر (۱۵۰٦)، او صحيح مسلم: کتاب زکات، باب په مسلمانانو باندې د صدقه فطر فضيت، حديث نمبر(۹۸۵).

(۳) سنن ترمذی: کتاب زکات، باب هغه چې د صدقه فطر په هکله روايات راغلي، حديث نمبر (٦٧٤).

(٤) سنن ابی داود: کتاب زکات، باب صدقه فطر، حديث نمبر (۱٦۰۹)، او سنن ابن ماجه: کتاب زکات، باب صدقه فطر، حديث نمبر (۱۸۲۷).

سرسايه به يي وركوله او دا به يي د اختر د ورځي څخه يو يا دوه ورځي مخكي اداء كوله[۱].

د ابي سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې مونږ د پيغمبر صلی الله عليه په زمانه كې سرسايه به د خوړو خرماو او يا به د اوربشو او مميزو څخه به مو يوه پيمانه وركوله خو كله چې امام معاويه راغی او له هغه سره غنم هم رامنځته شو نو وی ويل چې زما په آند د غنمو يوه پيمانه د اوربشو او د خرماوو د دوو پيمانو سره برابره ده[۲].

همدارنگه د مسلم شريف په روايت كې راغلي دي د ابي سعيد خدري رضي الله عمه څخه روايت كوي دی وايي چې مونږ د نبي كريم صلی الله عليه په زمانه كې د سرسايی زكات ويستلو او دا مو د هر ماشوم لوی آزاد مريي د ټولو ويستلو چې پدي كې به مونږ خواړه اوربشي خرماوي او يا هم مميز وركول په همدي باندي روان وو چې معاويه بن سفيان رضي الله عنه مكې ته د حج كولو او يا هم د عمري لپاره راغي او په منبر باندی وختو او خلكو ته يی خبری كولي او پخپلو خبرو كې يی خلكو ته دا وويل زما په آند نيمه پيمانه د شام د غنمو د خرماوو د يوي پيماني سره برابره ده نو خلكو بيا په همدي باندي عمل كولو[۳] .

په بل روايت كې راځي كله چې نبي كريم صلی الله عليه وسلم زمونږ په منځ كې وو نو مونږ به يوه پيمانه د خرماوو يا د شودو او يا هم د اوربشو د هر وړوكی لوی آزاد او مريي لپاره ويستلو، مونږ په همدي ترتيب پرمخ تللو تردي چې حضرت معاويه رضی الله عنه راغی نو نيمه پيمانه غنم يي د يوي پيماني خرماوو سره برابر وگرځولو[٤].

او امام بخاری پخپل صحيح بخاری كې د حضرت معاذ بن جبل څخه روايت كړی چې د يمن خلكو ته يي وفرمايل: دا چې تاسو ما ته جوړ شوي لباسونه د اوربشو او خرماوو په ځای د سرسايي پخاطر راوړئ تاسو لپاره هم آسانه ده او په مدينه منوره كې د صحابه كرامو لپاره هم گټور دی[٥].

په سرسايه او يا د وړوكي اختر په صدقه كې اصل دا دی چې بايد د بی وزلو سره مرستي وشي او بايد د هغو گټي خوندي شي د علم خاوندانو پدي باندي ټينگار كړی دی چې كله گټه او مصلحت رامنځته شي نوهماغه به شريعت كيدلی شي نو پدي باندي بايد مونږ قياس وكړو چې د بی وزلو گټه او مصلحت په څه كې دی نو مونږ او تاسی بايد وخت او زماني ته وگورو كه چيرته د هغو گټي په

(۱) صحيح بخاری: كتاب زكات، باب صدقه فطر په آزاد او مريي، حديث نمبر (۱٥۱۱).

(۲) صحيح بخاری: كتاب زكات، باب د مميزو يوه پيمانه، حديث نمبر (۱٥۰۸).

(۳) صحيح مسلم: كتاب زكات، باب صدقه فطر، حديث نمبر (۹۸٥).

(٤) سنن ابن ماجه: باب صدقه فطر ۳/ ۱۸۳۰.

(٥) صحيح بخاری: كتاب زكات.

خوړو کې وي نو هغو ته باید خواړه ورکول شي او که چیرته د بی وزلو حالت پداسی زمانه کې وي چې هغوی ته په نغدو پیسو کې وي نو هغو ته باید نغدي پیسي ورکړل شي.

معاویه بن ابي سفیان رضي الله عنه نیمه پیمانه د غنمو د خرماوو د یوي پیماني سره یی برابر وګرځولو نو همدا وو چې قیمت د هغوی لپاره یو بنسټ وو چې باید د سرسایی په ویستلو کې هغه په نظر کې ونیول شي که چیرته قیمت د هغو په نزد باندی معتبر نه وایی نو د غنمو نیمه پیمانه به یي د خرماوو د یوي پیماني سره نه واي برابر کړی او د هغي په مقابل کې به یی دا نه و ای رامنځته کړی.

معاذ بن جبل رضي الله عنه همدارنګه د سرسایه د وروکونکي اود اخیستونکي د دواړو ګټي په نظر کې نیول د یمن د خلکو څخه یي کالي د اوربشو او د جوارو په بدل کې قبول کړ او ورته یی وویل چې دا ستاسو لپاره آسانه او ګټه رسونکې ده او همدارنګه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اصحابو لپاره په مدینه منوره کې همدا ګټه ورته رسوي نوهلته یي هغه ګټه په نظر کې ونیوله او هغه لوی مقصد او موخه یی چې هغه بی وزلو ته ګټه رسول دي هغه یي په نظر کې ونیول او معاذ بن جبل رضي الله عنه د صحابه ؤ په منځ کې د رایي علم او د اجتهاد خاوند وو.

د ابوحنیفه رحمه الله یو بل ملګری ابویوسف[1] رحمه الله وایي اوړه زما په نزد باندی د جوارو او د اوربشو څخه غوره دي او پیسي او درهم زما په نزد باندي چې باید په سرسایه کې ورکړل شي د اوړو او د اوربشو څخه غوره دي ځکه چې د بی وزلو د اړتیاوو په پوره کولو کې پیسي ډیر رول اداء کولی شي[2].

فقهاؤ ټینګار کړی دی چې د سرسایي د ویستلو په وخت کې باید دهر هیواد خوړو او حالاتو ته ولیدل شي په ځیني هیوادونو کې نور داسی شیان وي چې په حدیث کې هغه ندي ذکر شوي ولې د هغو مشهور خواړه همدا وي ځیني هیوداونو خواړه د غنمو څخه وي او د ځینو د جوارو څخه او ځیني هیوادونه بیا داسی دي چې هغوی دا نه استعمالوي بلکې وریجې استعمالوي نو فقهاؤ په همدي باندي ټینګار کړي دی چې د هر هیواد خوړو ته باید ولیدل شي ترڅو د سرسایه په ویستونکې او همدارنګه د بی وزلو ګټي په یو وخت کې په نظر کې ونیول شي لکه چې معاذ رضي الله عنه د یمن خلکو ته وویل چې د تاسو لپاره دا اسانه ده اوپه مدینه کې دا د صحابه ؤ لپاره ډیره ګټوره ده او د هغوی څخه یي کالي د اوربشو په بدل کې

(۱) د هغه نوم: یعقوب بن ابراهیم بنړ حبیب انصاری، کوفی بغدادی، د امام ابو حنیفه شاګرد وو په ۱۱۳هـ کال کي په کوفه کي پیدا شوی، فقیه، علامه او د حدیثو حافظ وو، هغه لومړنی شخص وو چي حنفي مذهب یي خپور کړ او لومړنی شخص وو چي د قاضی القضات لقب ورکړل شو او لومړنی شخص وو چي په اصول فقه کي یي کتاب ولیکلو د هغه د مهمو کتابونو د جملي څخه: کتاب الخراج او کتاب الأمالی فی الفقه علی مذهب ابی حنیفه دي، په ۱۸۲هـ کال کي وفات شو، (کتاب الأعلام د زرکلی ۸/ ۱۹۳).

(۲) کتاب الإختیار لتعلیل المختار د ابن مودود حنفی (متولد ٦۸۳هـ): کتاب زکات، ص١٦، دار المعرفه. بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع د ابی بکر بن مسعود بن احمد کاسانی (متولد ٥۸۷هـ) ۲/ ۷۲، جاپ: دار الکتب العلمیة، چاپ دوهم ١٤٠٦هـ/ ۱۹۸٦م.

واخیستل څوک چې زمونږ وخت زماني او عصر ته نظر وکړي نو دا به وګوري چې د نغدو پیسو ویستل د بی وزلو او فقیرانو ته ډیره ګټه رسوي ځکه چې هغوی کولي شي چې په نغدو پیسو باندي خپلي اړتیاوي او غوښتني پوره کړي همدارنګه که چیرته هغوی ته زکات په وریجو او یا هم په اوربشو او یا هم په نورو خوړو باندي ورکړل شي زیاتره وخت ښایی هغوی دا خرڅ کړي او په نیم ارزښت باندي هغه خرڅ کړي ځکه چې اخیستونکي څوک نه وي نو د بی وزلو په ګټو باندی ناوړه اغیز کوي نو زمونږ رایه او نظر دا دی چې نغدي پیسی زمونږ په اوسني زمانه کې د بی وزلو لپاره ډیره ګټه رسوي خو په عین وخت کې مونږ ددی انکار هم نه کوو که چیرته یو څوک خپله سرسایه په هغه ډول اوباسي لکه څنګه چې په حدیث کې راغلي دي او یا هم د نورو خوړو څخه یو څه اوباسي او یا هم د حبوباتو څخه لکه چې معاویه بن سفیان رضي الله عنهما همدا کار کړی وو او صحابه ؤ هم پدي باندی اقرار کړی دی نو هیڅ کوم مشقت او ستونزه نشته او که څوک نغدی پیسی ورکړي نو دا هغه لپاره هم اسانه ده او د بی وزلو لپاره هم ګټه رسونکي ده دلته دا موضوع پراخه ده او د ټولو نظریانو ګنجایش پکې تر سترګو کیږي او هیڅ څوک نشي کولای چې د علم د خاوندانو ترمنځ د اختلافی موضوع څخه انکار وکړې لکه فقهي قاعده کې چې په همدي باندي ټینګار شوی.

## پنځمه بیلګه او نمونه

## په لوی اختر کې د قربانۍ په احادیثو باندي پوهیدنه

د سلمه بن اکوع رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې په تاسو کې قرباني وکړي نو د دری ورځو څخه باید زیات په کور کې غوښه ونه ساتي هرکله چې یو کال تیر شو او بیا راتلونکي کال راغی نو بیا صحابه کرامو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته وفرمایل: ای د الله رسوله سږکال هم همغسی وکړو لکه څنګه چې تیر کال مو کړې وو؟ وی فرمایل: خوراک ترې وکړئ او څخښاک ترې وکړئ او ترې وساتئ ځکه چې په هغه کال کې په خلکو باندی مشقت وو نو ماغوښتل چې تاسی د هغو سره مرسته وکړئ[1].

د ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی وایی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: د لوی اختر د قربانۍ غوښي د دری ورځو څخه زیات مه خورئ نو صحابه کرامو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته شکایت وکړ چې هغوی بچیان لري او همدارنګه خادمان میلمانه او خدمتګاران لري نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: پخپله وخورئ او په نورو باندي هم وخورئ او ترې وساتئ هم[2].

د عبدالله بن واقد رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم د قربانۍ د غوښي څخه منع کړي ده چې د دری ورځو وروسته وخوړل شي عبدالله بن ابي بکر رضي الله عنه وایی چې دا خبره ما عمره رضي الله عنها ته ذکر کړه هغې وفرمایل: ریښتیا وایی، ما د عایشي رضی الله عنها څخه اوریدلي دی چې ویل یي کله چې د بانډو خلک د قربانۍ په وخت کې مدیني منوري ته راغلل [3]، نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دری ورځي وساتئ او څه چې د هغي څخه وروسته پاتی شو هغه بیا صدقه کړئ کله چې بل کال راغی نو ورته وویل شول ای د الله رسولا! هغه خلک د خپلو قربانیو وازګي ویلي کوي او غوړي ترې وباسي نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې دا ولې؟ ورته وویل شول: ځکه چې هغوی دې د دریو ورځو څخه وروسته د قربانۍ د غوښي د خوړلو څخه منعه کړې دي نو وی فرمایل: ما د هغه خلکو په خاطر تاسو منعه کړي وی چې د بانډو څخه راغلي وو نو اوس تاسو وخورئ ویې ساتئ او صدقه یې کړئ[4].

---

(۱) صحیح بخاری: کتاب قربانی، باب هغه چي د قربانی غوښه خوړل کیږي او هغه چي ساتل کیږي، حدیث نمبر (۵۵۶۹).

(۲) صحیح مسلم: کتاب قربانی، باب هغه چي د قربانۍ غوښه خوړل کیږي او هغه چي ساتل کیږي، حدیث نمبر (۱۹۷۳).

(۳) د حضرت عائشه حیث کي د (دافة) لفظ راغلی، دافه معنی دا ده چي تول خلک په لاره په آرامی سره ځي (لسان العرب د ابن منظور، ماده دفف ۹/ ۱۰۴). چاپ دار صادر، بیروت، ۱۴۱۴هـ.

(٤) صحیح مسلم: کتاب قربانی، باب هغه چي په اسلام کي د قربانۍ غوښه د دریو ورځو څخه وروسته خوړل منعه شوي وو حدیث نمبر (۱۹۷۱).

د ابن عمر څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: په تاسو کې دي څوک د قربانۍ غوښه د دري ورځو څخه زیات نه ساتي او هغه د دري ورځو څخه زیات نه خوري(۱).

د مخکنیوحدیثونو د سیاق څخه چې مو ذکر کړل دا په ځرګند ډول معلومیږي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم یکې فرمایلي دي چې تاسو وخورئ او صدقه ترې وکړئ او وې ساتئ او دا بل حدیث چې فرمایي تاسو د قرباني غوښه ددری ورځو څخه وروسته مه خورئ هیڅ یو پدی دواړو کې یو بل ندي نسخ کړي بلکي دا دواړه په ځانګړی حالتونو کې راغلي دي نو کله چې هوساینه او آسانتیا وي نو بیا د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پدي حدیث باندی عمل کیږي چې تاسی خورئ صدقه ترې وکړئ او وی ساتئ او کله چې په خلکو کې ستونزي او اړتیاوي زیاتی وی نو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پدی حدیث باندی عمل کیږي چې فرمایي: چې په تاسو کې دي څوک د قرباني غوښه د دری ورځو څخه وروسته نه خوري دا ځکه چې کله نبي کریم صلی الله علیه وسلم هغوی د قرباني د غوښې څخه منع کړل چې ددری ورځو څخه وروسته به یی نه خوري نو په راتلونکي کال کې ترې بیا پوښتنه وشوه چې ای د الله رسوله تاسو مونږ منع کړی وو چې د قرباني غوښه به ددری ورځو وروسته نه خورو نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم بیا ورته وفرمایل: چې وې خورئ او وي ساتئ ځکه په هغه کال کې په خلکو باندي مشقت وو نو ما غوښتل چې تاسی په هغه کې د هغوی سره مرسته وکړئ.

زیاتره خلک د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پدغه حدیث باندی عمل کوي او په همدي باندي یوه شوي دي چې وایي وخورئ او خلکو ته یري خواړه ورکړئ او وي ساتئ او دوی د فقهاؤ ځیني اقوال ځانګړي کړي دي چې هغوی فرمایلي دي چې د قربانۍ غوښه به دری برخو ته ویشل کیږي چې یو د بی وزلو لپاره وي یو دخپل خپلوانو لپاره د ډالۍ په توګه وي او یوه برخه هم د خپلي کورنی لپاره دغه ویش په غوښه کې د تصرف کولو یو عملي چاره ده او ددی مقصد دا وو چې قرباني کوونکي د بی وزلو خلکو برخي په هلکه ظلم ونکړي او هغوی ته باید ورکړي اګر که د خپلي قرباني دریمه برخه هم وي او ددی څخه زیات ورکوي نو الله جل جلاله هغه ته ثواب ورپه برخه کوي.

خو زیاتره خلک بیا زمونږ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ددغه حدیث څخه غافله پاتی دي چې کله خلک یي ولیدل چې په هغو باندی سختي او مشقت وو نو بیا یی وفرمایل څوک چې په تاسو کې قرباني وکړي نو ددریمي ورځي څخه وروسته به په کور کې څه نه ساتي خو کله راتلونکي کال راغي نو بیاصحابه ؤ وفرمایل: ای د الله رسوله سږکال هم همغسی وکړو لکه څنګه چې هغه بل کال

(۱) سنن ترمذی: کتاب د پیغمبر صلی الله علیه وسلم قربانی باب د دریو ورځو څخه زیات د قربانۍ د غوښي خوړلو کراهیت، حدیث شماره (۱۵۰۹).

موو کړی وو؟ بیا وفرمایل: وخورئ او خلکو ته پری خواړه ورکړئ او وی ساتئ ځکه په هغه کال باندي په خلکو مشقت وو نو ما غوښتل چې تاسو په هغه کې د خلکو سره مرسته وکړئ نو کله چې آسانتیا او هوساینه وي نو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پدغه حدیث باندی عمل کیږي چې فرمایلي دي: تاسو وخورئ تري او خلکو ته صدقه تري ورکړئ او وي ساتئ خو چې کله په خلکو باندی مشقت او سختي او هغوی ورته اړتیا ولري نو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پدغه حدیث باندي عمل کیږي چې فرمایي: څوک چې په تاسو کې قرباني وکړي نو ددریمي ورځي څخه وروسته به په کور کې څه نه ساتي.

خوو مونږ دلته پدي باندي ټینګار کوو چې باید بی وزلو او اړمندو خلکو سره مرسته وشي او هغوی ته د قربانی لویه برخه ورکړل شي کله چې زمونږ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه او دغه پوښتنه عایشه رضي الله تعالی عنها وکړه چې کله هغوی پسه حلال کړ نو ورته یی وفرمایل آیا د هغه څخه څه پاتي دې؟ عایشه رضی الله عنها ورته وویل چې د یوي اوږي څخه پرته نور څه ندي پاتي پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ددي د اوږي څخه پرته نور هر څه یي پاتی دي[1] هغه چې خلکو ته ورکړل شي او صدقه شي هغه د انسان لپاره ذخیره کیږي او هغه به بیا وموmي الله جل جلاله پدي هکله فرمایی: «مَاعِندَكُمْ يَنفَدُ ۖ وَمَا عِندَ اللَّهِ بَاقٍ»[2] ژباړه: « څه چي له تاسي سره دي، هغه مصرف کېدونکي دي؛ او څه چي له الله سره دي، همغه باقي پاتي کېدونکي دي».

همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ دیته هڅولي یو چې په بی وزلو او مسکینانو باندی آسانتیا راولو او د اختر په ورځو کې د هغوی سره مرسته وکړو لکه چې فرمایي: پدغه ورځ باندی هغوی غنیان کړئ[3] یعني هغوی ته ورکړه وکړئ او په هغو باندی آسانتیا راولئ او هغوی دیته مه اړ کوئ چې سوال وکړې او پدي ورځ باندی اړمند پاتي شي نعمتونه په شکر سره زیاتیږي او په ناشکري او په انکار باندی له منځه ځي الله جل جلاله پدي هکله فرمایي: «وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ۖ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِى لَشَدِيدٌ[4]، هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ لِتُنفِقُوا فِى سَبِيلِ اللَّهِ فَمِنكُم مَّن يَبْخَلُ ۖ وَمَن يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ وَاللَّهُ الْغَنِىُّ وَأَنتُمُ الْفُقَرَآءُ ۚ وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓا أَمْثَٰلَكُم»[5] ژباړه: « او په یاد ولرئ، ستاسي رب خبردار کړي واست چي که شکر و باسئ؛ نو پر تاسي به لا زیاته پېرزوینه وکړم او که د نعمت ناشکري وکړئ؛ نو زما سزا ډېره سخته ده، وګورئ، تاسي ته بلنه درکول کیږي، چي د الله په لاره کښي مال ولګوئ. نو

(۱) سنن ترمذی: کتاب نکاح، حدیث نمبر (۲٤۷۰).

(۲) [النحل: ۹٦].

(۳) سنن الدار القطنی: کتاب زکات فطر، حدیث نمبر (۲۱۳۳).

(٤) [إبراهيم: ۷].

(٥) محمد: ۳۸.

ستاسي څخه ځيني كسان داسي دي چي بخيلي كوي. او چي څوک بخيلي كوي، په حقيقت كښي پر خپل ځان بخيلي كوي. الله خو شتمن دی او تاسي هغه ته اړ ياست. كه تاسي مخ واړوئ، نو الله به ستاسي په ځای كوم بل قوم راولي؛ او هغوی به بيا ستاسي په څير نه وي»،همدارنګه نبي كريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: بنده باندې چې هر سهار راځي په هغه باندی دوه ملائكې ښكته كيږي يو وايی چې اې الله نفقه كوونكي او خيرات كوونكي ته د هغه د مال بدله وركړه او بل وايي چې اې الله هغه څوک چې بخيل دی او نفقه نكوي د هغه مال هلاک كړه[(١)]

همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم په يو بل حيث كي فرمايلي دي: يقينا الله تعالى خيني خلكوته نعمتونه وركړې او تر هغه ورسره پريږدې چې د خلكو اړتياوی ورڅخه پوره كوي خو كله چې تري خلک نا اميده شي نو بيا الله دغه نعمتونه ددغه خلكو څخه بيرته آخلي او بل چا ته يي وركوي[(٢)].

(١) صحيح بخاری: كتاب زكات، باب د الله تعالى دغه وينا: (فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡيُسۡرَىٰ) [الليل: ٥-٧]؛ حديث نمبر (١٤٤٢).

(٢) معجم وسيط د طبرانی: ٨/ ١٨٦، حديث نمبر (٨٣٥٠)، چاپ: دار الحرمين، قاهره.

## شپږمه بيلګه او نمونه

## د بل چا لپاره د اودريدو په هلکه راغلي احاديثو باندي پوهيدنه

د معاويه رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي ما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايلي دي: څوک چې دا خوښ او غوره ګڼي چې خلک د هغه لپاره پاڅيږي نو خپل ځای دې په اور کې جوړ کړي[1]، همدارنګه د معاويه رضي الله عنه څخه روايت دی چې فرمايي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې پدي باندی خوشحاله کيږي چې د الله جل جلاله بندګان هغه ته پاڅيږي نو هغه د جهنم په اور کې د ځان لپاره کور جوړوي[2].

د ابي امامة رضي الله عنه څخه روايت دی چې فرمايي يو ورځ نبي کريم صلی الله عليه وسلم په مونږ باندی را ووتو چې په امساء باندی يی تکيه کړي وه نو مونږ ورته پاڅيدو نو وی فرمايل: تاسو مه پاڅيږئ لکه څنګه چې عجم پاڅيدل هغوی به ځيني په ځيني نورو باندی لوي ګڼل[3].

د ابي سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي کله چې اهل قريظه د معاذ رضي الله عنه ترحکم لاندی راغلل نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم سعد بن معاذ هغوی ته وليږلو هغه چې کله راغی نو ورته يي وفرمايل: خپل سردار او مشر ته پاڅيږئ نو هغه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم ترڅنګ کيناستلو نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: هغوی ستا په حکم باندي هوکړه کړې ده نو وي ويل: نو زه حکم کوم چې جګړه کوونکې دې ووژل شې او ښځې يي بنديانې کړای شې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: داسي حکم دې پرې وکړ چې الله تعالی کړی وو[4].

او د انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم صحابه کرام به چې کله د يو بل سره مخامخ کيدل نو يو له بل سره به يی ستړي مشي کوله او کله به چې د سفر څخه راتلل نو يو بل ته به يی غاړي ورکولي[5].

ددغه احاديثو څخه مونږ داسی پوهيږو چې د اودريدلو څخه منع والی په مطلق ډول ندی راغلي بلکي هغه په لويوالي باندی مطلق شوی دی لکه څنګه چې په حديث کې ويل شوي دی لکه څنګه چې عجمو دا کار کولو نو منع په هغه وخت کې راځي چې د لوی والي له کبله څوک پاڅيږي او دا پخپله په څرګند ډول پدي روايت کې راغلي دی چې تاسو د عجمو په څير مه پاڅيږئ هغوی ځيني په ځينو نورو باندی لوي ګڼل، امام بخاري رحمه الله پخپل کتاب ادب مفرد کې ددي قصد

(١) سنن ابی داود: کتاب ادب، باب د يو سړي دبل سړي لپاره اودريدل، حديث نمبر (٥٢٢٩).

(٢) کتاب الأدب المفرد د امام بخاری: باب يو شخص د بل شخص لپاره د تعظيم له کبله اودريدل، ص٣٣٩، حديث نمبر (٩٧٧).

(٣) سنن ابی داود: کتاب ادب، باب د يو سړي دبل سړي لپاره اودريدل، حديث نمبر (٥٢٣٠).

(٤) صحيح بخاری: کتاب استئذان، باب د پيغمبر صلی الله عليه وسلم حديث چې فرمايی: د خپل مولا په راتګ سره اودريږئ حديث نمبر (٦٢٦٢).

(٥) المعجم الوسيط د طبرانی، حديث نمبر (٩٧)، او ترڅو چې ورته ولاړ نشی امکان نلري چې غاړه ورکړي.

بیان کړي او ویلي دي او ددي لپاره یي یو ځانګړی باب وړاندی کړي دی چې د هغه باب نوم یي د لویی لپاره د یو شخص د بل شخص لپاره پاڅیدل نوم ورکړی دی او دا څرګنده ده چې امام بخاري رحمه الله چې کوم مقصدونه د احادیثو په هکله بیان کړي دي هغه پخپله یوه فقه ده ابوداوود رحمه الله هم پخپل کتاب کې ددې لپاره یو باب ځانګړی کړی دی چې د باب نوم یي یو شخص د بل شخص لپاره پاڅیږي ترڅو دهغه لویي وکړي.

ددي ټولو څخه دا څرګندیږي چې منع والی په هغه پاڅیدنه کې راغلی دی چې هغه د لوی والي له کبله وي یواځي پاڅیدل تری مقصد ندی لکه څنګه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چې خپل مشر ته پاڅیږئ یعنی سعد ین معاذ رضي الله عنه ته، که چیرته په مطلق ډول اودریدل منع وی نو بیا به پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغوی ته نه وو ویلي چې خپل مشر ته پاڅیږئ او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دغه بل حدیث چې فرمایلي دي چې څوک دا خوښ ګڼي چې خلک د هغه لپاره پاڅیږي او همدارنګه دا بل حدیث چې څوک خوښ ګڼی چې خلک د هغه لپاره پاڅیږي پدي کې دیته اشاره ده چې مقصد یی هغه څوک دی چې پخپل نفس کې لوی والی رامنځته کوي ترڅو خلک ورته د عزت او د لوی والي له کبله پاڅیږي خو که چیرته خلک ورته د مینې او محبت لپاره پاڅیږي خو په مقابل کې دغه شخص بیا عاجزي او خشوع او خضوع الله جل جلاله ته غوره کړي نو بیا هیڅ مشقت پکې نشته.

# مهم مآخذونه او مراجع



| | |
|---|---|
| ١. | الإحكام في أصول الأحكام لابن حزم الظاهري ، دار الآفاق الجديدة، بيروت . |
| ٢. | الإحكام في تمييز الفتاوى عن الأحكام للإمام القرافي، دار البشائر الإسلامية للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت – لبنان. |
| ٣. | الاختيار لتعليل المختار ، لابن مودود الحنفي (ت ٦٨٣هـ) ، دار المعرفة . |
| ٤. | الآداب الشرعية والمنح المرعية لابن مفلح المقدسي (المتوفى: ٧٦٣هـ) ، نشر عالم الكتب . |
| ٥. | الأدب المفرد للإمام البخاري، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي ، دار البشائر الإسلامية ، بيروت. |
| ٦. | إرشاد الفحول إلى تحقيق الحق من علم الأصول للشوكاني ، دار الكتاب العربي. |
| ٧. | إعلام الموقعين عن رب العالمين لابن قيم الجوزية ، تحقيق: طه عبد الرءوف، ط: دار الجيل، بيروت. |
| ٨. | الأعلام لخير الدين الزركلي (المتوفى: ١٣٩٦هـ) نشر: دار العلم للملايين. |
| ٩. | الإتقان في علوم القرآن للإمام السيوطي (المتوفى: ٩١١هـ) تحقيق: محمد أبو الفضل إبراهيم ، نشر: الهيئة المصرية العامة للكتاب . |
| ١٠. | الإفصاح عن معاني الصحاح لابن هُبَيْرَة الذهلي الشيباني، (المتوفى: ٥٦٠هـ)، تحقيق: فؤاد عبد المنعم أحمد ، ط: دار الوطن . |
| ١١. | الأم للإمام الشافعي ، ط: دار المعرفة ، بيروت. |
| ١٢. | بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ، لأبي بكر بن مسعود بن احمد الكاساني (ت ٥٨٧هـ) ، ط : دار الكتب العلمية، بيروت. |

| | |
|---|---|
| | |
| .١٣ | تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي ، دار الكتب العلمية ، بيروت. |
| .١٤ | جامع العلوم والحكم لابن رجب الحنبلي ، ط: دار المعرفة ،بيروت. |
| .١٥ | الرسالة للإمام الشافعي، تحقيق: الشيخ أحمد شاكر، دار الكتب العلمية ، بيروت. |
| .١٦ | رسائل ابن عابدين للعلامة محمد أمين أفندي الشهير بابن عابدين، تحقيق : محمد العزازي ، دار الكتب العلمية ، بيروت. |
| .١٧ | روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني للألوسي ، دار إحياء التراث العربي ، بيروت . |
| .١٨ | سنن ابن ماجه ، ط : دار الرسالة العالمية. |
| .١٩ | سنن أبي داود ، تحقيق : محمد محيي الدين عبد الحميد ، نشر: المكتبة العصرية ، صيدا ، بيروت . |
| .٢٠ | سنن الترمذي ، تحقيق وتعليق: أحمد محمد شاكر، نشر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي بالقاهرة. |
| .٢١ | سنن الدارقطني ، ط: مؤسسة الرسالة، بيروت ، لبنان. |
| .٢٢ | السنن الكبرى للبيهقي ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، لبنان. |
| .٢٣ | سير أعلام النبلاء لشمس الدين الذهبي (المتوفى :٧٤٨هـ) ، تحقيق: الشيخ شعيب الأرناؤوط ، نشر: مؤسسة الرسالة، بيروت. |
| .٢٤ | شذرات الذهب في أخبار من ذهب لابن العماد الحنبلي (المتوفى: ١٠٨٩هـ) ، نشر: دار ابن كثير، دمشق ، بيروت . |

| | |
|---|---|
| ٢٥. | شرح النووي على صحيح مسلم، نشر دار اخبار التراث العربي ، بيروت. |
| ٢٦. | شعب الإيمان للبيهقي ، دار الكتب العلمية ، بيروت . |
| ٢٧. | صحيح البخاري ، تحقيق: محمد زهير بن ناصر الناصر ، نشر: دار طوق النجاة ، بيروت، لبنان. |
| ٢٨. | صحيح مسلم ، تحقيق : محمد فؤاد عبد الباقي ، نشر: دار إحياء التراث العربي ، بيروت . |
| ٢٩. | طبقات الشافعية الكبرى ، تاج الدين عبد الوهاب بن تقي الدين السبكي (المتوفى: ٧٧١هـ) تحقيق: د. محمود محمد الطناحي ، نشر دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع. |
| ٣٠. | طرح التثريب في شرح التقريب لزين الدين العراقي، الطبعة المصرية. |
| ٣١. | علم أصول الفقه ، عبد الوهاب خلاف ، ط: مطبعة المدني بمصر. |
| ٣٢. | فتح الباري شرح صحيح البخاري لا بن حجر العسقلاني، نشر: دار المعرفة ، بيروت. |
| ٣٣. | قواعد الأحكام في مصالح الأنام لأبي محمد عز الدين بن عبد السلام، ط : دار المعارف ، بيروت. |
| ٣٤. | لسان العرب لابن منظور (المتوفى:٧١١هـ) دار صادر، بيروت. |
| ٣٥. | المستدرك على الصحيحين للحاكم ، دار الكتب العلمية ، بيروت. |
| ٣٦. | المستصفى لأبي حامد الغزالي ، تحقيق: محمد عبد السلام عبد الشافي، دار الكتب العلمية، بيروت. |
| ٣٧. | المستصفى من علم الأصول للغزالي، دار الكتب العلمية ، بيروت. |

| | |
|---|---|
| مسند الإمام أحمد ، ط : مؤسسة الرسالة . | ٣٨. |
| مسند البزار لأبي بكر أحمد بن عمرو العتكي المعروف بالبزار (المتوفى: ٢٩٢هـ) ، تحقيق: محفوظ الرحمن زين الله ، نشر: مكتبة العلوم والحكم - المدينة المنورة . | ٣٩. |
| المعجم الأوسط للطبراني ، ط : دار الحرمين ، القاهرة . | ٤٠. |
| المعجم الوسيط ، تأليف /إبراهيم مصطفى ـ أحمد الزيات ـ حامد عبد القادر ـ محمد النجار، تحقيق : مجمع اللغة العربية بالقاهرة . | ٤١. |
| المقاصد الحسنة للسخاوي ، ط: دار الكتاب العربي. | ٤٢. |
| المهذب في فقه الإمام الشافعي لأبي إسحاق الشيرازي (المتوفى : ٤٧٦) ، ط : دار الكتب العلمية ، بيروت. | ٤٣. |
| الموافقات للإمام الشاطبي ، دار ابن عفان ، الطبعة الأولى. | ٤٤. |
| النهاية في غريب الحديث والأثر لابن الأثير (المتوفى: ٦٠٦هـ) ، تحقيق: طاهر أحمد الزاوي ، ط: المكتبة العلمية ، بيروت . | ٤٥. |
| نيل الأوطار للعلامة محمد بن علي بن محمد بن عبد الله الشوكاني اليمني (المتوفى: ١٢٥٠هـ)، نشر: دار الحديث ، القاهرة . | ٤٦. |

# فهرست


سريزه ........................................ Error! Bookmark not defined.

د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په هکله د قرآن کريم ويناوي ........ Error! Bookmark not defined.

د احاديثو مرتبه او دليل ........................................ Error! Bookmark not defined.

د نوښت لازم والی ........................................ 29

د اسلامي رسالت بنسټ او د هغې په مقاصدو باندې د ځان پوهولو ضرورت ........ 38

سنت عبادات او د دونو او عاداتو پورې تړلي کارونه ........................ 44

د دولت په اداره کولو کې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم کړني ................ 49

د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د احاديثو په مقاصدو باندې د پوهې تطبيقي نموني ........ 53

لومړنی نمونه او بيلګه د مسواک په هلکه په راغليو احاديثو باندې پوهه ........ 54

د پلي والي دوهمه بيلګه د خوب د ځای د پاکوالي په هکله د حديثونو پوهه ........ 56

دريمه بيلګه او نمونه د كاليو او جامو د اوږدالي په هکله په راغليو احاديثو باندی پوهيدنه ........ 59

څلورمه نمونه او بيلګه د سرسايي په هکله راغليو احاديثو باندې پوهيدنه ........ 63

پنځمه بيلګه او نمونه په لوی اختر کې د قربانۍ په احاديثو باندې پوهيدنه ........ 67

شپږمه بيلګه او نمونه د بل چا لپاره د اودريدو په هلکه راغلي احاديثو باندې پوهيدنه ........ 71

مهم مآخذونه او مراجع ........................................ 73

# د کتاب لنډه پېژندنه

ددغه کتاب موخه دا ده ترڅو په عام ډول د شریعت د بشپړو مقصدونو او په ځانګړې ډول د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د حدیثونو د مقاصدو د پوهې پر اهمیت باندې رڼا واچوي، چې په ترڅ کې د هر نص او یو له بل سره اړه لرونکو بیلابیلو نصونو په مقصد باندې پوه شو او د هغې لوړې موخې لاسته راوړو پداسي ډول چې د نص د لوستنې او د هغې د معنی په پوهه او همدارنګه د ځینې جزئي احکامو په را ویستلو کې د وخت ځای د خلکو د احوالو عرفونو او د هغوی دودونو ته پاملرنه وکړو.

دغه کتاب د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د احادیثو ځینې نمونې اوسنې زماني ته د پاملرني سره سم وړاندي کوي او پدي ټینګار کوي چې مونږ ډیره زیاته اړتیا لرو ترڅو د اوسنې زماني د واقعیتونو بدلونونو او نوښتونو په رڼا کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د پاکو احادیثو نوی څیړنه وکړو.

دغه کتاب مونږ ته د ځیني پخوانیو علماؤ نظر را برڅیره کوي چې د نوښت په اهمیت د ځای او وخت د بدلونونو پاملرني ته یي خبرداری ورکړی د ثابت نص او بدلیدونکي نص ترمنځ همدارنګه د نص او د هغې د شرحي ترمنځ یي توپیر کړی، او پدې کې یي ښکاره نظر ورکولو چې زمونږ د اوسني زماني د ډیرو علماؤ څخه یي په نوښت باندي په ډیر شجاعت او پوهي سره ګامونه پورته کړي دي.

همدارنګه دغه کتاب پدي باندي ټینګار کوي چې ځیني تندروي ډلې زمونږ د تراثو جزئي او د خپل فکر او ایډیالوجی مطابق مطالعه کوي، او د رڼا او پوهي څخه ډکو ډیری رایو ته پاملرنه نکوي نو په مونږ دا لازمي ده چې ددغو ډلو مخنیوی وکړو او د هغوی په وړاندې په زغرده ودریږو، له یو اړخه ددغه تندرو ډلو دا ډول کړنې مونږ ته د دوی اصلي څیره را برڅیره کوي چې د نصونو جزئي مطالعه او د خپل ایډیالوژي مطابق ترسره کوي او له بل اړخه د نوښت لاره مونږ ته روښانه کوي او زمونږ په وړاندي د نوښت لپاره نوي ډګرونه پرانیځي.